د کمپ مدیریت
لږترلږه
معیارونه



# د کمپ مدیریت لپاره لږترلږه معیارونه

۲۰۲۱ نسخه

# لیک لړ


د کمپ د مدیریت لپاره لړترلړه معیارونه ........ iii
د کمپ د مدیریت لړترلړه معیارونه د چا لپاره دي؟ ........ iv
د معیارونو جوړښت ........ v
منلیک ........ viii
پېژندګلوي ........ 2
په مؤقتو ساحو کې څوک پاتې کېږي؟ ........ 2
ساحوي مدیریت څه شی دی؟ ........ 4
ساحوي مدیریت ته ولې اړتیا ده؟ ........ 4
دا معیارونه چېرته پلي کېږي؟ ........ 5
بشردوستانه منشور، بشردوستانه اصول او د خوندیتوب اصول ........ 8
کمپونه د وروستي غوراوي په توګه ........ 10
د وروستي حل وړاندې کوونکي ........ 11
1. د ساحوي مدیریت پالیسی او ظرفیتونه ........ 13
2. د ټولنې ګډون او استازیتوب ........ 22
3. د ساحې چاپېریال ........ 31
4. د ساحې د خدمتونو همغږي او څارنه ........ 38
5. خروج او انتقال ........ 45
۱ ضمیمه – د معلولیت د شمولیت د څارنې چیک لست ........ 52
د ساحې د مدیریت ظرفیتونه او په ګوته کول ........ 52
ګډون او استازیتوب ........ 53
د ساحې چاپېریال ........ 55
د ساحې د خدمتونو همغږي او څارنه ........ 55
خروج او انتقال ........ 57
مأخذونه ........ 58
لنډیزونه ........ 61
نوملړ ........ 62

# د کمپ د مدیریت لپاره لږترلږه معیارونه

په بشري ناورین کې، کمپونه او کمپونو ته ورته ځایونه یواځیني ځایونه وي چې داخلي بېځایه شوي خلک او کډوال ورته د خوندیتوب او مرستې لپاره ورتللی شي.

**د کمپ مدیریت لپاره دا لږترلږه معیارونه هغه** لږترلږه کړنې تشریح کوي چې په ساحه کې دننه د معنی لرونکې ښکېلتیا د ملاتړ او همدا ډول د سکتورونو او ادارو ترمنځ د همغږۍ او پلان جوړولو لپاره اړینې دي. د دوی موخه د ساحې د مدیریت د ادارو د نقش روښانول دي چې په ورځنۍ توګه په بشري ساحو کې کار کوي او د یاد کار لپاره د کیفیت د لږترلږه کچو ټاکل دي. که څه هم دې ته د کمپ د مدیریت د لږترلږه معیارونو نوم ورکول شوی دی، خو دا معیارونه پر ټولو هغو شرایطو صدق کوي چې بېځایه شوي خلک ورته د سرپناه، خوندیتوب او نورو مرستو لپاره رجوع کوي، او د "ساحې" اصطلاح په عمومي ډول کارول کېږي، مګر دا چې مطلب ترې په ځانګړې توګه د کمپ وضعیت وي.

دا معیارونه پر دې اساسي عقیده بنا دي **چې باید د ټولو بېځایه شوو خلکو د حقونو درناوی وشي او اړتیاوې یې په داسې توګه پوره کړل شي چې د دوی عزت په کې خوندي وي.**

د ساحوي مدیریت اداري لخوا د ترسره شوي کار د کیفیت اندازه کولو لپاره یو لړ معیارونو ته له ډېره وخته اړتیا وه. په ۲۰۰۲ کې، د ساحوي مدیریت کلیدي ادارو او ساحوي متخصصینو د ګډو معیارونو او پالیسیو په اړه د موافقې نشتوالی او د مرستې او خوندیتوب ناکافي ثابته شوې کچه درک کړه. دوی د کمپ مدیریت کې د شریکو لارښوونو او وسیلو اړتیا درک کړه، چې په پایله کې یې د ۲۰۰۴ کال د کمپ مدیریت کڅوړه چمتو شوه. نن ورځ، دا کڅوړه د ساحوي مدیریت اړوند هراړخیزې پوهې او زده کړل شوو درسونو لپاره یوه پیژندل شوې مرجع ده. نور لارښودونه او کتابونه یې په تعقیب چمتو شول، په ځانګړې توګه د داخلي بېځایه شویو خلکو د خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) د ۲۰۱۰ لارښود کتاب. د ساحوي متخصصینو وروستۍ غوښتنې، او د اغېزناکې ګډې پالیسۍ چوکاټونو رامنځته کولو لپاره د نړیوالو کلسترونو اصلي اهداف، د دې لامل شو چې د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت (CCCM) کلستر په ۲۰۱۶ کې یوه پروژه پیل کړي چې لږترلږه سکتوري معیارونه رامینځته کړي.

د کمپ مدیریت لپاره لږترلږه معیارونه په ساحه کې د پراخې مشورې، آنلاین سروې، د متمرکزو ډلې ییزو بحثونو، بیاکتنو او د متخصصینو د مشورو پایلې دي. د معیارونو اړوند نظرونو راټولولو لپاره له بېځایه شویو خلکو، مخکښو عملیاتي همکارانو او حکومتي همکارانو سره په فعاله توګه مشورې شوې دي. د دې په درک کولو سره چې کمپونه او د بېځایه توب نور ځایونه د بشري غبرګون د لوی اکوسیستم برخه ده، دا معیارونه د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت په تخنیکي سکتور، لکه د کمپ مدیریت کڅوړه او د داخلي بېځایه شوو خلکو د خوندیتوب کتاب، کې موجود لارښوونکو اسنادو او د بشري معیارونو د شراکت اصلي سرچینو ته مراجعه کوي، لکه د سفییر لارښود. په دې طریقې سره، دوی هغو خلکو ته لارښوونې وړاندې کوي چې د بېځایه توب په ساحو کې کار کوي چې د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت له مسلکیانو څخه د څه توقع ولري او له هغو ساحوي مدیرانو سره مرسته کوي چې دې سکتور ته نوي راغلي وي.

## د کمپ مدیریت لږترلږه معیارونه د چا لپاره دي؟

د دې معیارونو لومړني هدف شوي مخاطبین **ساحوي مدیران او د دوی ټیمونه** دي، دا هغه کارکوونکي دي چې هره ورځ د بېځایه توب ساحو کې کار کوي.

همدا ډول دا معیارونه د نورو هغو کسانو د کارولو لپاره هم دي چې د خپل عادي ژوند په ساحو کې د بېځایه شویو خلکو سره کار کوي. په دې کې هغه کسان شامل دي چې په مستقیم ډول او هره ورځ د بېځایه شویو خلکو سره کار کوي، پلان جوړوونکي او پالیسي جوړوونکي، تخنیکي متخصصین، همغږي کوونکي، بسپنه ورکوونکي، اکادمیک اشخاص او هغه کسان چې په وکالت، رسنیو یا مخابراتو کې کار کوي.

شرایطو ته په کتلو سره، د دې لږترلږه معیارونو د تحقق په خاطر، د ساحې مدیریت مختلفو اداري تګلارو ته اړتیا لیدل کېږي. د دې خبرې په درک کولو سره، دا معیارونه د "ساحوي مدیریت اداري" (SMA) عمومي اصطلاح کاروي چې د ساحوي ټیمونو د بېلابېلو جوړښتونو بشپړې سلسلې ته مراجعه وکړي. په دې کې لاندې اداري شاملې دي:

- د کمپ مدیریت دودیزه اداره، چې د بېځایه شویو ټولنو د حکومتولۍ جوړښتونه تنظیموي او د بشري یا نورو ادارو (لکه خصوصي ادارو او محلي چارواکو) لخوا چمتو شوې مرستې او خدمتونه همغږي کوي؛
- د کمپ مدیریت ګرځنده اداره، چې خورو ورو، بې شمېره او کم جوړښت لرونکو ساحو ته د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت خوابونو پر مطابقت باندې تکیه کوي چې د کمپ د مدیریت اداري دایمي شتون په کې ممکن یا مطلوب نه وي. اداره په دې ساحو کې له اوسیدونکو بېځایه شویو خلکو سره له نږدې کار کوي چې د دوی اړتیاوو ته ګڼ-سکتوري غبرګون تنظیم کړي. دا په عمده توګه د مختلفو اندازو او منتشرو ځایونو د ټولنیزو ساحو پر اداره کولو او همغږي کولو تمرکز کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې د سیمې اوسیدونکي د غبرګون په اداره کولو کې برخه اخلي. که اړتیا وي، کولی شي پراخ نفوس هم په نښه کړي چې په نورو سیمو کې ژوند کوي چې د ساحې پر بنسټ د همغږي غبرګون ډاډ ورکړي؛ او
- د ساحوي مدیریت ملاتړ، چې یو ملي، دولتي یا ټاکل شوي دولتي همکار یا ټاکل شوې ځایي اداري ته وړاندې کېږي، چې هلته اضافي مرستې ته اړتیا وي. د ساحوي مدیریت ملاتړ ټیم د ټاکل شوي ساحوي مدیریت ظرفیتونو پیاوړي کولو لپاره ملاتړ وړاندې کوي ترڅو دوی وکولی شي خپلې دندې او مسؤلیتونه وړاندې کړي. په دې کې د ځینو کارونو ملاتړ شاملیدلی شي لکه، ورځنۍ همغږي او د مرستې او خدمتونو وړاندې کولو څارنه؛ روزنه او د مهارتونو لوړول، چې په مناسبو ابزارو؛ او اړوندو وسایلو سره یې وړاندې کول هم په کې شامل دي.

## د معیارونو جوړښت

د کمپ د مدیریت لږترلږه معیارونه، د نورو بشري معیارونو په څېر، یو مشترک جوړښت لري، چې (د لږترلږه معیار) په نړیواله اعلامیه باندې د پوهاوي لپاره له لوستونکي سره مرسته وکړي، ورپسې یو لړ کلیدي کارونه، او د ترلاسه کولو لپاره کلیدي شاخصونه او لارښود نوټونه موجود دي.

- **لږترلږه معیارونه** د بېځایه شویو خلکو د حقونو له اصولو څخه اخیستل شوي دي. دا د عمومي او لوړ کیفیت ماهیت لرونکي دي، چې په هر بحران کې د ترلاسه کولو لپاره لږترلږه حدونه په ګوته کوي.
- **کلیدي کارونه** یا کړنې د لږترلږه معیارونو ترلاسه کولو لپاره عملي ګامونه په ګوته کوي. دا وړاندیزونه دي او شایي په ټولو شرایطو کې پلي نشي. متخصص باید د وضعیت لپاره ترټولو اړونده ترې غوره کړي.
- **کلیدي شاخصونه** د سیګنالونو په توګه کار کوي چې د معیارونو پوره کول اندازه کوي. دوی داسې لاره وړاندې کوي چې له معیار سره سم او د غبرګون په دوران کې د پروسو او پروګرامونو پایلې وپوښي. لږترلږه کمیتي غوښتنې د شاخصونو لپاره د لاسته راوړنې ترټولو ټیټه د منلو وړ کچه ده او یوازې هغه وخت په کې شاملېږي چې سکتوري اجماع موجوده وي.
- **لارښود نوټونه** د نورو معیارونو، لارښوونو او وسایلو په وړاندې په تقاطعي-حوالې سره د کلیدي کړنو د ملاتړ لپاره اضافي معلومات وړاندې کوي.

### له کلیدي شاخصونو سره کار کول

کلیدي شاخصونه د اندازه کولو یوه لاره ده چې ایا معیار ترلاسه کېږي او که نه، او باید پخپله د معیار سره مغشوش نشي. معیار نړیوال دی، مګر کلیدي شاخصونه، باید د کلیدي کړنو په څېر، د غبرګون شرایطو او پړاوونو ته په کتلو سره، نوره هم پراختیا ومومي.

شاخصونه په درې ډوله دي:

- **د پروسې شاخصونه** ګوري چې آیا لږ تر لږه شرایط پوره شوي دي که نه.
- **د پرمختګ شاخصونه** د اندازه کولو واحد وړاندې کوي چې د معیار ترلاسه کول وځاري. دوی باید د اساسي کرښو د ټاکلو لپاره وکارول شي، له همکارانو او سهم لرونکو سره هدفونه وټاکي، او د دې هدف په لور بدلونونه وځاري؛ او
- **د هدف شاخصونه** هغه هدفونه دي چې لږترلږه وړ اندازه ښیي چې تر هغه ښکته معیار نه پوره کېږي. دا هدفونه باید ژر تر ژره ترلاسه شي، ځکه چې پاتې راتلل به یې ټول پروګرام له ستونزو سره مخ کړي.

معیارونه په ټولو ډومینونو کې کمیتي او کیفیتي شاخصونه کاروي. هغه شاخصونه چې کیفیت لرونکي معلومات اندازه کوي، لکه د قناعتی یا لیدلوري شاخصونه، د دې لپاره په کې شاملېږي چې په ځانګړې توګه د ساحې نفوس ته د حساب ورکونې پیاوړتیا لوړه کړي، او د داسې پروګراماتیکو بدلونونو په لاره اچولو او پراختیا کې مرسته وکړي چې د ساحوي مدیریت اداري یې باید رامنځ ته کړي چې له معیارونو سره سمون ومومي.

د جنس، عمر او معلولیت پر بنسټ وېشل شوي ډېټا، لږترلږه، د پروګرام مدیرانو او پرېکړه کوونکو ته اجازه ورکوي چې د خدمتونو وړاندې کول، چلند او د خدمتونو پایلې په ژوره توګه وڅېړي. د شرایطو په پام کې نیولو سره ښایي نور وېش ته هم اړتیا ولیدل شي.

### "لږترلږه" څه معنی، او که پوره نشي نو څه به وشي؟

د کمپ د مدیریت لپاره لږترلږه معیارونه پر هغه اساسي عقیده بنا دي چې **د ټولو بېځایه شویو خلکو حقونو ته باید درناوی وشي اواړتیاوې یې په داسې طریقه پوره شي چې د دوی عزت په کې خوندي وي.** د دې چارې په ترسره کولو کې، دا معیارونه لږترلږه معیارونه دي او تل ثابت دي. مګر کلیدي کړنې او شاخصونه باید د عملیاتي ساحو د شرایطو په پام کې نیولو سره معنی لرونکي او د سیمې د بېځایه شوو خلکو یا کوربه ټولنې له نظرونو سره سم وي. د ساحې ژوندانه په دوران کې شرایط هم بدلېږي، نو ځکه یې باید تناسب ته د وخت په تیریدو سره بیاکتنه وشي.

د ساحوي مدیریت اداري باید هڅه وکړي چې له دې لږترلږه حد څخه پورته اوسي، او د امکان تر حده ډیری ډلې او دوی ځانګړي اړتیاوې په ګوته کړي. داسې نشي انګیرل کیدلی چې مرستې یو بې طرفه فعالیت دی چې ټول خلک په مساوي توګه اغیزمنوي. د مرستې رسولو شرایط او طریقه پر دې اغیز لري چې آیا د زیانمنو شوو خلکو بشري حقونو او اړتیاوو ته درناوی شوی او پوره شوې دي که نه. له همدې امله، د بشري حقونو پر بنسټ تګلاره د بشري مرستو د فعالیتونو لپاره چوکاټ او اړین معیارونه وړاندې کوي.

په هغه حالتونو کې چې معیارونه پوره شوي نه وي، د لږترلږه شرایطو د کمولو وړاندیز باید په دقت سره وڅیړل شي. د ساحوي مدیریت اداري باید د یوې پروسې مشري وکړي چې په ټولیز ډول د هر ډول کمښت سره موافقه وکړي او د لږترلږه شرایطو په وړاندې په حقیقي پرمختګ کې د کمښت راپور ورکړي. پر دې باید د بېځایه شویو خلکو، کوربه ټولنو، په ساحه کې موجودو ادارو او نورو کلیدي سهم لرونکو لخوا موافقه وشي. بشردوستانه اداري باید د معیارونو د نه پوره کیدلو له امله پر خلکو باندې منفي اغیزې هم وارزوي او د زیان د کمولو لپاره ګامونه پورته کړي. د ساحوي مدیریت اداري باید د غبرګون دا تشه د اډووکیسي لپاره وکاروي او هڅه وکړي چې ژر تر ژره شاخصونه ترلاسه کړي.

### په عملي شرایطو/وضعیت کې د معیارونو کارول

بشردوستانه غبرګونونه په مختلفو شرایطو کې ترسره کیږي. ډیری عوامل پر دې اغېز لري چې څنګه په عملیاتي چاپېریال کې معیارونه پلي کړل شي ترڅو په عزت سره د ژوند د حق ملاتړ وکړل شي. په دې کې لاندې موارد شاملیدلی شي:

- هغه چاپېریال چې بشردوستانه غبرګون په کې وړاندې کیږي؛
- د وګړو تر منځ توپیرونه او تنوع؛
- عملیاتي او لوجستیکي واقعیتونه چې پر دې اغیز کوي چې څنګه او څه ډول بشردوستانه غبرګون وړاندې کړل شي؛ او
- هغه اساسي کړنې او شاخصونه چې له شرایطو/وضعیت سره مناسب وي - په داسې حال کې چې کلیدي اصطلاحات تعریف شوي او هدفونه ټاکل شوي اوسي.

کلتور، ژبه، د ځواب ویونکو ظرفیت، امنیت، لاسرسی، د چاپیریال شرایط او سرچینې ټول غبرګون اغېزمنوي. دا هم مهمه ده چې د غبرګون د احتمالي منفي اغیزو اټکل وکړل شي او د محدودولو لپاره یې لاس په کار شي. د کمپ مدیریت لپاره لږترلږه معیارونه د کیفیت او حساب ورکونې یو داوطلبانه کوډ دی چې د معیارونو د پراخه ممکنه کارونې او مالکیت هڅولو لپاره طرحه شوی دی. دا د "طریقې ښودلو" لارښود نه دی بلکه د هغه څه توضیحات دي چې باید په عزت سره د خلکو د را ښه کیدلو او له بحران څخه راوتلو لپاره د لږترلږه معیارونو په توګه پلي کړل شي. له معیارونو سره مطابقت د ټولو کلیدي کړنو پلي کول یا د ټولو معیارونو د ټولو کلیدي شاخصونو پوره کولو معنی نلري. د یوې اداري لخوا د معیارونو پوره کولو درجه په یو لړ فکتورونو پورې اړه لري، چې ځینې یې د دوی له کنټرول څخه بهر دي. زیانمنو شوو خلکو ته د لاسرسي نشتوالی، یا سیاسي یا اقتصادي ناامني ښایي د معیارونو ترلاسه کول ناشوني کړي. په هغو حالتونو کې چې لږترلږه شرایط د کوربه ټولنې د ژوند شرایطو څخه تجاوز کوي، د ساحوي مدیریت اداري باید وارزوي چې څنګه احتمالي فشارونه کم کړي، د بېلګې په توګه د ټولنې پر بنسټ خدمتونو په وړاندې کولو سره. په ځینو حالتونو کې، ملي اداري ځینې لږترلږه شرایط وضع کولی شي چې له معیارونو څخه لوړ وي.

## له نورو معیارونو سره یې تړاو

د کمپ د مدیریت لږترلږه معیارونه د بشردوستانه مرستو ټول اړخونه نه پوښي چې د باعزته ژوند د حق ملاتړ کوي. همکارو ادارو په ډېری سکټورونو کې، د دې معیارونو ټولګې ته د ورته فلسفې او ژمنتیاوو پر بنسټ تکمیلي معیارونه چمتو کړي دي. دا ټولګې د سفییر، د بشردوستانه معیارونو مشارکت او د هغه همکارو ادارو دیب پاڼو له لارې ترلاسه کولی شئ.

- د سفییر لارښود؛ بشردوستانه منشور او په بشردوستانه غبرګون کې لږترلږه معیارونه: د سفییر (Sphere) ټولنه
- د مالدارۍ بیړنۍ لارښوونې او معیارونه: د LEGS پروژه
- په بشردوستانه عمل کې د ماشومانو د خوندیتوب لپاره لږترلږه معیارونه (CPMS): په بشردوستانه عمل کې د ماشومانو د خوندیتوب اتحاد
- د زده کړې لږترلږه معیارونه: چمتووالی، غبرګون، بیا رغیدنه: په بیړنیو حالتونو کې د زده کړې لپاره بین الاداري شبکه (INEE)
- د اقتصادي بیا رغیدنې لږترلږه معیارونه (MERS): د کوچنیو تصدیو د تعلیم او ترویج (SEEP) شبکه
- د بازار د تحلیل لپاره لږترلږه معیار (MISMA): د نغدي زده کړې ملګرتیا (CALP)
- د زړو خلکو او معلولیت لرونکو خلکو لپاره د بشردوستانه شمولیت معیارونه: د عمر او معلولیت کنسورتیوم

**د کمپ مدیریت د لږترلږه معیارونو لپاره تکمیلي معیارونه**




سرچینه: وان سوفونپانیچ/ د کډوالۍ نړیواله اداره ۲۰۲۰

## منښلیک

د کمپ مدیریت د معیارونو کاري ډله غواړي چې د نړۍ له ۸۵۰ څخه زیاتو کسانو څخه مننه وکړي چې د دې معیارونو په پراختیا کې یې مرسته کړې ده.

په بنګله دیش، عراق، سومالیا، جنوبي سوډان او ترکیه کې ساحوي مشورې ترسره شوې، چې تر څنګ یې په ارجنټاین، بولیویا، برازیل، کولمبیا، کوسټاریکا، د ډومینیکا جمهوریت، ایکوادور، ایلسلوادور، ګواتیمالا، هاندوراس، مکسیکو، پاناما، پیرو او وینزویلا کې د انلاین ویډیو کنفرانسونو مشورې ترسره شوې. دا چاره د بېځایه توب ساحو په اداره کولو کې د اړینې تنوع او ځانګړتیاوو په ښه توګه منعکس کولو لپاره اړینه وه.

د "له موږ پرته، موږ هیڅ یو" هغه جمله ده چې موږ ته ګرانه ده او غواړو په ځانګړې توګه په جنوبي سوډان او بنګله دیش کې د بېځایه شویو خلکو (او نورو چې په مستعار ډول یې آنلاین مرسته کړې) څخه مننه وکړو چې د بېځایه توب ساحو کې یې د ژوند کولو لومړی لاس تجربې له موږ سره شریکې کړې دي او هغه لارې یې راښودلې دي چې دا معیارونه په ښه توګه یاد واقعیتونه منعکس کړي.

زموږ د لاندې همکارانو څخه هم مننه کوو چې د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت کلسترونو د ملي کاري سکتوري ګروپونو یا نورو بشري سکتورونو د غړو په توګه یې د دې معیارونو اړوند مشورو او مرستو کې مرکزي نقش لوبولی دی.

| | |
|---|---|
| (ACT) ائتلاف/کریسشین ایډ او دانچرچ ایډ | ډان باسکو کاتولیک چرچ |
| ACTED | السلوادور ملکي خوندیتوب |
| ADRA | نړیوالې ټولنې |
| Afod | هینډ این هینډ-سوریه |
| د اروکا ولایت | هیلت لینک-جنوبي سوډان |
| عطا ریلیف | هولډ د چایلډ |
| بارزاني خیریه بنسټ | د بشري هوساینې بنسټ |
| بلومونټ | د بشري معیارونو همکاران |
| برک | امپکټ انیشیاټیف |
| پاملرنه | د بین الاداري همغږۍ ډله |
| کاریتاس بنګلدېش | د کډوالۍ نړیواله اداره |
| کاریتاس عراق | انټرسوس د بشري مرستو اداره |
| Casa del Migrante de Saltillo | د کردستان د منطقوي حکومت د بحران د ګډې همغږۍ مرکز (JECC) |
| د سره صلیب نړیواله کمېټه | مرام خیریه او پراختیایي بنسټ |
| د خلکو د ظرفیت لوړونې نړیواله کمېټه (CISP) | د مرستې او پراختیا لپاره میرسي-یو ایس ای |
| Fundación Colombia Nuevos Horizontes | د بشري مرستو او پراختیا لپاره موزون |
| COOPI - نړیواله همکاري | د پیرو د ملکي دفاع نړیوال انسټیټیوټ (INDECI) |
| کډوالو لپاره د ډنمارک پلاوی | د ماشومانو د خوندیتوب مؤسسه (SCI) |
| په لاتیني امریکا کې د سره صلیب ملي ټولنې | سکالابریني د کډوالۍ مرکز |
| NORCAP | د ساحې د ساتنې او انجینرۍ پروژه (SMEP)، بنګلدیش |
| د شمالي جبهې د ځوانانو لیګ (NoFYL) | د ځوانو سومالي ډاکټرانو ټولنه (SOYD) |

| | |
|---|---|
| کډوالو لپاره د ناروې پلاوی NRC) | د جنوبي سوډان پراختیايي اداره (SSUDA) |
| د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره (OCHA) | د انتقال مرکز: البرګ لا ساګرادا فامیلیا، مکسیکو |
| پلان انټرنیشنل | د انتقال مرکز: البرګ د میګرانتیس هرمانوس ان ایل کامینو، مکسیکو |
| پواینټ ارګانایزېشن | د ترکیې د سرې میاشتې ټولنه |
| د قطر د سرې میاشتې ټولن | یونیسیف |
| ریډ کلامر | د ملګرو ملتونو د سولې فعالیتونو څانګه |
| د کډوالو د هوساینې او راستنیدې کمېشنري (RRRC)، بنګلدېش | د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره (UNHCR) |
| RIADIS | وایلیټ ارګانایزېشن |
| RNVDO | د سولې او ژوند لپاره ښځینه مخکښې (HINNA) |
| سعید خیریه ټولنه | د خوراکي توکو نړیوال پروګرام |
| سماریتان پرس | د ځوانانو د فعالیت اداره (AYO) |
| د سومالي مېرمنو او ماشومانو ژغورنې غورځنګ (SSWC) | |

بد کډوالۍ نړیوالې ادارې، کډوالو لپاره د ډنمارک پلاوي او د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې لخوا یې د تمویل چارې ترسره شوې دي.

د دې معیارونو ازمایښتي نسخې په سومالیا او سوریه کې کارول شوي او په اندونیزیا کې د ځایي نادولتي موسسو لپاره د ظرفیت لوړولو د بنسټ په توګه کار کوي.

د کډوالۍ نړیوالې ادارې او د کډوالو لپاره د ډنمارک پلاوي څخه هم مننه چې د جینیفر کلین کورنمو او ټام سټارک سره یې د کاري ډلې، مشورې او مسودې پروسې  په همغږۍ او مدیریت کې مرسته کړې ده.

د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت ستراتیژیک مشورتي ګروپ، سارا ریبیرو فیرو، ایریکا کاراپنډې، او ډیویډ پریکس په پخوانیو مسودو کې مرسته کړې وه او پراخې تبصرې یې وړاندې کړې دي، پداسې حال کې چې کیټ ډایر، د بشردوستانه معیارونو همکارانو او د بشردوستانه مرستو او خوندیتوب (PHAP) په برخه کې مسلکیانو یې هم په نهایي کولو کې مرسته وکړه. د ګرافیک ډیزاین د هیومن اتلیر لیویا میکولیک لخوا ترسره شوی دی.

په پای کې، موږ د ټولو هغو نارینه وو، ښځو او ماشومانو په اړه فکر کوو چې نن ورځ بېځایه شوي او په لنډمهاله استوګنځایونو کې ژوند کوي. مهاجرینو، کډوالو او پناه غوښتونکو، کاشکې موږ ستاسو عزت وساتلی شو چې تاسو ژر تر ژره خپلو کورونو ته ورسیږئ. تاسو زموږ په بشردوستانه کار کې موږ ته الهام رابخښئ.

# پێڕندگلوی

# پېژندګلوي

## په مؤقتو ساحو کې څوک پاتې کېږي؟

په بېځایه شویو وګړو کې شایي څینې ډلې ځانګړي اړتیاوې ولري؟ د سفیير لارښود او د نورو بشردوستانه معیارونو د همکارانو د لارښود په څېر، د کمپ مدیریت لړترلړه معیارونو په دې لارښود کې په پراخه معنی د "خلکو" اصطلاح کارولې ده. "خلک" هغه څوک دي چې ساحوي مدیران ورسره مرسته کوي چې کله دوی په مؤقت ډول په مؤقتو استوګنځایونو کې اوسیږي، او ټول اشخاص د باعزته د ژوند حق لري. په "خلکو" کې ښځې، نارینه، هلکان او نجونې شاملې دي، پرته له دې چې د دوی عمر، معلولیت، قومیت، توکم، روغتیايي حالت، سیاسي تړاو، جنسي تمایل، جنسیت، یا نورې ځانګړتیاوې چې دوی یې د ځان د تعریف لپاره کاروي، په پام کې ونیول شي.

د ساحې په کچه د همغږۍ له لارې، د ساحوي مدیریت اداري د ټولو هغو کسانو لپاره د خوندي چاپیریال تامینولو مسولیت لري چې په ساحه کې پاتې کیږي. ټول خلک به مساوي واک او ځواک او سرچینې ونه لري، په ځانګړې توګه په مؤقتو ساحو کې چې د ډیرو کلونو لپاره دوام کوي. د ساحې د ژوند دوران په اوږدو کې به افراد او ډلې مختلف ظرفیتونه، اړتیاوې او زیانمننې ولري چې د وخت په تیریدو سره بدلون مومي. دا او نور عوامل کیدای شي د قصدي تبعیض اساس هم وي. د ساحوي مدیریت اداري باید د افرادو او په ځانګړې توګه د زیانمنونکو ډلو د اړتیاوو توازن ته ځانګړې پاملرنه وکړي، په داسې حال کې چې د بې طرفۍ اصل یې هم مراعات کړی وي. د مؤقتو استوګنځایونو د مدیریت په برخه کې مشورو، د پروګرام ډیزاین، په خالیګاوو کې د اړتیاوو څارنې او مرستې ته ځانګړې پاملرنه ډېره مهمه ده.

| د نفوس کټګورۍ | ځانګړې اړتیاوې لرونکې ډلې |
|---|---|
| ماشومان | بې سرپرسته او جلا شوي ماشومان<br>هغه ماشومان چې په وسلوالو ځواکونو یا ډلو پورې تړلي وي<br>د کورنۍ ماشوم سرپرستان<br>ماشومان مېړونه/مېرمنې<br>امیدوارې نجونې<br>د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قرباني ماشومان |
| تنکي ځوانان | له ښوونځي بهر او بې روزګاره تنکي ځوانان<br>هغه تنکي ځوانان چې پخوا یې له وسلوالو ځواکونو یا ډلو سره تړاو درلود |
| ښځې | د کونډو په شمول د کورنۍ ښځینه سرپرستانې<br>ښځې چې د نارینه وو ملاتړ ونلري<br>هغه ښځې چې پخوا یې له وسلوالو ځواکونو یا ډلو سره تړاو درلود<br>د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قربانیانې<br>امیدوارې ښځې او شیدې ورکوونکې میندې |

| | |
|---|---|
| زاړه اشخاص | هغه زاړه اشخاص چې کورنۍ یا د ټولنې ملاتړ ونلري<br>او/یا تر ۱۸ کلونو کم عمره ماشومانو مسؤلیت ولري |
| هغه اشخاص چې له ناروغۍ، یا تروما څخه اغېزمن شوي | ناروغ اشخاص چې د کورنۍ یا ټولنې ملاتړ ونلري<br>هغه اشخاص چې د ایچ آی وي/ایډز په خطر کې وي<br>یا پرې اخته وي<br>د شکنجې قربانیان |
| د لږه کیو ډلې | نژادي او ملیتي لږه کي<br>مذهبي لږه کي<br>ژبني لږه کي<br>کوچیان/ پوونده ډلې<br>همجنسبازان |
| سړې | محروم ځوانان/سړې<br>د جنسي تاوتریخوالي نارینه قربانیان<br>د کورنۍ یواځې نارینه سرپرستان |
| معلولیت لرونکي اشخاص | د بدني معلولیت لرونکي اشخاص<br>د حسي معلولیت لرونکي اشخاص<br>د ټولنیزرواني یا ذهني معلولیت لرونکي اشخاص |

⊗ د ځانګړو اړتیاوو لرونکو ډلو ته د مرستې او خوندیتوب په وړاندې کولو کې د ساحوي مدیرانو د نقش په اړه د کمپ مدیریت کڅوړې ۱۱ څپرکی، او د تعریفونو او لا زیاتو لوستلو لپاره د سفییر لارښود ۲۰۱۸، مخ ۱۶-۱۰ ولولئ.

## ساحوي مدیریت څه شی دی؟

ساحوي مدیریت په هغو ځایونو کې د خدمتونو، خوندیتوب او مرستې وراندې کولو همغږي او څارنه ده چې بېځایه شوي خلک ورځي. د ټولنیزې اداري او اشتراکي سیستمونو له لارې د قانوني خوندیتوب چوکاټ او لږترلږه بشردوستانه معیارونو په پلي کولو سره، ساحوي مدیریت هم تخنیکي او هم ټولنیز دی. د دې موخه د ډاډ ترلاسه کول دي چې په ټولنیزو فضاوو کې وړاندې کیدونکي خدمتونه او خوندیتوب د ملي او نړیوالو قوانینو، لارښوونو او منل شویو معیارونو سره سم دي، ترڅو د بې ځایه کیدو پرمهال د ژوند کیفیت او عزت لوړ کړي او د تلپاتې ("پایښت لرونکو") حل لارو لپاره غړ پورته کړي.

د "ساحې" اصطلاح په دې سکتور کې ډېری وختونه د کمپونو او د کمپ په څیر تنظیماتو لپاره کارول شوې ده، چې په کې پلان شوي کمپونه، خپل سري کمپونه، ډله ییز مرکزونه، د استقبال او انتقال مرکزونه، او د تخلیې مرکزونه شامل دي - او دا اصطلاح د دې سند په اوږدو کې کارول کیږي. په هغو ځایونو کې چې د ساحې ځانګړتیاوو کې توپیرونه د ورځنۍ مدیریت فعالیتونه او معیارونه اغیزمنوي، دا په لارښودنوټونو کې تشریح شوي دي. ساحې هغه ځایونه دي چې په کې خدمتونه، زیربناوې او سرچینې شریکې او په ګډه اداره کیږي. د دې چارې د ترلاسه کولو لپاره، د ټولو سهم لرونکو ترمنځ د ساحې په کچه اغېزناک همغږي د ساحوي مدیریت د هرې اداري مرکزي دنده ده.

کمپونه (د هرې مؤقتې سرپناه کټګوري چې وي) باید وروستی غوراوی او لنډمهاله حل لاره اوسي. په هغو ځایونو کې چې کمپونه تاسیس شوي، اداري او چارواکي باید د خوندیتوب وړاندې کولو هڅه وکړي او په بشردوستانه سکتورونو کې د لږترلږه معیار مطابق د ژوند ژغورونکو خدمتونو اړینه اندازه وړاندې کړي.

## چرا به مدیریت سایت نیاز است؟

چېرته چې یوه وقف شوې د ساحوي مدیریت اداره او د هغې کارکوونکي موجود وي، د وړاندوینې وړ او همغږو خدمتونو وړاندې کول تامین وي. ساحوي مدیران او د دوی ټیمونه اشتراک لوړوي، د زیانمنو خلکو لپاره حساب ورکول لوړوي، او د مرستې لپاره اړو اغیزمنو خلکو، د بشري مرستو چمتو کوونکو پروګرامونو او دولتي خدمتونو اړوند تازه معلوماتو وړاندې کولو اسانتیاوې برابروي، په داسې حال کې چې د خوندیتوب چاپېریال لوړوي. د ساحوي مدیرانو لخوا چمتو شوي جوړښتونه ډېری وختونه د اغیزمنو خلکو په ځواکمنولو کې کلیدي نقش لري چې خپلې ټولنې تنظیم او متحرکې کړي، د مرستې رسولو کې ونډه واخلي او د ځان او کورنۍ لپاره باخبره پریکړې وکړي.

سیمه ییز چارواکي ډېری وختونه د بحران لومړي ځواب ویونکي وي. په ځینو ځایونو کې، دوی د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت چوکاټ کې د دریو واړو نقشونو (اداري، همغږۍ او مدیریت) مسؤل وي. په نورو ځایونو کې، ملي حکومتونه کولی شي د بهرنیو ادارو یا د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر څخه وغواړي چې په ګډه د بیړني غبرګون رهبري وکړي.

په وروستیو کلونو کې، د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت سکټور بېځایه شویو خلکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې نور خوځښتونه په نښه کړي دي. همدارنګه د ښاري کیدو عمومي خوځښتونه، نور فکتورونه د دې لامل کیږي چې بېځایه شوي خلک په بدیلو ډله ییزو ساحو کې پناه واخلي یا د کمپ غیر رسمي چاپیریال غوره کړي.

په دې کې د ځمکې محدود شتون چې په قانوني توګه د اشغال او د معیشت د تولید لپاره کارول کیږي، بازارونو ته محدود لاسرسی، امنیتي اندیښنې او د مقابلې ستراتیژۍ شاملې دي. کوربه حکومتونه اکثرا د سیاسي دلایلو له مخې د رسمي کمپونو په جوړولو کې زړه نازړه وي، غواړي چې د دوی تر مسؤلیت لاندې سیمه کې د بېځایه شوو خلکو له څرګند اعتراف څخه ډډه وکړي، یا اټکل کوي چې ځایی خلک به د هغې مرستې او خدمتونو په لټه کمپونو ته رامات شي چې بل چیرته ورته نه ورکول کېږي. رسمي، پلان شوي کمپونه پیچلې چمتووالي، همدا ډول د مناسبې ځمکې حق، بودیجې او د چارواکو اجازې ته اړتیا لري – چې ډېر یې نه وي. پر دې سربېره، ډیری بېځایه شوي خلک غوره ګڼي چې په پلان شوو کمپونو کې د ځینو اندیښنو له امله ژوند ونکړي لکه بازارونو ته د لاسرسي نشتوالی او د معیشت فرصتونه، او همدا ډل د حرکت د ازادۍ له کمښت سره د دوی تړاو. د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت لپاره د ساحې پر بنسټ تګلارې په اړه نور دلته ولولئ.

## دا معیارونه چېرته پلي کېږي؟

دا معیارونه د بېځایه کیدو د ساحو ډولونو په بشپړه اندازه باندې پلي کیږي، لکه له پلان شوو یا ناځاپي (غیر پلان شوو) کمپونو څخه نیولې تر ډله ییزو مرکزونو، د استقبال او انتقال مرکزونو، د تخلیې مرکزونو او - په ځینو حالتونو کې - له کمپ څخه بهر او د ساحې پر بنسټ تګلارو پورې. یو عام نظر دا دی چې هغه نفوس چې په کمپونو کې ژوند کوي په ښکاره ډول له شاوخوا سیمو څخه جلا شوي وي. مګر په واقعیت کې سرحدونه ډېر سخت نه وي، او د ساحو تر مینځ حرکت کیدای شي ډېر روان وي. د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت اداري په فعاله توګه د هغو بېځایه شویو ټولنو لپاره د ساحوي مدیریت په مرستو وړاندې کولو کې ښکیل وي چې په کوربه ټولنو او د کیمپ له چوکاټ څخه بهر ژوند کوي. لاندې جدول د دې معیارونو لخوا د پوښل شوو ساحو لړۍ تشریح کوي.

| | |
|---|---|
| پلان شوي کمپونه | پلان شوي کمپونه په ښاري یا کلیوالي ځایونو کې موقعیت لري. دا هغه ځایونه دي چې بې ځایه شوي خلک په کې په قصدي ډول جوړو شوو ساحو کې ژوند کوي او د مدیریت یو ځانګړې ټیم لري. په پلان شوو کمپونو کې د اوبو رسولو، د خوړو ویش، د غیر خوراکي توکو ویش، تعلیم او روغتیا پاملرنې، د بشري ادارو یا د ښاروالۍ موجوده زیربنا په څېر خدمتونه شامل وي. دا خدمتونه عموما یوازې د هغو خلکو لپاره وي چې په ساحه کې ژوند کوي. |

| | |
|---|---|
| **خپلسري کمپونه** | بېځایه شوي ډلې، چې اکثره يې کورنۍ یا اړوندي ډلې وي، کیدای شي پخپل سر په ښاري یا کلیوالو سیمو کې میشت شي. دا ډول کمپ ته ورته مېشتځایونه معمولا د يو څه وخت لپاره د مرستي څخه خپلواک وي او کیدای شي پرته له کوم بهرني یا رسمي بشردوستانه ملاتړ څخه وجود ولري. خپلسري کمپونه اکثرا په شخصي ملکیت کې موقعیت لري. دوی له دې څخه تشخیص کېږي چې د ځایي خلکو یا شخصي مالکینو سره د دوی د شتمنۍ د کارولو یا لاسرسي په اړه يې محدودې یا هیڅ خبرې اترې نه وي کړي. په ځینو حالتونو کې، ښایي د کمپ د مدیریت اداره نړدې فعالیتونه ولري او د بېځایه شويو خلکو د اړتیاوو په اړه معلومات ترلاسه کړي او هڅه وکړي چې دوی د مدیریت جوړښت ته راواړوي چې یو څه مرستي ترلاسه کړي. |
| **ټولیز مرکزونه** | بېځایه شوي خلک ښایي په موجوده عامه ودانیو او ټولنیزو تاسیساتو کې د استوګنې ځای ومومي، لکه ښوونځي، فابریکې، پوځي ودانۍ، د ټولنې مرکزونه، ښارګوټي، جمنازیمونه، هوټلونه، ګودامونه، بې کاره فابریکې او نیمګړې ودانۍ. دا ودانۍ ښایي د استوګنځي په ډول نه وي جوړې شوې. دا ځایونه هغه وخت ډېر کارول کیږي کله چې بې ځایه کیدل په ښاري چاپېریال کې یا ښاري چاپېریال ته ترسره کیږي. د کمپ په څېر، یو ټولیز مرکز یوازې د لنډمهاله یا انتقالي استوګنې لپاره دی. د مرستي کچه د ځان بسیاینې له بشپړې کچې څخه تر مختلفو کچو پورې توپیر لري، او د ټولیز مرکز مدیریت کولی شي د خدمتونو په همغږۍ کې پیاوړی نقش ولوبوي. |
| **د استقبال او انتقال مرکزونه** | د استقبال او انتقال مرکزونو ته ښايي د بیړني حالت په پیل کې د لنډمهاله استوګنې په توګه، مخکې له دې چې خلک مناسب، خوندي، اوږد مهاله ځای ته انتقال شي، یا د عملیاتو په پای کې د بیرته راستنیدو د مقر په توګه اړتیا وي. له همدې امله دوی معمولا منځمهاله یا لنډمهاله وي او ښایي د راستنیدونکو کوربه هم وي. د ترانزیت یا انتقال مرکزونه په عمومي ډول خلکو ته ډېر خدمتونه وړاندې کوي او یوازې په غیر مستقیم ډول د ټولنې په اشتراکي فعالیتونو او پریکړې کولو کې ښکیل وي. |

| | |
|---|---|
| د تخلیې ببېرنې مرکزونه | د تخلیې ببېرنې مرکزونه د دې لپاره تنظیمېږي چې د هغو کسانو لپاره مناسبه لنډمهاله سرپناه چمتو کړي چې له ځانګړي او سمدستي ګواښ څخه تښتي، لکه طبیعي خطرونه طوفان، اورونه او سیلابونه. د دې لپاره ډېری وختونه ښوونځي، د سپورت میدانونه او مذهبي یا مدني ودانۍ کارول کیږي. دوی باید د ناورین پیښو لپاره دمخه چمتو او پلان شي که چېرته شونې وي او باید د لاسرسي وړ سرپناه تضمین کړي یا د مناسبې استوګنې لپاره چمتووالی ولري. مرکزي چارواکي باید د اړتکل شوي نفوس له جریان سره سم په یوه شپه کې د ټاکلي شمیر خلکو لپاره پلان جوړ کړي. |
| له کمپ څخه بهر یا د ساحې پر بنسټ تګلارې | د کمپ یا ساحې څخه بهر (چې کله کله د ګاونډ په نوم هم یادېږي) تګلارې په ټاکل شوو جغرافیایي سیمو کې پلي کیږي او په ښاري، نیمه ښاري یا کلیوالي تنظیماتو کې هم ترسره کیدای شي. دا فعالیتونه د ګرځنده ټیم لخوا چې توافق کوونکي مهارتونه او پروفایلونه لري، وړاندې کیږي. د دوی کار د یو مرکز پر جوړولو تمرکز کوي چې په ټوله ټولنه کې میشتو کوربه او بېځایه شوو خلکو ته د ساحوي مدیریت خدمتونه وړاندې کړي. په استوګنځي کې کرایه شوي ودانۍ او نور عادي ځایونه شامل دي. دا په مکرر ډول د بېځایه توب په خورو ورو او لرې پرتو ځایونو کې کارول کیږي. دوی لنډ عمر لري ځکه چې د بیړنیو حالتونو د راپورته کیدلو پر مهال کارول کیږي او باید له ملي جوړښتونو سره نږدې مطابقت ولري. |

**ښاري چاپېریال/تنظیمات**

له ۲۰۰۸ راهیسې، د نړۍ ۵۰ سلنه نفوس په ښارونو کې ژوند کوي، او تمه کیږي چې ښاري نفوس به په راتلونکو ۴۰ کلونو کې دوه برابره شي. د نفوس ډېره وده به د لږ پرمختللو هیوادونو په ښارونو او ښارګوټو کې متمرکزه وي، په ځانګړې توګه په سویلي آسیا او د سهارا شاوخوا افریقایي هیوادونو کې.

په ښاري سیمو کې د بېځایه شویو او کډوالو شتون په مستقیم ډول د ښاري کیدو له نړیوال خوځښت سره تړلی دی. د ټولو کډوالو لږ تر لږه ۵۹ سلنه اوس په ښاري سیمو کې ژوند کوي، او دا سلنه مخ پر لوړیدو ده. دا چې بېځایه توب تر ډېره پورې یوه ښاري او منتشره پدیده ده، نو مېشت کمپونه یوه استثنا ده. ډېری بېځایه شوي (شاوخوا ۸۰ سلنه) د معلومو کمپونو یا میشت غالو څخه بهر پاتې کیدل غوره کوي او پرځای یې په ښاري، کلیوالي یا لرې پرتو سیمو کې خپرېږي. دوی د ځایی کورنیو په کوربه توب، په تصدي یا کرایه شوو کورونو کې ژوند کوي، په ښاري چاپېریال کې خپاره شوي وي، او ډېری وختونه له کډوالو او ځایي بې وزلو خلکو سره ګډ شوي وي، یا له دریو څخه تر پنځو کورنیو پورې په کوچنیو مؤقتو استوګنځایونو کې راټول شوي وي.

ښاري تنظیم/چاپېریال د لاندې یو یا ډېرو مواردو له مخې مشخص کیدی شي: اداري معیارونه یا سیاسي حدود، د نفوسو ګڼوالی او اندازه، اقتصادي فعالیت، او د ښاري ځانګړتیاوو شتون.

**د مېشت ځایونو ډولونه**




بېځایه شوي خلک اکثرا په ښاري غیر رسمي سیمو یا ښنګ ته شوو ګاونډونو کې میشتېږي چې سرچینې لکه د خدمتونو شتون، روغتیا ساتنې ته لاسرسی او کافي سرپناه په کې وار دمخه د کوربه نفوس لخوا تر فشار لاندې وي. دا چاره تر هدف لاندې مرستې نورې هم ننګوونکي کوي او له سیمه ییزو چارواکو او کوربه ټولنو سره نږدې همکارۍ ته اړتیا لري چې د ګڼ-سکتوري، څو اړخیزه تګلارې (د ساحې پر بنسټ تګلارې) په کارولو سره مطلوبو ترلاسه کوونکو ته ورسیږي او غبرګون ښه کړي.

## بشردوستانه منشور، بشردوستانه اصول او د خوندیتوب اصول

بشردوستانه منشور، بشردوستانه اصول او د خوندیتوب اصول ټول د بشردوستانه کړنو لپاره اساسي دي او په ټولو ناورینونو کې پلي کېږي.

بشردوستانه منشور د خوندیتوب اصولو، اصلي بشري معیارونو (CHS) او دې معیارونو ته اخلاقي او قانوني شالید وړاندې کوي. دا تر یوې اندازې پورې د قانوني حقونو او مکلفیتونو بیان دی او یو څه د ګډو باورونو بیانیه ده. د قانوني حقونو او مکلفیتونو له اړخه، بشردوستانه منشور هغه اساسي حقوقي اصول خلاصه کوي چې د ناورین یا شخړو څخه د اغیزمنو خلکو پر هوساینې باندې خورا اغیز لري. د ګډ باور له اړخه، دا هڅه کوي چې د بشردوستانه ادارو ترمنځ د هغو اصولو په اړه اجماع رامینځته کړي چې باید د ناورین یا شخړې په وړاندې غبرګون اداره کړي، چې په کې د مختلفو ښکیلو اړخونو دندې او مکلفیتونه هم شامل دي. بشردوستانه منشور د بشردوستانه ادارو لخوا د ترسره شوې

ژمنتیا اساس جوړوي چې سفییر یې تصویب کړی دی، او ټولو هغو کسانو ته بلنه ده چې د ورته اصولو د تصویبولو لپاره په بشري عمل کې ښکیل دي.

پرته له دې چې یوه نادولتي موسسه ملي یا نړیواله وي یا یوه ملي اداره وي چې د ساحوي مدیریت مسولیت په غاړه لري، د انسانیت بشردوستانه اصول، بې پلوي، ناپیېلتوب او عملیاتي خپلواکي د ښکیلو اړخونو لپاره اخلاقي بنسټ جوړوي چې په بیړني حالت کې بشري کارونه ترسره کوي. دا څلور اصول په لاندې ډول تعریف شوي:

## بشري اصول

**عملیاتي خپلواکي**
بشري کړنې باید له هغو سیاسي، اقتصادي، نظامي یا نورو موخو څخه خودمختاره وي چې د بشري کړنو په ترسره کېدونکې سیمه کې یې فعالان لري

**ناپیيلتوب**
بشري کړنې باید یوازې د اړتیا پر بنسټ ترسره کړل شي، او د ستونزو تر ټولو بېړنیو قضیو ته لومړیتوب ورکړي او د ملیت، توکم، جنسیت، مذهبي عقیدې، طبقې یا سیاسي نظریې پر بنسټ توپیر ونه کړي

**بې پريوالی**
بشري فعالان باید په شخړو کې د چا لوری ونه نیسي یا په سیاسي، نژادي، مذهبي او ایډیالوژیکي تنازعاتو کې ښکېل نه شي

**بشریت**
بشري ستونزو ته باید په هرځای کې ځواب وویل شي. د بشري کړنو موخه د ژوند او روغتیا خوندي کول او بشر ته د درناوي تضمینول دي

لکه د ټولو بشردوستانه سازمانونو په څیر، د ساحوي مدیریت اداري، باید **د خوندیتوب اصول** مراعات کړي چې په بشردوستانه منشور کې د وضع شوو حقونو ملاتړ کوي او د زیان نه رسولو پر اصل بنا دي. (خوندیتوب لکه څنګه چې د بین الاداري دایمي کمیټې (IASC) لخوا تعریف شوی د ناورین یا وسلوالې جګړې له امله د اغیزمنو شوو خلکو په خوندیتوب، عزت او حقونو پورې تړاو لري. خوندیتوب داسې تعریف شوی دی"... ټول هغه فعالیتونه چې موخه یې د قانون (یعنی د بشری حقونو نړیوال قانون، بین المللي بشردوستانه قانون، د کډوالو نړیوال قانون) اړوند نهادونو له لیک او روحیې سره سم د افرادو د حقونو د بشپړ درناوي ترلاسه کوي وي". دا اصول روښانوي چې د بشري فعالانو نقش له دولت سره توپیر لري، چې په خپله ولکه یا ساحه کې دننه خلکو د هوساینې  قانوني مکلفیت لري.

**⊗ د لارښود نوټونو او نورو لیکنو لپاره، د سفییر کتاب ۲۰۱۸، مخ ۴۸-۳۳ وګورئ.**

ساحوي مدیران د ورځنیو ګامونو په اخیستلو له خوندیتوب سره مرسته کوي چې د دوی د کارونو د هر ډول منفي اغیزو مخه ونیسي یا یې کمې کړي، په ځانګړي توګه د خطر په وړاندې د خلکو افشاء کولو خطر یا د دوی د حقونو د تلف کولو خطر. دوی دا کار هغه وخت کوي چې کله دوی د ساحې د نفوسو له بیلابیلو ډلو سره خبرې کوي چې په عمومي ډول د ځواب مثبتې او احتمالي منفي پایلې وارزوي (⊗ معیار ۲ وګورئ) او هغه لارې راخپلوي چې په کې خدمتونه او مرستې وړاندې کېږي ترڅو د لوټ کیدلو او تاوتریخوالي خطر راکم کړي (⊗ معیار ۳ وګورئ).

د ساحې د پلانولو کمیټې د یوې برخې په توګه، د ساحوي مدیریت اداري ډاډ ترلاسه کوي چې ساحې د شخړو څخه لرې سیمو کې جوړې شوې دي (⊗ معیار ۴ وګورئ) او ډاډ ترلاسه کوي چې په ساحه کې د ټولو ډلو لپاره د اړتیا تر وخته پورې مرستو او خدمتونو ته خوندي او مساوي لاسرسی شتون لري (⊗ معیار ۵ وګورئ). د داخلي بېځایه شویو خلکو د خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري کتاب (۲۰۱۰) د ټولیزو ساحو د همغږۍ او مدیریت د ساتنې ارزښت بیانوي: "که چېرته د خوندیتوب له لیدلوري او د خوندیتوب فعالانو سره په نږدې ملګرتیا ترسره شي، د کمپ مدیریت او همغږي تضمینولی شي چې بېځایه شوي خلک له خپلو بشري حقونو او همدارنګه شته بشري خدمتونو ته له خپل عادلانه او بې خنډه لاسرسي څخه خوند واخلي.

**⊗ په دې اړه نور د داخلي بېځایه شوو اشخاصو د خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري په کتاب (۲۰۱۰) نسخه ۶ (مخ ۳۸۵) کې ولولئ.**

## کمپونه د وروستي غوراوي په توګه

په کمپ یا بله لنډمهاله ټولیزه ساحه کې استوګنه پایښت لرونکی حل نه دی. بلکې دا تل د بېځایه توب حالت ته لنډمهاله غبرګون دی. د ټولو بېځایه شویو خلکو لپاره، پایښت لرونکی حل ترلاسه کول د بېځایه توب پای ته رسولو لپاره مهم دي او باید د غبرګون له پیل څخه په پام کې ونیول شي. درې ډوله پایښت لرونکې حل لارې موجودې دي: بېرته راستنیدل، ځایي ادغام او بیا میشتیدل.

| پایښت لرونکې حل لارې | |
|---|---|
| کورني بېځایه شوي خلک | کډوال |
| په خپل اصلي ځای کې پایښت لرونکی بیاادغام (راستنیدلو ته هم راجع کېږي) | خپل هیواد ته راستنیدل |
| دوامداره سیمه ایز ادغام په هغه سیمو کی چیری چې بېځایه شوی کډوال پناه اخلی (د محلی ادغام په نامه هم یادیږی ) | د پناه غوښتنې په هیواد کې ادغام |
| د هیواد په بله برخه کې پایښت لرونکی ادغام (مېشتیدلو ته هم راجع کېږي) | په دریمګړي هیواد کې مېشتیدل |

د داخلي بېځایه توب په اړه د بین الاداري دائمي کمېټې د ۲۰۰۴ لارښود اصول د بېرته راستنیدو، بیا میشتیدنې او ادغام اړوند د بېځایه شوو خلکو حقونه نور هم روښانوي. د کډوال حالت هغه وخت پای ته رسیږي کله چې یو شخص د دریو پایښت لرونکو حل لارو څخه د یوې له لارې دولت – ښاروند خوندي عقد ترلاسه کړي. د داخلي بېځایه توب د حالت پای ته رسیدلو په اړه هیڅ قانوني توافق نشته ځکه چې د بېځایه شوي په توګه د یو چا پیژندل د نړیوال قانون له مخې ځانګړی حالت نه خپلوي. په هر حال، یو شخص هغه وخت بېځایه شوی نه ګڼل کیږي چې کله نور داسې خوندیتوب او مرستې ته اړتیا ونلري چې مستقیماً یې د بېځایه کیدو له تجربې سره تړاو ولري.

دا چې په کمپ کې استوګنه د بېځایه توب لپاره یوازې یو لنډمهاله حل دی، نو د ساحوي مدیریت اداري په دې پریکړې کولو کې مرسته کوي چې آیا یو دوامداره حل ترلاسه شوی دی که نه - دا په اساسي توګه د ساحې له تړلو سره تړاو لري. په ځینو حالتونو کې، د یوې ساحې تړل یا بندول پدې معنی نه دي چې دوامدار حل ترلاسه شوی دی. د ساحوي مدیریت اداري دنده لري چې د تمویل کونکو او ملي چارواکو په شمول له ټولو شکیلو اړخونو سره همغږي شي چې د مناسبو داوطلبانه راستنیدو، ادغام یا بیا میشتیدنې پروسې د شرایطو لپاره عدالت غوښتنه او وکالت وکړي او د ساحې د نفوس غړو ته د دوی د حقونو په اړه معلومات ورکړي.

# د وروستي حل وړاندې کوونکي

د داخلي بېځایه شوو په تنظیماتو کې چې د کلستر تګلاره په کې پیل شوې وي، د کلستر مخکښې اداري د "وروستي حل وړاندې کوونکي" (POLR) په توګه مسؤلیت لري چې د غبرګون وړاندوینه تضمین کړي.

که چېرته اړتیا وي او د لاسرسي، امنیت او تمویل شتون ته په کتلو سره، د کلستر مشر، د وروستي حل وړاندې کوونکي په توګه، باید چمتو وي چې له اړتیا سره سم د خدمتونو وړاندې کول تضمین کړي چې د کلستر لخوا په ګوته شوې مهمې تشې پوره شوې دي او د بشردوستانه هیواد دټیم د بشري غبرګون پلان کې منعکسې شوې دي، چې د بشردوستانه همغږي کوونکي لخوا رهبري کېږي.

**لاسرسی، امنیت او د وجوهاتو شتون**

که چیرې د کلستر مشر د تشې ډکولو یا د وروستي حل وړاندې کوونکي په توګه د لازمو فعالیتونو پلي کولو لپاره وجوهات ونلري، د کلستر مخکښې اداري ځخه تمه نه کیږي چې دا فعالیتونه پلي کړي **مګر باید د بشري همغږي کوونکي او بسپنه ورکونکو سره کار ته دوام ورکړي چې اړینې سرچینې وهڅوي.**

**د کمپ د مدیریت لړترلړه معیارونه**



# د ساحوي مدیریت پالیسۍ او ظرفیتونه

# ۱. د ساحوي مديريت پاليسۍ او ظرفيتونه

ساحوي مديران د ګډون په لوړولو کې مهم رول لري، د اغېزمنو خلکو لپاره حساب ورکونې ته وده ورکوي، او د خونديکوونکي چاپېريال د لوړاوي ترڅنګ، د سکتوري مرستو چمتو کوونکو او حکومتونو ترمنځ د معلوماتو د مديريت تازه کولو اسانتياوې برابروي. د دې لپاره چې په ساحو کې مديران او نور کارکوونکي دا چاره ترسره کړای شي، هغه سازمانونه چې دوی ورته کار کوي بايد د بشردوستانه او خونديتوب اصولو پر بنسټ ماموريتونه، پاليسۍ، ستراتيژۍ او کاري پلانونه ولري. ساحوي مديران او کارکوونکي هم اړتيا لري چې د ځارنې، روزنې (هم د دندې پرمهال او هم تر هدف لاندې روزنې)، لارښوونې (د جوړه يي کار يا تجربه لرونکو کارکوونکو سره د کار کولو له لارې)، منظمو ټيمي ناستو، منظم فيډبيک ناستو، د کارکړنې د مهالنيو ارزونو، ليکلو راپورونو او تجهيزاتو يا لوجيستيکي ملاتړ د وړاندې کولو له لارې مجهز کړل شي چې خپل کارونه په ښه توګه ترسره کړای شي.

د ساحې مديريت د بشردوستانه (ملي، بين المللي يا داوطلبو) سازمانونو لخوا ترسره کېدی شي يا د محلي يا ملي حکومتي چارواکو لخوا رهبري کېږي. په ناڅاپي ميشتځايونو کې، يا د بېړني حالت په پيل کې شايي ټولنه د ساحې مديريت رهبري کړي. ملي چارواکي د امنيت د تامين، د قانون او نظم د ساتلو او د يوه کمپ يا موقتي ساحې د ملکي حيثيت د تضمين مسوليت لري.

د ساحوي مديريت ټيم نه يوازې د ساحې نفوسو او شاوخوا کوربه ټولنې ته خدمت کوي بلکې د خپلې همغږۍ، معلوماتو مديريت او استازيتوب نقش له لارې د خدمتونو وړاندې کوونکو ته هم خدمت کوي. که څه هم دا مسؤليتونه په تعقيبي معيارونو کې پوښل شوي، د دوی مرکزي نقش د حساب ورکولو لپاره د د خول د نقطې رامنځ ته کول دي چې نورې اداري د دې جوګه کړي چې پخپل کار کې اشتراکي تګلاره تضمين کړي (په ځانګړو معيارونو کې ۲.۱، ۲.۲ او ۴.۱ وګورئ). د ټولشموله او شفافو شراکتونو رامنځته کول به د ساحې دننه او بهر د مشروعيت رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

سره له دې چې دا ساحې ډېرې وختونه په دې ډمه تنظيم شوي چې لنډمهاله به وي، خو په پلان جوړونه کې بايد تل د اوږدمهالې مرستې، پراختيا او غير متوقعه پيښو اړتيا اټکل کړل شي. د کوربه ټولنې اړتياوې او ظرفيتونه بايد د تاسيس شويو خدمتونو، زيربناوو او شتمنيو په تړاو هم وارزول شي. خدمتونه او زيربناوې لکه ښوونځي، د ټولنې تالارونه، سړکونه، د برېښنا کيبلونه يا د اوبو نقطې ممکن محلي ټولنو ته هم ګټه ورسوي.

دولتونه په خپلو سيمو کې د هرچا د ساتنې بشپړ مسؤليت لري، پرته له دې چې د دوی قانوني موقف په نظر کې ونيول شي، هغه که بېځايه شوي وي او که د کوربه ټولنو غړي وي، او همدا ډول د ګواښونو څخه د خونديتوب او عامه نظم د تامينولو مسؤل دي. بشردوستانه سازمانونه بايد عدالت غوښتنه وکړي چې ملي چارواکي خپل مسؤليتونه په غاړه واخلي چې د ګواښونو سره مخ کېدو کمولو کې مرسته وکړي او د بېځايه توب د لومړني لامل هر ډول ويجاړوونکي اغيزې راکمې کړي.

د دې څلورو معيارونو په وړاندې بيان شوې کليدي کړنې او شاخصونه نه يوازې د ساحې په کچه، بلکې پر سازمانونو، د همغږۍ پليټ فارمونو او ټول بشردوستانه غبرګون باندې پلي کېدلی شي.

⊗ د (۲ (*CHS* ژمنتيا پورې تړاو.

## ۱.۱ معیار:
## ماموریت، پالیسۍ او حضور

اغیزمن شوي خلک د اړتیا په وخت کې د ساحوي مدیریت د مؤظفې ادارې له لارې خوندیتوب او مرستې ته عادلانه لاسرسی لري.

### کلیدي کړنې

- د ساحوي مدیریت یوه اداره د عمومي غبرګون اداري (دولت، کلستر یا نورو) لخوا ټاکل کیږي چې د مدیریت فعالیتونو ترسره کولو لپاره حاضر وي چې کله د بېځایه توب جریان د ساحې مدیریت ځانګړو خدمتونو ته اړتیا ولري (لارښودنوټونه وګورئ).
- د ساحوي مدیریت اداره باید بشردوستانه پالیسۍ (د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي (PSEA) په شمول) او ستراتیژۍ او همدارنګه د مشرتابه او سازماني سیستمونه ولري چې د سایټ مدیریت ټیمونو ته لارښوونه وکړي او  ویې هڅوي چې په اصولي توګه کار وکړي.
- د ساحوي مدیریت اداره د ساحوي مدیریت ټیم جوړوي، چې د اړینو ظرفیتونو لرونکو خلکو څخه تشکیل شوی وي او کافي سرچینې لري.
  - د ساحوي مدیریت ټیم ښایي شرایطو ته په کتلو، له یو څخه ډېر فزیکي موقعیتونو ته وپوښي.
  - د ساحوي مدیریت ټیمونه ښايي ساکن یا ګرځنده یا د دواړو ترکیب وي.

### کلیدي شاخصونه

- د هرو ۱۵۰۰۰بېځایه شویو کسانو لپاره د ساحوي مدیریت ۱ ټیم (لارښودنوټونه وګورئ)
- د ساحې د نفوسو٪ چې د خدمتونو له عمومي کچې څخه راضي دي
- د ساحوي مدیریت د اداري د کارکوونکو ٪ چې د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي په ګډون د ساحوي مدیریت د اداري پر ضد شکایتونو په پروسه پوهیږي

### لارښودنوټونه

1. د ساحوي مدیریت د ټیم اړتیا چې په یو ځای کې شتون ولري د پام وړ بېځایه شوو خلکو او د بېځایه توب د احتمالي مودې له امله رامینځته کیږي. د بهرني ساحوي مدیریت ټیم اړتیا به د سیمه ییزو چارواکو یا سازمانونو په ظرفیت پورې اړه ولري چې د بشردوستانه اصولو سره سم د خلکو اړتیاوې پوره کړي.
2. د هرو ۱۵۰۰۰ بېځایه شویو کسانو لپاره د یو ساحوي مدیریت ټیم تناسب باید د ټولنې ظرفیت، د بېځایه شویو او کوربه ټولنو ترمنځ اړیکو، د خدمتونو وړاندې کوونکو سازمانونو ظرفیت، او د ساحو ډول، په ځانګړې توګه د تخلیې په مرکزونو او د انتقال په ساحو  کې، ته په کتلو سره تنظیم شي.
3. د غیر رسمي ساحو لپاره چې په ښاري، نیمه ښاري یا کلیوالو سیمو کې خورې ورې دي، د ساحوي مدیریت اداره کولی شي د انفرادي ځایونو د شمیر، د دوی ترمنځ فاصلې، په ساحو کې اړتیاوو او په کې د اوسیدونکو بېځایه شویو خلکو د شمیر پر بنسټ کلستر کړي، چې له یو ګرځنده ټیم څخه اړین ملاتړ وارزوي او پلان یې کړي. د ګرځنده ساحوي مدیریت ټیمونو لخوا د ساحې لیدنې باید دوامداره او په ځانګړو جغرافیایي سیمو کې د خلکو لپاره وړاندوینې وړ وي. د کیمپ څخه بهر د ساحوي مدیریت په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر ۲۰۱۹ کاري رساله: د ګرځنده / ساحې پر بنسټ تګلارې له لارې د ټولیزو مېشتځایونو مدیریت او همغږي، وګورئ.

4. د ساحوي مدیریت ټیم ښایي د ساحې په کچه دفترونو، مرکزي یا د ښاروالۍ دفترونو یا د ټولنیزو سرچینو مرکزونو کې ځایونه ولري.
5. سره له دې چې د بشردوستانه اصولو پیروي کول (پېژندګلوي وګورئ) د بشردوستانه غبرګون اساس دی، د ساحوي مدیریت اداره باید په خپلو فعالیتونو کې حساب ورکونه هم وښیي چې د تعریف له مخې، د اغېزمنو خلکو او ټولنو پر ژوند باندې نفوذ او ځواک پلې کوي.
6. د غبرګون په پیل کې د رسنیو، بسپنه ورکوونکو او حکومتونو فشارونه ډېر زیات کېدلی شي. دا چاره کولی شي د ساحوي مدیریت اداري او ټیمونه داسې ژمنو او ژمنتیاوو ته اړ کړي چې ساتلی یې نشي. د دې معیارونو هدف د ساحوي مدیریت د ټیمونو ملاتړ کول دي چې د مناسب لومړیتوب ورکولو او فعالیتونو ترتیبولو له لارې د دې څخه مخنیوی وشي.

## ۱.۲ معیار:
## د ساحې د ژوندانه دوران پلانول

مناسبه او ټولشموله پلان جوړونه تضمینوي چې د سایټ د ژوندانه دوران په اوږدو کې کافي خوندیتوب او مرستې وړاندې شوې دي، له پیل څخه تر پایه پورې.

### کلیدي کړنې

- د ساحوي مدیریت کاري پلان جوړ کړئ.
  - د کوربه ټولنې او ځایي چارواکو په شمول د ساحې د نفوس له کلیدي غړو او نورو سهم لرونکو سره شکیل شئ.
  - د پروژې په ټیم کې نارینه او ښځینه دواړه شامل کړئ او د کلیدي خبر ورکوونکو په توګه د خلکو او کوربه ټولنې څخه او همدارنګه د ټولنې د تنوع استازو په توګه شامل کړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د ټولنې مشورې د ښکیلو اړخونو لپاره په مناسبو ژبو او شکلونو کې دي.
  - مالي، مادي او بشري منابع په پام کې ونیسئ، د خلکو د خوندیتوب او تخنیکي اړتیاوو په شمول.
- د زیانمنونکو کسانو او د ځانګړو اړتیاوو لرونکو خلکو لپاره هدفي کړنې وارزوئ او شاملې یې کړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د خوندیتوب د ارزونې موندنې د ساحوي مدیریت په کاري پلانونو کې منعکسې شوې دي.
- د کوربه ټولنې او د ځایي چارواکو له استازو سره د کاري پلان لنډیز شریک کړئ.
- د ناڅاپي راتګ، ناپلان شوو (جبري راستنیدو) ترلو او احتمالي پیښو لپاره احتیاطي پلانونه چمتو کړئ چې پر ساحه اغیز کوي لکه سیلابونه، اور او نور خطرونه.
  - لړترلړه په احتیاطي پلانونو کې د بشري حقونو، مالي او تجهیزاتي احتمالي اړتیاوې شاملې کړئ.
  - د پراختیا په دوران کې د احتمالي پلانونو په اړه د نظر ورکولو لپاره د خدمتونو وړاندې کوونکي ښکیل کړئ.
  - د زیانمنونکو خلکو اړتیاوو ته پام وکړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی په احتیاطي پلانونو کې د خطر سره مخ نه دي.
- وضعیت او د پلان جوړونې صحنو ته په کتلو سره، په منظمه توګه احتیاطي پلانونو ته بیاکتنه وکړئ او تازه یې کړئ.
  - د ګواښونو په ګوته کولو لپاره د مشاهدې او فزیکي خطر ارزونو په ترسره کولو سره د ساحې دننه او شاوخوا وضعیت وڅارئ.

- ◦ داړ ترلاسه کړئ چې نوي خدمت وړاندې کوونکي په احتیاطي پلانونو او د تخلیې کړنلارو کې شامل شوي دي.
- ◦ بیړنۍ کړنلارې تمرین کړئ.
- ◦ خلکو ته د احتیاطي پلان جوړونې په برخه کې د دوی د نقش په اړه خبر ورکړئ.
- د کوربه ټولنو او ځایی چارواکو سره یوه هوکړه وکړئ چې د ځمکې او زیربناوو بیرته سپارلو لپاره اړین شرایط روښانه کړي.

کلیدي شاخصونه

- د ټولنې ورکشاپونه د احتیاطي پلانونو د جوړولو او شریکولو لپاره کارول کیږي.
- د ساحوي مدیریت کاري پلانونه او احتیاطي پلانونه تازه شوي دي.

لارښودنوټونه

1. له لومړۍ ورځې څخه، د ساحوي مدیریت د ټیم دنده یو دوامداره حرکت دی او د لوړې کچې انعطاف، ګړندي فکر او لومړیتوب ورکولو ، نوښت او محتاطې پلان جوړونې ته اړتیا لري. کلیدي سهم لرونکو (چارواکو، د کوربه ټولنې غړو، د خدمتونو وړاندې کوونکو او د بیړنۍ حالت لخوا اغیزمنو شویو) ته په خبر ورکولو، مشورو، شکیلتیا او راپور ورکولو کې په شفافه توګه د ساحوي مدیریت ټیم د ارادې شریکول او مشورې شاملې دي چې موخه یې د اغیزناکو شراکتونو جوړول دي. مهمه ده چې روښانه معیارونه تنظیم کړل شي او داسې معیارونه تاسیس کړل شي چې د نفوسو د پروفایل پر بنسټ د ساحوي مدیریت د کاري پلان پلې کول وڅارل شي.
2. د خطرونو او ترلو په شمول، د حساسو مسلو په اړه د بېځایه شویو خلکو سره د مشورې وخت ژر تر ژره په پام کې ونیسئ، پرته له دې چې اضافي فشار رامنځته کړي.
3. سره له دې چې ساحې ډېرۍ وختونه په دې تمه تنظیم شوې وې چې لنډمهاله به وي، خو په پلان جوړونه کې باید تل د اوږدې مودې اړتیاوې، پراختیا او غیر متوقعه پیښې په پام کې ونیول شي. د کوربه ټولنې اړتیاوې او ظرفیتونه باید د تاسیس شویو خدمتونو، زیربناوو او شتمنیو په تړاو هم وارزول شي. خدمتونه او زیربناوې لکه ښوونځي، د ټولنې تالارونه، سړکونه، د بریښنا کیبلونه یا د اوبو نقطې ممکن ځایي ټولنو ته هم ګټه ورسوي. برعکس، هغه ودانۍ چې د ټولیزو مرکزونو په توګه د لنډمهاله کارونې له امله تخریب شوې دي کولی شي پر ځایي ټولنه منفي اغیزه وکړي. د ساحې د ترلو پرمهال باید د داسې شتمنیو د وروستۍ سپارنې په اړه د پیل څخه د ښکیلو شریکانو سره تعریف او موافقه وشي. د ساحې د جوړولو / لوړولو پلانول او د ساحې ترلو له پیل څخه یو له بل سره تړاو لري.

**⊗ د سایټ د ژوندانه دوران پلانول باید د ۳.۲ مناسب چاپیریال، ۴.۱ د ساحې همغږي او ۵.۴ پلان شوي ترلو معیارونو سره سم ترسره شي.**

**⊗ د احتیاطي پلان جوړونې په اړه د کمپ د مدیریت کڅوړې په ۱ څپرکي کې، د چاپیریال پلانونې په اړه په ۶ څپرکي کې، او د خوندیتوب او امنیت په اړه په ۱۲ څپرکي کې ولولئ.**

## ۱.۳ معیار:
## د ساحوي مدیریت اداري او د ساحوي مدیریت د ټیم ظرفیت

د ساحوي مدیریت ټیمونه د ساحې د مدیریت عملیاتي او تخنیکي ظرفیت لري.

### کلیدي کړنې

- د بشري سرچینو له څانګو سره همغږي وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ساحوي مدیریت ټیم د ساحې د نفوس مطابق کارکوونکي لري.
  - د ښځینه او نارینه پرسونل تناسب متوازن کړئ چې ټولنې او د دوی اړتیاوې منعکسې کړي.
  - په بېځایه شوي نفوس کې د کلیدي لږه کیو د ډلو د کارکوونکو شتون په اړه ډاډ ورکړئ، چې د مذهبي یا توکمیزو لږه کیو ډلې په کې شاملې وي.
- د کمپ همغږۍ او د کمپ مدیریت په اصولو او عملونو کې د ساحوي مدیریت ټیم کارکوونکو ته روزنه ورکړئ.
- د بشردوستانه اصولو او د سلوک مقررې په برخه کې د ساحوي مدیریت ټیم کارکوونکو ته روزنه ورکړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی د راپور ورکولو په اهمیت پوهیږي او په مناسبه ژبه یې د سلوک مقرره لاسلیک کړې ده.
  - د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی په کې شامل کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ساحوي مدیریت ټیم د شرایطو او دندې لپاره کافي مناسب تجهیزات لري.

### کلیدي شاخصونه

- د کارکوونکو تناسب (ښځینه: نارینه) د ساحې د نفوس سره متناسب دی.
- د ساحوي مدیریت د کارکوونکو ٪ چې د سلوک مقرره یې لاسلیک کړې ده.
- د ساحوي مدیریت د کارکوونکو ٪ چې د خپل نقش اړونده کافي روزنه یې بشپړه کړې ده.

### لارښودنوټونه

1. د ساحوي مدیریت د ټیم **اندازه او جوړښت** خورا متناسب دی او په یو لړ فکتورونو پورې اړه لري لکه د ځایي حکومت او ټولنې ظرفیتونه، ژبه او نورې ارتباطي اړتیاوې، د ساحې ځانګړتیاوې، د ساحې د منظرې ځانګړتیاوې، د خدمتونو وړاندې کولو اړتیاوې او د خدمتونو د وړاندې کوونکو ظرفیت، او امنیتي شرایط.
2. د ساحوي مدیریت ټیم باید **د مهارتونو او ظرفیتونو توازن** ولري، که د مشرتابه، خوندیتوب، مرستې، تخنیکي سکتورونو، اداري، معلوماتي ټکنالوژۍ، د شخړو مدیریت، د معلوماتو مدیریت او/یا د ټولنې د پوهاوي په برخو کې وي. په ځینو شرایطو کې ښایي د ښځینه کارکوونکو لپاره مناسبه وي چې ډېر استازیتوب ولري، ځکه چې په عمومي توګه ښځینه کارکوونکي د سړیو سره د خبرو کولو ښې جوګه دي، نسبت نارینه کارکوونکو ته چې له ښځو سره خبرې وکړي.
3. د ساحوي مدیریت یو وقف شوی ټیم باید **له پیل څخه په ساحه کې موجود وي** او په اړینو سرچینو باندې سمبال وي چې د بحران لخوا د اغیزمنو شویو خلکو په استازیتوب کارونه پرمخ یوسي. په اصلي ټیم کې تعدیلات باید د وخت په تیریدو سره په ساحه کې د پلان شویو فعالیتونو او شرایطو سره سم ترسره شي.
4. د ساحوي مدیریت ټیمونه باید **د بشردوستانه پالیسۍ او ستراتیژیو** او همدا ډول د رهبرۍ او اداري سیستمونو په پلي کولو سره، د ادارو له خوا حمایه کړل شي، لکه مالي او بشري سرچینې، چې دوی هڅوي چې په اصولي توګه کار وکړي.

5. **ځايي نادولتي موسسې د ساحې برياليي مديران ثابت شوي دي.** په هغو ځايونو کې چې هيوادنيو فعاليتونو/ عملياتو د بين الاداري دائمي کمېټې د کلستر طريقه غوره کړې، د کلستر مشرتابه اداري په زياتيدونکي توګه مومي چې چيرته چې د ساحې نفوس ته لاسرسی ورکړل شوی، او د هغوی عمومي قبوليت ترلاسه شوی دی، نو دا يو مناسب غوراوی دی.

6. د کلستر په تنظيماتو کې به د ساحوي مديريت اداري ته د کلستر همغږي کوونکي يا د کلستر مشرتابه اداري لخوا **ساحې تخصيص** شي. د کډوالو په تنظيماتو کې به د تخصيص پروسه د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري لخوا همغږي کيږي. په نورو تنظيماتو کې به حکومت کليدي رول لوبوي. دا چاره بايد د ځايي چارواکو سره په نږدې همکارۍ ترسره شي په داسې حال کې چې د دوی ظرفيتونه او سرچينې تاييدوي.

7. په هغو شرايطو کې چې ساحوي کارکوونکي په CHS کې روزل شوي نه وي او نه هم د ساحوي مديريت د دندو او مسؤليتونو روزنه ورکړل شوې وي، د کلستر يا سکټور مشرتابه دنده لري چې د نادولتي موسسو / ملګرو ملتونو اداره وټاکي چې د کمپ مديريت لپاره د لړترلړه معيارونو پلي کولو کې مرسته وکړي. دا ملاتړ **د لري پرتې ساحې د مديريت ظرفيت لوړولو** لپاره هم کارول کيدی شي.

8. د ساحوي مديريت د ټولو کارکوونکو لپاره د کمپ د همغږۍ او **د کمپ د مديريت اصلي روزنه** کې لږترلږه لاندې موضوعات شامل دي:
   - دندې او مسؤليتونه؛
   - ګډون؛
   - د معلوماتو وړاندې کول او بېرته اوريدل (حساب ورکول)؛
   - بشردوستانه اصول او د خونديتوب اصول؛
   - همغږي؛
   - د ساحې ښه والی او پلان جوړونه؛ او
   - د ساحې تړل (د تخنيکي معيارونو په حواله، د سفيير يا محلي ودانيو مقررو ته په پام سره).

9. د کمپ همغږۍ او کمپ مديريت په برخه کې له روزنې پرته، کارکوونکي بايد د ساحوي مديريت اداري **د سلوک مقررې او د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې د مخنيوي** په اړه هم وروزل شي. په نږدې ټولو ادارو کې، د جنسي استثمار يا ناوړه ګټه اخيستنې راپور ورکول لازمي دي او موخه يې د ټولو لپاره د حساب ورکونې معيارونه تضمينول دي. د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې مخنيوی د سيمه ييزو، ملي، منطقوي او نړيوالو همکارانو په ګډون د ټولې بشردوستانه ټولنې يو ګډ او اړين مسؤليت دی. د دې سره د مبارزې لپاره، ملګرو ملتونو د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې د مرتکبينو په وړاندې د مخنيوې، راپور ورکولو، تحقيقاتو او بنديزونو لګولو لپاره اقدامات کړي دي. د دې ډول يو اقدام په هيواد کې د شبکو پراختيا وه. دا په هغه هيواد کې د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې د مخنيوې او ځواب په اړه د همغږۍ او نظارت لپاره د لومړني ارګان په توګه عمل کوي چې ياد عمل په کې پيښيږي. د جنسيتي برابرۍ روزنه په زياتيدونکي توګه د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې د مخنيوې د روزنې د بشپړوونکي په توګه پيژندل کيږي.

⊗ د احتمالي کارکوونکو د پروفايل او مسلکيتوب په اړه نور د کمپ مديريت کڅوړې ۲ څپرکي او د ټوليزو مرکزونو په لارښوونو، د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري/د کډوالۍ نړيوالې اداري ۲۰۱۱ کې ولولئ. د کارکوونکو د ګومارنې، روزنې او څارنې چيک لست د کمپ مديريت کڅوړې په ۲ څپرکي کې وګورئ..

⊗ د روزنيزو سرچينو د شتون په اړه نورو معلوماتو لپاره **د کمپ د همغږۍ او د کمپ مديريت د کلستر د زده کړې** ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ: *www.cccmlearning.org/login/index.php*

**جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې د مخنيوې سرچينې**

⊗ د خپلو کارکوونکو له خوا جنسي استثمار او ناوړه اخيستنه ودروئ، د کمپ مديريت کڅوړې ۲ څپرکی.

⊗ د بین الاداري دائمي کمېټې د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي **شپږ اساسي اصول** وګورئ.

⊗ په بشري کړنو کې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي د ګامونو مدغمولو لپاره د بین الاداري دائمي کمېټې او د خوندیتوب نړیوال کلسټر د ۲۰۱۵ لارښود: د خطر راکمول، د مقاومت لوړول او په بېرته رغېدنه کې مرسته کول وګورئ.

⊗ د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ۲۰۱۸ راپور: د شخړې اړوند جنسي تاوتریخوالی وګورئ.

⊗ له ۱۰۰ څخه زیاتو ژبو کې، د بین الاداري دائمي کمېټې د ساده ژبو د نسخو کتلو لپاره، د بې پولو ژباړونکو ویب پاڼه وګورئ: *https://translatorswithoutborders.org/psea-translated*

## ۱.۴ معیار:
## د ساحې د اوسیدونکو ډیټابیس او د ډیټا خوندیتوب

ټول شخصي معلومات چې د ساحې له خلکو څخه راټول شوي په مناسب ډول راټول شوي، زیرمه شوي او کارول شوي دي.

### کلیدي کړنې

- د ساحې د اوسیدونکو ډیټابیس تاسیس او وساتئ.
- د ساحوي مدیریت اداري لخوا راټولې شوې ډیټا لپاره د ډیټا د خوندیتوب پالیسۍ باندې پوه شئ او پلې یې کړئ.
  - داړ ترلاسه کړئ چې د معلوماتو د خوندي کولو لپاره مناسب طرزالعملونه شتون لري، لکه خوندي او تړل شوي خونې، بریښنایي بیک اپ، پاسورډونو او حساسو معلوماتو ته د لاسرسي محدودیتونه. محرم اسناد باید په روښانه توګه په نښه شي.
  - که اړتیا وي، شخصي معلومات باید حذف شي یا د نوم پټ ساتلو په کوډ سره بدل شي.
  - د تخلیې یا وتلو په صورت کې د معلوماتو خوندي کولو یا ویجاړولو لپاره باید روښانه کړنلارې شتون ولري.
- د ساحې ټول سازمانونه همغږي کړئ چې د ساحې په کچه د هوکړه شوې ډیټا شریکولو او خوندیتوب پروتوکول چمتو کړي، چې د رضایت او معلوماتو شریکولو تعریفول په کې شامل وي. پر لاندې شیانو هوکړه وکړئ:
  - کوم معلومات باید راټول او د ذخیره کولو سیسټم ته داخل شي، د چا لخوا او څنګه؛
  - څنګه د معلوماتو خپرول یا د معلوماتو څخه چمتو شوي راپورونه د ساحې نفوسو ته خطر کموي؛ او
  - کوم معلومات باید محدود وي.
- له سهم لرونکو ادارو سره همغږي وکړئ چې ټول احصایه راټولوونکي د شریکولو د هوکړې او د خوندیتوب د مقرراتو په برخه کې وروزي.
- د معلوماتو د کارولو او شریکولو طریقې وڅارئ.

## کلیدي شاخصونه

- د رضایت او محرمیت پر یو مشخص پروتوکول هوکړه شوې ده او د ټولو سهم لرونکو له خوا پلی شوی دی چې په ساحه کې فعالیت کوي.
- د معلوماتو د شریکولو پر طرزالعملونو هوکړه شوې ده او په ساحه کې د ټولو فعالو سهم لرونکو له خوا پلي شوي دي.

## لارښودنوټونه

1. د بشردوستانه سازمانونو او حکومتونو ترمنځ زیاته لېوالتیا او غوښتنه چې په بشري کارونو کې د ډیټا ساینس پرمختللي میتودونه پلي کړي، د ساحوي مدیریت د ادارو او د دوی د ساحوي مدیریت ټیمونو لپاره اړتیا په ګوته کوي چې د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت سکتور کې د نوي ټیکنالوژۍ یا ډیټا ساتلو میتودونو د معرفي کولو پر ننګونو ښه پوه شي.
2. که بایومیټریک او نور سیستمونه کارول کیږي، د ساحې نفوس باید پوه شي چې د دوی د بایومیټریک معلومات به د څه لپاره کارول کیږي او معلومات به له چا سره شریکېږي، څومره وخت به ساتل کیږي او ایا دوی د بایومیټریک راټولولو لپاره بدیل لري.
3. د ساحوي مدیریت ټیمونه اړتیا لري چې د افرادو په اړه معلومات راټول کړي چې د خوندیتوب او مرستې غبرګونونو لپاره ښه هدفونه معلوم کړي. په هر حال، د معلوماتو غیر مسؤلانه پروسس کول کولی شي خلک په جدي خطر کې واچوي او د دوی پر محرمیت تجاوز وکړي. د ساحې د اوسیدونکو د ګټې لپاره د معلوماتو راټولولو او شریکولو تر مینځ د سم توازن موندل په داسې حال کې چې د معلوماتو له ناوړه ګټې اخیستنې څخه خلک وساتل شي، باید لاندې اصول ولري:
   - د دې معلوملو لپاره چې کوم معلومات باید راټول شي، په احتیاط سره ارزونه وکړئ چې ولې یادو معلوماتو ته اړتیا ده. یوازې هغه معلومات چې د خوندیتوب هدف لپاره کار کوي، او نه خبر ورکوونکي او نه نورو ته زیان رسوي، باید راټول شي.
   - هغه معلومات په ګوته کړئ چې په ځانګړې ډول حساس وي چې ډاډ ترلاسه کړئ چې راټولول او شریکول د خوندیتوب د اقداماتو تابع دي.
   - معلومات په داسې طریقه راټول کړئ چې د خوندیتوب اندیښنو سره حساس وي، چې د چا امنیت او محرمیت له خطر سره مخ نشي.
   - له ټولو بشردوستانه اړخونو سره موافقه وکړئ چې معلومات څنګه شریک شي او مشخص کړئ چې ولې شریکولو ته اړتیا لري. یوازې د ټاکل شوي خوندیتوب هدف پورې اړوند معلومات باید شریک شي.
   - یوازې انفرادي معلومات د اړوند کس د مطلع رضایت سره شریک کړئ. دا د معلوماتو راټولولو پرمهال شخص ته تشریح کړئ.
   - د خطر تحلیل ترسره کړئ: له مختلف ډول معلوماتو سره د خطر کچه به توپیر ولري، او د ساحوي مدیریت ټیم باید له نورو عملیاتي ادارو سره کار وکړي چې د خطر کچه وارزوي او د معلوماتو د مدیریت سیستمونه ورته ډیزاین کړي.

⊗ د سفیير کتاب، د سرېناه څپرکی وګورئ.

⊗ بد ډیټا د خوندیتوب او معلوماتو د مدیریت او همدا ډول د معلوماتو د مدیریت د چیک لست په اړه نور د کمپ مدیریت کڅوړې په ۵ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د معلوماتو د اداره کولو چیک لست د کمپ مدیریت کڅوړې ۲ څپرکی وګورئ.

⊗ همدا ډول په بشري معیارونو کې د ډیټا خوندیتوب په اړه د آی سي آر سي د ۲۰۲۰ کتاب وګورئ.

# د ټولنې ګډون او
# استازیتوب

# ۲. د ټولنې ګډون او استازیتوب

د دې ډاډ ترلاسه کول چې د خلکو ټولې ډلې په تصمیم نیولو او د ساحې د اداره کولو په جوړښتونو کې معنی لرونکی ګډون لري، د ښه ساحوي مدیریت یوه اړینه برخه ده. ګډون د بشردوستانه کړکیچونو په دوران کې په هر ډول لنډمهاله میشت ځایونو کې د بېځایه شویو خلکو د اساسي حقونو د ساتلو او د دوی روغتیا، رواني ټولنیزې هوساینې او خوندیتوب لپاره مرکزي دی. دا د دې ډاډ ترلاسه کولو په لور یو مهم ګام دی چې په بېځایه شوې ټولنه کې د ټولو ډلو مختلفې اړتیاوې، ورتیاوې او توقعات په ګوته شي او استازیتوب یې وشي، او په دې توګه د اغیزمنو خلکو لپاره د بشري غبرګون او حساب ورکونې په ښه کولو کې مرسته وکړي. ښې فعالیت کوونکې ساحې د ساحې په نفوس پورې اړه لري چې په فعال او معنی لرونکي ډول برخه اخلي. د دې چارې حمایه کول به روزنې، لارښوونې او د ټولنې استازو هڅولو ته اړتیا ولري چې ځواب ورکوونکي مشران شي.

**د ګډون درجې**




**سرچینه: د کمپ مدیریت کڅوړه**

په اوږدمهاله پروسه کې ګډون د سیمه ییزو شرایطو ژورې پوهې ته اړتیا لري. د دې موخه یوازې دا نه ده چې د بېځایه شویو ټولنو له منځه د مختلفو ډلو غړ  پورته کړي، بلکې دا چې پر مخ لاړ شي او ډاډ ترلاسه کړي چې د اوسیدونکو غږ اوریدل کیږي او په هغو پریکړو کې برخه اخلي چې د دوی پر ژوند اغیزه کوي. ډیری وختونه، د چټک پیل شوي بېړنۍ حالت په پیل کې، د ساحوي مدیریت ټیمونه او د ساحې نفوس ممکن دومره وخت یا انرژي ونه لري چې معنی لرونکي ګډون ته لومړیتوب ورکړي. د معلوماتو د لیږد میتودونه، د مشورې پروسې، د فیډبیک میکانیزمونه، او د ساحې د اداره کولو جوړښتونه باید د دې په پام کې نیولو سره جوړ شي - او باید ژر تر ژره تنظیم شي.

د ګډون په وړاندې خنډونه په شرایطو پورې اړه لري او د ساحې د نفوس ترمنځ بیلابیلو ډلو لپاره او د وخت په تیریدو سره به توپیر ولري. دا خنډونه کیدای شي ټولنیز وي یا د فزیکي چاپیریال سره تړاو ولري. کیدای شي د قواعدو یا پالیسیو له امله ځینې خنډونه شتون ولري چې د نفوس ځینې ډلې زیانمنې کړي.

په ساحه کې ارتباطي فعالیتونه د ټولنې د معنی لرونکي ګډون او د سهم لرونکو د حساب ورکونې په ترویج کې اړین دي. په ساحه کې د ژوند په اړه د ساحې د اوسیدونکو نظرونه باید په پام کې ونیول شي او د پریکړې کولو په ډېرو پروسو کې شامل شي. د ساحوي مدیرانو نقش د بېلابېلو سهم لرونکو ترمنځ د دوه اړخیزو معلوماتو جریان لپاره د یوې

وسيلې ايجادول دي. د ساحې د ورځنيو ننګونو په اړه د رڼو او دوامداره خبرو اترو په پای کې د ټولنې ګډون اغېزناک کېږي. همدارنګه د ساحې له نفوس سره مستقيمې اړيکې، د متني پيغامونو او ويب پاڼو په څېر رسنيو کارول په ساحه کې د خبرو اترو د ترويج لپاره معمول خبره ده.

⊗ د (CHS) ۳، ۴، ۵ او ۸ ژمنتياوو ته رجوع وکړئ.

## ۲.۱ معيار:
## د ټولنې ګډون

د ساحې نفوس کولی شي په ساحوي مديريت پورې اړوند تصميم نيولو کې معنی لرونکی ګډون وکړي.

### کليدي کړنې

- د ساحې د مديريت د يوې برخې په توګه، د اغېزناک ګډون د پراختيا لپاره د اړين وخت او سرچينو پلان او بوديجه چمتو کړئ.
- له ټولو سهم لرونکو سره هوکړه وکړئ چې د ساحې نفوس د پروژې د دورې په هر پړاو - ارزونه، پلان جوړونه، پلي کولو، څارنه او ارزونه – کې شکيل دی او برخه په کې اخلي.
- د اشتراکي ميتودولوژۍ کارولو لپاره ساحوي کارکوونکو ته روزنه ورکړئ او ملاتړ يې وکړئ.
- د خدمتونو وړاندې کوونکو لخوا د اشتراکي ميتودولوژۍ او تګلارو کارول وهڅوئ.
- د ګډون او واک څخه احتمالي ناوړه ګټه اخيستنه وڅارئ او مديريت يې کړئ.
- د اړتياوو څارنې ته د ځواب ويلو لپاره د ساحوي مديريت پروګرامونه تنظيم کړئ.

### کليدي شاخصونه

- د ساحې د نفوسو ٪ چې له هغه فرصتونو څخه راضي دي چې دوی يې د ساحې د پرېکړو اغېزمنولو لپاره لري
- د کميټې د ښځينه غړو ٪ چې احساس کوي د پرېکړې کولو پروسو کې د دوی نظرونه په پام کې نيول کېږي
- د بين الاداري همغږۍ د ناستو ٪ چې د ټولنې استازې پکې ګډون لري

### لارښودنوټونه

1. ډېرې وختونه داسې انګيرل کېږي چې **د ښځو ګډون** يو جلا ميکانيزم ته اړتيا لري. دا کيدای شي په محدود کلتوري چاپيريال کې د ښځو سره د شکيلتيا لپاره يوه ګټوره لاره وي او کيدای شي د ښځو لپاره د محرمې فضا او ځای وړاندې کولو لپاره جلا ډلو ته اړتيا وي چې پر هغو مسلو بحث وکړي چې دوی اغيزمنوي. که څه هم د ساحې د اداره کولو په عمومي جوړښتونو کې د ښځو د ګډون د پياوړتيا لپاره بايد جلا ډلې سره يوځای شي. په عمومي کميټو کې د ښځو ګډون هم بايد ترويج شيي چې د ساحې اړوند پريکړه کولو کې د نارينه وو د اکثريت نفوذ څخه مخنيوی وشي.
2. په تصميم نيولو کې ګډون کول کيدای شي رسمي يا غير رسمي وي، چې د خدمتونو وړاندې کوونکو په څېر بېلابېل سهم لرونکي په کې شکيل وي. که څه هم ګټوره به وي چې مختلفې اشتراکي تګلارې او ستراتيژۍ وکارول شي، خو د بيلابيلو سازماني پاليسيو، داخلي تجربو، ملاتړ (په غير مستقيم ډول د کارکوونکو يا په مستقيم ډول د تمويل له لارې) ګډه ګومارنه شايي د ساحې د نفوسو ترمنځ ګډوډي او اندېښنې راپيدا کړي. د ساحوي مديريت اداره بايد د ټولو اړوندو سهم لرونکو سره خبرې اترې پيل کړي چې د ساحې له نفوسو سره **کارول شوو تګلارو کې روڼتيا لوړه کړي** او د غوره کړنو او زده شوو درسونو د شريکولو لپاره فورمونه جوړ کړي. د ساحوي مديريت اداره بايد د

غبرګون د مختلفو پړاوونو له لارې د ټولنې د مستقيم ګډون او د ټاکل شوو استازو لخوا د غير مستقيم استازيتوب ترمنځ سم توازن رامينځته کړي.

3. **د ګډونوالو لخوا د ځان انتخاب** په ځينو حالتونو کې د ډېر تنګ يا ډېر پراخ انتخاب څخه د بريالي کېدو د يوې لارې په توګه ليدل کيدی شي. مخکې له مخکې د بحث يا تصميم نيولو موضوع اعلانول ګډون کوونکو ته تر يوه بريده اجازه ورکوي چې غوره کړي څه ډول، چيرته او کله دوی غواړي ونډه واخلي.

4. د ساحوي مديريت اداري اړتيا لري چې **کوربه ټولنې** هم په پام کې ونيسي، څنګه بېځايه توب پر دوی او سرچينو ته د دوی پر لاسرسي اغېز کوي، چې د اندېښنو ايجادولو مخه ونيسي او هغه لارې شاملې کړي چې له طريقه يې دوی کولی شي په هغو پريکړو کې برخه واخلي چې دوی اغيزمنوي.

5. په **غير کمپي تنظيماتو** کې، د ټولنې جوړښت داسې روزل کيږي چې لومړيتوبونه وپيژني او ټوليزې ستونزې د دوديزو پلان شويو او غير رسمي ساحو په څېر حل کړي. د کمپ د همغږۍ او کمپ د مديريت په دې دوه طريقو کې د اشتراکي تخنيکونو توپير به ډېر په دې اړه وي چې شکيلتيا د چا لپاره ده. د کمپ په تنظيماتو کې، دا په ابتدايي توګه نادولتي موسسې وي، او د سيمې پر بنسټ د کمپ د همغږۍ او کمپ د مديريت پروګرامونو کې، دا د محلي حکومتونو يا چارواکو او خدمتونو وړاندې کوونکو په ګډون پراخ مخاطبين وي.

6. د ساحوي مديريت اداري بايد درک کړي چې **د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو** کې هغه خلک شامل دي چې اوږدمهالي حسي، فزيکي، رواني، فکري يا نورې نيمګړتياوې لري چې له مختلفو خنډونو سره په تعامل کې، په بشري پروګرامونو، خدمتونو يا خونديتوب کې د دوی د ګډون يا لاسرسي مخه نيسي. بشردوستان بايد هڅه وکړي چې د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو ظرفيتونه وپيژني چې په بشردوستانه غبرګون کې ونډه واخلي او همدارنګه د تبعيض د ډېرې ډولونو پر وړاندې غبرګون کې مرسته وکړي چې دوی ورسره مخ دي.

⊗ د ګډون د ډولونو او پر وړاندې يې ننګونو او همدا ډول د ټولنې د ګډون د چيک لست په اړه نور د کمپ مديريت کڅوړې ۳ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د حکومتولۍ او د ټولنې د ګډون ميکانيزمونو د چيک لست جوړولو په اړه د کمپ مديريت کڅوړې ۲ څپرکي وګورئ.

⊗ د معلوليت لرونکو وګړو د حقونو په اړه دلته ولولئ:
*www.un.org/development/desa/disabilities/convention-on-the-rights-of-persons-with- disabilities.html*

⊗ د ښځو د ګډون په اړه نور د کډوالو لپاره د ناروی پلاوي، د کمپ مديريت تګلارو له لارې د بېځايه شوو ښځو او نجونو د ګډون او خونديتوب لوړاوي، کې ولولئ

⊗ په دوديزو او له کمپ څخه بهر تګلارو کې د کمپ کمېټې د ګډون ايجادولو د رهنمايي تخنيکونو کارولو د څرنګوالي په اړه وګورئ: *www.youtube.com/watch?v=cExBGw9g3aM*

⊗ د غيرکمپي تنظيماتو په اړه نور د کمپ د همغږۍ او کمپ د مديريت د نړيوال کلستر ۲۰۱۹ مديريت کې ولولئ

## ۲.۲ معيار:
## له ټولنو سره د معلوماتو شريکول

د بېځايه شوي ټولنې، کوربه ټولنې او نورو ټولو سهم لرونکو سره منظمې اړيکې مناسبې او اړونده دي.

### کليدي کړنې

- د ښکيلو سهم لرونکو لپاره په مناسبو ژبو او بڼو کې د معلوماتو خپرولو ميکانيزمونه چمتو کړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې په ابتدايي او روانو ارزونو کې د غوره ارتباطي ژبو، بڼو او چينلونو په اړه پوښتنې شاملې دي.
- د ټولو ادارو لخوا د کارولو لپاره منل شوي معياري کليدي پيغامونه يا ډېرې پوښتل شوې پوښتنې چمتو او په منظمه توګه تازه کړئ.
  - د ناروغۍ د خپريدو په جريان کې، د روغتيا وزارت په شمول، د روغتيايي فعالانو څخه ټولنې ته د پيغام رسولو په اړه هراړخيزې لارښوونې وغواړئ.
- د معلوماتو د شريکولو لپاره لړترلړه معيارونه يا لارښوونې چمتو کړئ او ټول خدمت وړاندې کوونکي وهڅوئ چې ويې کاروي.
- په منظمه توګه د ساحې نفوس ته د وړاندې کېدونکو خدمتونو په اړه معلومات خپاره کړئ، چې اداري نقشونه او ماموريتونه، د خدمتونو جزئيات او د اړيکو معلومات په کې شامل وي.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې دا د خدمتونو له بدلون سره سم تازه کيږي، د بيلګې په توګه، د خوراکي توکو د راشن بدليدل.
- د سيمې له خلکو سره تعقيب کړئ چې ډاډ ترلاسه کړئ چې پيغامونه او معلومات ترلاسه شوي او درک شوي دي.

### کليدي شاخصونه

- د ساحې د نفوسو ٪ چې د دې وړتيا لري چې د خدمتنو وړاندې کوونکو (اداري يا کارکوونکو) نوم واخلي
- د ساحې د نفوسو ٪ چې وروستي کليدي پيغامونه مناسب ګڼي
- د مهمو پيغامونو د شريکولو لپاره د خپرولو مناسبې طريقې کارول کيږي

### لارښودنوټونه

1. د کمپ او غير کيمپي تنظيماتو لپاره کليدي کړنې د بېځايه شويو ټولنو او کوربه ټولنو لپاره د **ساحې په کچه معلوماتي کمپاينونو** پر ايجادولو او شريکولو ټينګار کوي. د کمپ څخه بهر تنظيماتو اصلي توپير مختلفې اړينې طريقې دي - ځکه چې د پلان شوي ساحو (ټولو ډولونو) څخه بهر ګاونډ کې د معلوماتو خپرول خورا ستونزمن کار دی ځکه چې خلک سره خپاره او جلا کيږي. په داسې تنظيماتو کې، د معلوماتو شريکولو لپاره د موجوده ميکانيزمونو رامينځته کولو ته هم اړتيا ده، په داسې حال کې چې په سيمه کې د خلکو پراخه اړتياوو ته هم پام شوی وي. د کمپ تنظيمات شايي د ورته کچې ژبان مننې سره، نسبتا د ساحې ډېر متجانس پروفايل ولري.
2. د تمرکز ډلې **د انتقال مرکزونو او د تخليې ساحو** کې کارول کيدی شي چې د ساحې له خلکو سره معلومات شريک کړي.
3. د ساحې نفوس شايي **د سواد مختلفې کچې** ولري (د بيلګې په توګه، د ماشومانو سواد د لويانو سواد سره توپير لري)، او په ځينو ځايونو کې له يوې څخه زياتې ژبې ولري. دوی احتمال لري چې د معلوماتو پر مختلفو سرچينو باور وکړي، د بيلګې په توګه، ځوانان او زاړه خلک اکثرا د معلوماتو پر مختلفو سرچينو باندې باور کوي. ځينې

خلک د ځينو ډولونو معلوماتو او بنو ته د لاسرسي ستونزه هم لري (د بېلګې په توګه، هغه کسان چې حسي يا ادراکي نيمګړتياوې لري)

⊗ د معلوماتو خپرولو او د معلوماتو خپرولو د چيک لست په اړه نور د کمپ مديريت کڅوړې په ــ ځېرکې کې ولولئ

⊗ د معلوماتو شريکولو په اړه نور د اصلي بشري معيارونو په ۴ ژمنتيا کې ومومئ

## ۲.۳ معيار: فيډبک او شکايتونه

د ساحې نفوس، بېځايه شوي او کوربه، د خدمتونو وړاندې کوونکو ته د فيډبيک او شکايتونو اداره کولو لپاره خوندي او ځواب ويوونکو ميکانيزمونو ته لاسرسی لري.

### کليدي کړنې

- د ساحې د جوړولو پر مهال او د ساحې له خلکو او خدمت وړاندې کوونکو سره، د غبرګون په ګډون، د فيډبک او شکايتونو همغږي ميکانيزمونه ايجاد کړئ.
  - له اړتيا سره سم، له خدمتونو وړاندې کوونکو څخه مختلف ميکانيزمونه همغږي يا يوځای کړئ.
  - د فيډبيک او شکايتونو د سپارلو لپاره د مختلفو بنو يوه ټولګه وکاروئ، لکه شفاهي، ليکلي، الکترونيکي، کاغذي، د تبصرو بکسونه، د مرستې ميزونه او هاټ لاينونه
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې ميکانيزمونه د محرميت ساتلو وړتيا لري.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې په ميکانيزم کې د غبرګون منل شوی او واقع بينانه مهال ويش شامل دي.
  - د فيډبيک او شکايتونو تعقيب سيستم ايجاد کړئ.
  - د معلوليت سره سره معلوماتو ته د لاسرسي او څرګندولو لپاره د خلکو وړتيا تضمين کړئ.
  - د اړتيا سره سم طرزالعملونه تازه کړئ، د بيلګې په توګه، د خدماتو بدلي شوې کچې.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د فيډبيک او شکايتونو د ميکانيزمونو په اړه معلومات په مناسبو ژبو او بنو کې موجود دي چې د سواد زده کړې او ټيکنالوژۍ مختلفې کچې يې په پام کې نيولې وي او د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو لپاره د لاسرسي وړ وي.
- کارکوونکو ته د محرميت په اړه روزنه ورکړئ.
  - د خدمتونو وړاندې کوونکو سره کار وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې په ټوله ساحه کې ټول کارکوونکي شريک تفاهم لري.
- فيډبک او شکايتونو ته ځواب ورکړئ، تعقيب او مستند يې کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې د مخنيوي د راپور ورکولو چينل  او د تعقيب ميکانيزمونه موجود دي
  - د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې د مخنيوي او د پېښو د راپور ورکولو په اړه د ساحې خلکو، بېځايه شوو او کوربنو ته پوهاوی ورکړئ.
- وڅارئ چې د فيډبيک او شکايتونو ميکانيزم کار کوي. که اړتيا وي، مستقيماً د خدمتونو له وړاندې کوونکو سره تعقيب کړئ که چيرته د ساحې خلک انفرادي اداري ميکانيزم څخه ځواب ترلاسه کولی نه شي.

### کليدي شاخصونه

- د ساحې د خلکو ٪ چې د فيډبيک او شکايتونو له ميکانيزمونو څخه خبر دي او پوهيږي چې څنګه ورته لاسرسی ومومي
- د هغو شکاياتو يا فيډبيک ٪ چې څيړل شوي، حل شوي او پايلې يې د هوکړه شوي وخت دننه شکايت کوونکي ته بيرته وړاندې شوي دي.
- د ساحې د اداره کولو د جوړښت د غړو د ډلو ٪ چې د سلوک مقررې په اړه روزل شوي دي.

### لارښودنوټونه

1. د کمپ په تنظيماتو کې د فيډبيک ترلاسه کول ډيری وختونه منفي تړاو لري. هغه خلک چې له مرستې څخه محروم شوي **د شکايت حق** لري، او سره له دې چې ټول شکايتونه ممکن حل نه شي، خو ټول اړتيا لري چې ځواب ترلاسه کړي. د بېځايه شوې ټولنې ژبه بايد د خلکو د خوښې ژبه وي. د شکايتونو د پروسيجرونو لپاره بايد معياري طرزالعملونه ايجاد شي او د کارکوونکو او د ټولنې مشرانو له روزنې سره مله شي، او بايد د لاسرسي، اغېزناکتيا او محرميت اړخونه په کې شامل وي.
2. د بېځايه شوې ټولنې **د ټولو غړو** نظرونه او اړتياوې، د کوربه ټولنې د خلکو په ګډون، د نظرياتو او شکايتونو ميکانيزمونو له لارې په ښو بنو کې اوريدل کيږي.
3. د فيډبيک لپاره **د ارتباطي وسايلو** په بېلګو کې د شکايتونو کميټې، د شکايتونو اوريدلو کميټې، د وړانديزونو بکسونه، د تليفون خدمتونه، د ساحوي مديريت اداري يا بشردوستانه ټولنې ته ليږل شوي ليکونه، هاټ لاين، او لنډ ليکلي پيغامونه شامل دي. په دوی کې د معياري نظارت له فورمو سره کور په کور ليدنې هم شاملې دي چې د ساحوي مديريت اداري د کارکوونکو لخوا د مخکې ټاکل شوو ساعتونو په جريان کې ډکې شوې وي.
4. مهمه ده چې داسې طرزالعملونه رامينځته کړل شي چې **د هويت او محرميت** ډاډ ترلاسه کړي. د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې د مخنيوي او د بشري حقونو سرغړونې په څېر حساسو مسلو تعقيب او راجع کولو پروسيجرونه بايد په غوره توګه د يوې اداري مسؤليت وي چې د خونديتوب د مسؤل، يا د اړونده سکتور اداري، په توګه کار کوي.
5. کارول شوي **تګلارې** بايد ځانګړو شرايطو ته ځواب ووايي او د فيډبيک د اداره کولو طريقې پورې اړه لري. د غير رسمي او رسمي ميکانيزمونو له اختلاط څخه ډيری وختونه کار اخيستل کيږي. په عين حال کې، د فيډبيک او شکايتونو ميکانيزمونه بايد د عامو کارول کيدونکو ارتباطي ميتودونو سره ډيزاين شي، غوره شي او ښکيل خلک پرې وپوهول شي. دا موارد بايد د مناسب فيډبيک او شکايتونو ميکانيزم د ځای په ځای کولو پر مهال په پام کې ونيول شي: د ساحې د نفوسو د سواد کچه؛ د ټولو لخوا د ميکانيزم کارولو لپاره خوندي لاسرسی، د زيان منونکو ډلو په ګډون؛ د ارتباطي ملاتړ محرميت او د پروسې د پلي کولو لپاره موجودې سرچينې.
6. څومره چې ممکنه وي، د ساحوي مديريت اداري بايد د رسمي او غير رسمي فيډبيک مختلف ميکانيزمونه **همغږي او هماهنګ** کړي، د تکرار مخنيوی وکړي او په هغه وخت کې يې تاسيس کړي چې کله بل نه وي. تر ټولو مهمه دا چې د ساحوي مديريت اداري بايد د ټولو ادارو د ښکيلولو لپاره اډووکيسي وکړي.
7. د خونديتوب ډيټا راټولول بايد يوازې هغه وخت ترسره شي کله چې د غبرګون ظرفيت شتون ولري او د ساحې اوسيدونکو ته توضيحات ورکړل شي چې دا معلومات به څنګه کارول کيږي. د خونديتوب مخکښه اداره بايد د هغو ادارو ظرفيت لوړ کړي چې نور ملاتړ ته اړتيا لري چې د محرميت ډاډ ورکړي، د خونديتوب د ځانګړو ادارو ته قضيې راجع او د قضيې د مديريت کافي سيستمونه تنظيم کړي.

⨂ د فيډبک او د شکايتونو ميکانيزم په اړه نور د کمپ مديريت کڅوړې په ۳ څپرکي کې ولولئ.

⨂ د فيډبک او د شکايتونو ميکانيزمونو په اړه نور د *(CHS)* په ۴ او ۵ ژمنتيا کې ومومئ

## ۲.۴ معیار:
## د اداره کولو جوړښتونه

د ادارې ټولشموله او استازیتوب کوونکې جوړښتونه حساب ورکوونکي وي او دا ظرفیت لري چې د ساحې د نفوس اړتیاوې پوره کړي.

### کلیدي کړنې

- د موجوده ګډون جوړښتونه او د ځواک متحرکات وارزوئ او پرې پوه شئ.
- په ټولنه کې له کلیدي معلوماتو ورکوونکو او نورو سهم لرونکو سره د ساحې د اداره کوونکو ډلو یا کمیټو د جوړښت او انتخاب په اړه مشوره وکړئ.
- د موجوده اداري جوړښتونو یا د ټولنې مشرتابه سره یوځای شئ، تصویب یې کړئ یا یې ملاتړ وکړئ.
- د کوربه ټولنو رول وارزوئ او داړ ترلاسه کړئ چې د دوی غږ د ادارې په جوړښتونو کې اوریدل شو دی، په ځانګړې توګه د شخړو په حل کې.
- د ساحوي مدیریت د مختلفو ډلو یا کمیټو لپاره، د سلوک مقررې په شمول، د دندو لایحه چمتو کړئ.
- د ګروپونو یا کمیټو لپاره د هوکړه شوې اشتراکي انتخابي پروسې څخه کار واخلئ.
- د دې اشتراکي جوړښتونو لپاره اډووکیسي وکړئ چې په ساحه کې د مرستې وړاندې کولو او خوندیتوب اړوند پریکړه کوونکو پروسو کې د پام وړ نقش ولوبوي.
- د کوربه ټولنې په ګډون د ساحې ټول نفوس ته د ډلو یا کمیټو د دندو او مکلفیتونو په اړه خبر ورکړئ.
- په سیستماتیک ډول د ښځو، ځوانانو او کم استازیتوب لرونکو خلکو سره د شکیلتیا خلاقي لارې وارزوئ چې د دوی عزت ته درناوی وکړئ او د هر ډول بدنامۍ مخه ونیسئ. د دې خلکو او ډلو ملاتړ وکړئ ترڅو داړ ترلاسه شي چې دوی د پریکړې کولو پروسو کې شامل دي او معنی لرونکی نقش لري.
- د ټولو بهرنیو سهم لرونکو (خدمتونو وړاندې کوونکو، ځایي حکومت او کوربه ټولنې) سره اړیکه ونیسئ چې دوی د ادارې له هوکړه شوي جوړښت، د ډلو یا کمیټو دندو او مکلفیتونو او له دوی سره د کار کولو د څرنګوالي څخه خبر شي.
- د ساحې د اداره کوونکو کمیټو یا ډلو ظرفیت لوړ کړئ.
- د ساحې د اداره کوونکو کمیټو او ډلو فعالیت د دوی د دندو له لایحې سره وڅارئ، او د کمیټو او ګروپونو سره کار وکړئ ترڅو داړ ترلاسه کړئ چې دوی د ساحې خلکو ته ځواب ورکوونکي دي.

### کلیدي شاخصونه

- د ساحې د خلکو ٪ چې احساس کوي چې د ساحې د ادارې جوړښت کې د دوی استازیتوب شوی دی
- د ساحې د خلکو ٪ چې راپور ورکوي چې د ساحې اداري جوړښتونه ټولشموله، اغیزناک دي او ټولو بېځایه شویو خلکو ته رسیږي
- د ادارې چې جوړښتونه د خلکو د جوړښت استازیتوب کوي.

### لارښودنوټونه

1. د یو **استازیتوب کوونکي ساحوي اداري جوړښت** رامینځته کول چې ښځې، ماشومان او د لړه کیو ډلې په کې شاملې وي، په هر ډول عملیاتي شرایطو کې توپیر لري. د ټولنې **د نقشه کارلو تمرینونه** د ساحوي مدیریت ادارو

لپاره ګټوره وسیله کیدی شي. د وخت په تیریدو او په هر ډول شرایطو کې (نه یوازې په اوږدمهاله دوامداره شرایطو کې) دا وسیله کولی شي د مهمو مسلو په اړه د کلیدي سهم لرونکو نظرونه، او همدارنګه د خلکو اړتیاوې او د دوی د اړیکو ترجیحاتي لارې روښانه کړي.

2. هغه **خنډونه (کلتوري، فزیکي یا ټولنیز-اقتصادي)** چې کولی شي د اداري په جوړښتونو کې د معنی لرونکې ګډون کولو څخه ځینې ډلې محرومې کړي، باید په ګوته کړل شي، او د کمولو لپاره یې اقدامات وشي. په ټولنه کې د ځواک د متحرکاتو درک کول، هم د بېځایه شوو او هم د کوربه ټولنې، او همدارنګه هغه خنډونه چې مختلف ګروپونه د تصمیم نیولو په برخه کې ورسره مخ دي، د ټولو ډلو د ګډون د زیاتوالي په لور د کار کولو د غوره لارو د تعریفولو لپاره مهم ګامونه دي.

3. په ځینو شرایطو کې - په ځانګړې توګه د کمپونو څخه بهر - د ټولنې استازیتوب، اداري جوړښتونه یا رهبري ښایي **وار دمخه شتون ولري**. له همدې امله، خورا مهمه ده چې یو بشپړ تحلیل ترسره شي ترڅو پوه شئ چې دا ډلې څنګه کار کوي، د دوی نقش څه دی، او تر کومه بریده دوی د ټولې ټولنې د استازیتوب کولو توان لري. د دې تحلیل پایلې ته په کتلو، ممکن نوي جوړښتونه ایجاد شي. بیا هم، مناسبه به وي چې موجوده جوړښتونه پراخ شي، یا په ساده ډول د دوی ملاتړ او ظرفیت لوړ کړل شي چې د بشري مرستو او خوندیتوب په همغږۍ او اداره کولو کې نقش ولوبولی شي.

4. **د لنډ مهاله ټولیزو مرکزونو** لپاره د ګډون ماډلونه (د انتقال ساحو او د تخلیې مرکزونو په شمول) عموما د ډیټا راټولولو یا وېشلو پر ښه کولو، د مناسبو بشري خدمتونو ډیزاین کولو، او د معلوماتو خپرولو او د شخړو د حل لپاره د فورمونو پر وړاندې کولو تمرکز کوي. د دې چارې لپاره ماډلونه په مکرر ډول د دائمي کمیټو، د ټولنې د خبرتیا بورډونو یا د فرعي سکتور تخنیکي ګروپونو بڼه خپلوي. اوږدمهاله ټولیز مرکزونه کولی شي ورته هدفونه ولري مګر مختلف ډولونه لري (لکه ملي اتحادیې)، د مدني ټولنې سره اړیکه لري یا د اډووکیسي هدفونه لري.

5. د دې ډاډ ترلاسه کول چې د ټولنې له غړو سره مشورې ترسره کیږي ترڅو د خطر څخه سمدستي وروسته د دوی ځانګړو **کلتوري دودونو او عنعناتو** ته لومړیتوب ورکړل شي، د ټولنیز یووالي د بیرته رامینځته کولو لپاره ارزښتناکه ثابتیدلی شي. په ورته وخت کې، ځینې کلتوري کړنې کولی شي د ټولنې عناصر زیانمن کړي، او ساحوي مدیران باید بشري حقونو ته درناوی له دودونو سره په توازن کې وساتي. له همدې امله د اداري په جوړښت کې باید نه یوازې نارینه، ښځې، ماشومان او د زیانمنې ډلې استازي، بلکې فرهنګي مشران او استازي هم وي.

6. **د سیمه ییز بازار فعالانو** سره د سهم لرونکو د ډلې په توګه معلومات کول یا مشوره کول، چې معیشت ته له وختي رغیدنې سره تړاو ورکوي، حتی که په لرې پرتو ځایونو کې هم وي.

⊗ د استازو د ټاکلو او د اداري جوړښتونو په اړه نور د کمپ مدیریت کڅوړې په ۲ او ۳ څپرکي او د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت کلستر د ټولیز مرکز لارښود په ۴ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د اداري او د ټولنې د جوړښت میکانیزمونو چیک لست د کمپ مدیریت کڅوړې په ۲ څپرکي کې وګورئ.

⊗ د ټولنې د ګډون په اړه نور په اصلي بشري معیارونو کې ومومئ

⊗ د ماشومانو د ګډون د ملاتړ د څرنګوالي په اړه د ماشومانو د خوندیتوب لږترلږه معیارونو، د کمپ مدیریت ۲۳ معیار او او ماشومانو خوندیتوب کې ولولئ

# د ساحې چاپېریال

# ۳. د ساحې چاپېريال

د ساحې موقعيت او پلان جوړونه د ښېځايه شويو خلکو پر روغتيا، هوساينې او خونديتوب، او همدارنګه د ساحوي مديريت اداري پر وړتيا باندې چې ورځني فعاليتونه اداره کړي، د ګډون ډاډ ورکړي او د کورنۍ ټولنې سره اړيکې پراختيا کړي، خورا جدي اغيز لري. کټ مټ لکه د ساحې فزيکي موقعيت او ترتيب چې مهم دی، هغه پروسه هم مهمه ده چې له مخې يې ساحه ايجادېږي، وده کوي ، بدلون کوي ، اصلاح کېږي او په نهايت کې تړل کېږي.

سره له دې چې ساحې ډېرى وختونه په دې تمه تنظيم شوي وي چې لنډمهاله به وي، خو په پلان جوړونه کې بايد تل د اوږدې مودې اړتياوو، پراختيا او غير متوقعه پېښو ته ځای ورکړل شی. د کوربه ټولنې اړتياوې او ظرفيتونه بايد د خدمتونو، زېربنا او تاسيس شويو شتمنيو په وړاندې هم و ارزول شي - لکه ښوونځي، د ټولنې تالارونه، سړکونه، د برېښنا کېبلونه او د اوبو ځايونه - چې شايي محلي ټولنې ته هم ګټه ورسوي.

په نهايي توګه ملي چارواکي د ځمکې د تخصيص مسوليت لري. د ساحوي مديريت اداره بايد ، د کلستر/سکتور رهبري ادارو په ملاتړ سره که چېرته موجودې وي، ډاډ ترلاسه کړي چې د ساحې د ژوندانه دوران کې ترسره شوي ټول اقدامات جامع، ټولشموله، ښه همغږي شوي او د ښېځايه شويو خلکو حقونه ساتي. د يادولو وړ ده چې په ځينو شرايطو کې، په ځانګړې توګه د طبيعي خطرونو له امله د راپورته شوو ناورينونو اړوند ښېځايه توب په وخت کې، د ساحوي مديريت او همغږۍ نقشونه ډېرى وختونه د ملي چارواکو لخوا اجراء کېږي.

ځايي چارواکي نه يوازې د بحران لپاره لومړين ځواب ويونکي دي، بلکې په ځينو تنظيماتو کې به دوی په مستقيم ډول د ساحو اداره کولو مسؤلين وي. په نورو تنظيماتو کې، ملي حکومتونه کولی شي د بهرنيو ادارو يا د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مديريت کلستر څخه وغواړي چې په ګډه د بيړني غبرګون رهبري وکړي.

⊗ د اصلي بشري معيارونو له ۱ ژمنتيا سره تړاو.

## ۳.۱ معیار:
## خوندي او محفوظ چاپېریال

د ساحې ټول اوسیدونکي او د خدمتونو وړاندې کوونکي په باعزته چاپېریال کې ژوند کوي چې د زیان او تاوتریخوالي څخه خوندي او په امن وي.

### کلیدي کړنې

- د اداري جوړښتونو او خدمتونو له وړاندې کوونکو سره، د ساحې په پیل کې د خوندیتوب ساحه-محور پلان جوړ کړئ. دا پلان په منظم ډول تازه کړئ.
  - داړ ترلاسه کړئ چې د ساحوي مدیریت اداره د خوندیتوب او امنیت ارزونې او غبرګون په برخو کې کافي ظرفیت لري.
  - د بهرنیو او داخلي ګواښونو ارزولو لپاره د خطر پر بنسټ تګلاره وکاروئ او د ځواب ویلو لپاره یې مناسب اقدامات وکړئ.
  - په منظم توګه د خطرونو له اړخه ساحه وارزوئ، او د راپورته کیدونکو خطرونو سره سم احتیاطي پلانونه تازه کړئ.
  - که اړتیا وي، د انتقال پلانونه جوړ کړئ.
- د خدمتونو چمتو کوونکو، د ساحې پلان جوړوونکو او د ټولنې د اداري جوړښتونو سره، د ساحې منظمې څارنې او د خوندیتوب پلټنې ترسره کړئ، چې فزیکي زیربنا او د ټولنې چلند دواړه ارزوي. د خوندیتوب پلټنو په جریان کې موندل شوو "سرو ټکو" په نښه کولو لپاره د غبرګون پلان چمتو کړئ.
  - د خوندیتوب له همکارانو سره، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او د خوندیتوب نور خطرونه د خوندیتوب په پلټنو کې شامل کړئ، او داړ ترلاسه کړئ چې د اړتیاوو پر بنسټ، د خطرونو کمولو او دې خطرونو ته د ځواب ویلو لپاره اقدامات شتون لري.
  - په ټوله ساحه کې د نفوسو د ګڼوالي څارنه وکړئ.
  - د سرو ټکو په ځواب کې، په ساحه کې د ساحوي بیا تنظیم یا د نفوس بیا میشتیدنه په پام کې ونیسئ.
  - که اړتیا وي، د هغو کورنیو یا خدمتونو لپاره چې په ناامنه سیمو کې موقعیت لري د ځای پرځای کولو پلانون پلي کړئ.
- په اړونده کچو کې د خوندیتوب کمیټې رامینځته کړئ چې د ساحې ځانګړې ګواښونه یا خطرونه په نښه کړي.
- د ساحې خلکو ته د خطرونو اړوند اړیکو لپاره د معلوماتو چینلونه رامینځته کړئ او ویې ساتئ.
- د ساحوي مدیریت کارکوونکو ته په مناسبه توګه د خوندیتوب او امنیت روزنه ورکړئ او مناسب امنیتي تدابیر په پام کې ونیسئ.
- د راجع کولو مناسب میکانیزمونه تعقیب کړئ.

---

### کلیدي شاخصونه

- د خوندیتوب پلټنې څخه د کمولو د تجویز شوو کړنو ٪ چې په مستقیم ډول د ساحې ساتنې او ښه کولو پلانونو کې ځای پر ځای شوې وي (یا د ساحې د ساتنې فعالیتونو کې په ګوته شوې وي)

---

## لارښودنوټونه

1. د خوندیتوب پلټنې یوه وسیله ده چې د دې لپاره ډیزاین شوې ده چې د ساحوي مدیریت اداري او خدمتونو چمتو کوونکو ته یو پوهاوی ورکړي چې څنګه تولې ډلې (له خطر سره مخ ډلو په شمول لکه تنکي ځوانان، زاړه او د ځانګړو اړتیاوو لرونکي خلک) د شپې او د ورځې د تاسیساتو دکارولو پرمهال د خپل خوندیتوب او امنیت احساس کوي. شرایطو ته په کتلو سره، د خوندیتوب پلټنې باید د خوندیتوب له متخصص یا د ځانګړو روزل شویو مسؤلو کسانو سره یوځای ترسره شي. د خوندیتوب د پلټنو پایلې، د پایلو مشاهده یې ځارنه او نقشه کول بیا د ساحې د پلانوونکو او خدمتونو وړاندې کوونکو سره د کار کولو لپاره کارول کیدی شي (که چېرته شتون ولري) چې د هر ډول اندیښنو د حل لپاره مناسب ګامونه چمتو کړي. په دې ګامونو کې شایې د اړتیا وړ ځایونو کې د اضافي کلیدي تاسیساتو نصب کول، د اړتیا په صورت کې د ساحې برخې پراخول یا کمول، او د ساحې د ډیرو ګڼې ګوڼې لرونکو او لږ کارول شویو برخو ترمنځ توازن ساتلو لپاره د ټرافیک او معیشت بیا راستنول شامل وي.

2. د خوندیتوب د یو ګام په توګه، د رڼا ډېرې وسیلې نصب کیدی شي، مګر د ساحوي مدیریت اداري او د خدمتونو وړاندې کوونکي باید د دې احتمالي غیر ارادي پایلو څخه خبر وي. د ټولنې مشوره د حل یوه مهمه برخه ده.

3. د ساحې مختلفو برخو ته **د کورنیو انتقالول** یو ډېر پیچلې کار دی، او د خوندیتوب خطرونو سره مل وي چې شایي د ټولنې موجود جوړښتونه او ظرفیتونه زیانمن کړي. دا ډول حرکتونه باید یوازې هغه وخت ترسره شي چې بدیلونه یې شتون ونلري، او د ټولو شکیلو کسانو سره په بشپړه مشوره ترسره شي.

4. د ساحې په مختلفو برخو کې **د نفوس د زیاتې ګڼې ګوڼې** ستونزه (لکه د بازارونو او د اوبو نقطو شاوخوا) کېدی شي یو مهم فکتور وي چې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي یا د خوندیتوب د خطر د نورو ډولونوخطرونو په زیاتولو سره مرسته کوي. مشاهده یې پلټنې به د ستونزو ساحو او احتمالي حلونو په پوهیدو او روښانه کولو کې مرسته وکړي.

5. د خوندیتوب او عزت په اړه د ښځو او ماشومانو سره یوازې مشوره کول کافي ندي، د مشورې پایلې باید عملي شي. د ټولنیزو سلسله مراتبو او ځواک د متحرکاتو په اړه خبر اوسئ، او په فعاله توګه له پریکړه کوونکو سره ښکیل شئ چې د ښځو او ماشومانو حقونه پیاوړي کړئ ترڅو په ساحو کې اسانتیاوو ته په خوندي توګه لاسرسی ومومي.

6. **د خوندیتوب کمیټي** یوه پراخه اصطلاح ده چې په ساحه کې د امنیت ټول ډولونه په کې شاملیدلی شي، مګر معمولا د اور وژنې مخنیوي، لټون او ژغورنې، لومړنۍ مرستې او داسې نورو لپاره رضاکارانه اقداماتو پورې اړه لري.

⊗ همدا ډول د سفییر کتاب، د سرپناه څپرکی وګورئ

⊗ د ساحې د خوندیتوب او امنیت او همدا ډول د خوندیتوب او امنیت د چیک لست په اړه نور د کمپ مدیریت کڅوړې په ۱۲ څپرکي کې ولولئ.

## ۳.۲ معیار: مناسب چاپېریال

د ساحې ټول اوسیدونکي داسې یو چاپېریال لري چې له فزیکي، ټولنیز او کلتوري پلوه مناسب دی.

## کلیدي کړنې

- بد ټولنې د ګډون د اسانتیا لپاره د ساحې د پراختیا کمیټه جوړه کړئ.
- د ټولنې مشورې وکاروئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې د ساحې پلان په ساحه کې د ټولو ډلو اړتیاوې پوره کوي.
  - د اسانتیاوو د مناسبې کارونې په اړه د ساحې د خلکو هیلې ترلاسه کړئ، په یاد ولرئ چې دا هیلې ټولې یو شان نه وي.

- د بحران دمخه شرایطو څخه د ساحې د نفوسو اړتیاوو او ظرفیتونو کې بدلونونه وارزوئ.
- د بېځایه شویو او کوربه ټولنو سمدستي اړتیاوې او ظرفیتونه په ګوته کړئ، او د په خطر کې ډلو ځانګړې اړتیاوې په پام کې ونیسئ.
- د ډېرو زیانمنونکو خلکو ملاتړ وکړئ چې د پلانولو پرمهال یې د اړتیاوو په اړه غږ پورته شي، او اډووکیسي وکړئ چې د دوی اړتیاوې د ساحې د تاسیساتو په ډیزاین او ساتنه کې په پام کې ونیول شي.
- د ساحې په خلکو کې د معلولیت لرونکو ډلو سره ښکیل شئ. د ساحوي مدیریت ټیم کې د ځانګړو اړتیاوو لرونکو خلکو لپاره مسؤل شخص وټاکئ. که امکان ولري، د ساحې اسانتیاوو کې یو څه بدلونونه راولئ یا د دوی د اړتیاوو پوره کولو لپاره د ځانګړې لاسرسي په اړه خبرې اترې وکړئ.
- د ساحې په پلان جوړونه کې د ټولنې ګډون وځارئ ترڅو د دوامداره ښکیلتیا او د منابعو مناسب استعمال یقیني کړئ.

- د ساحې په کچه د پټو لپاره یو سیسټم پلان او ترتیب کړئ.
  - نالوستي اوسیدونکي په پام کې ونیسئ.
  - د اسانتیاوو (ټولیزو مرکزونو، د انتقال ساحو) په حالت کې، د پټي سیستم د خونو د تخصیص بنه خپلوي.
- د ساحې د ژوندانه دوران په اوږدو کې، د ساحې د پلانولو، تاسیس او ساتلو لپاره د کافي او مناسب تخنیکي تخصص غوښتنه وکړئ.
  - د بېځایه شویو او کوربه ټولنو تخنیکي ظرفیت وارزوئ او لوړ یې کړئ.
- د ټولنې د مشرتابه جوړښتونو، ملي یا ځایي چارواکو او د خدمتونو وړاندې کوونکو سره ښکیل شئ، چې ساحه د ساحې له پلان سره سمه تنظیم کړي.
  - د عدالت غوښتنې/اډووکیسي له لارې، ډاډ ترلاسه کړئ چې زیانمن شوي خلک اړینو خدمتونو او اسانتیاوو ته لاسرسی لري، چې د زده کړې او معیشت فرصتونه هم په کې شامل دي.
  - د ټولنې، د ساحې پلانوونکو او د خدمتونو له وړاندې کوونکو سره ښکیل شئ چې د ساحې د لوړاوي په وخت کې راپورته کیدونکې ستونزې په ګوته او حل کړي.
  - د خدمتونو وړاندې کوونکو په شمول کلیدي فعالان سره یوځای کړئ چې اړینو خدمتونو او تاسیساتو ته د منښت وړ فاصله او خوندي سفر (یا ټرانسپورټ) ایجاد کړي.
  - د ساحې له پلانوونکو، تخنیکي متخصصینو او د خدمتونو وړاندې کوونکو سره همغږي وکړئ چې اړینو خدمتونو او د معیشت فرصتونو ته لومړیتوب ورکړي او وړاندې یې کړي که چېرته له مخکې موجود نه وي.
  - د ساحې له پلانوونکو سره کار وکړئ چې سیالو تخنیکي اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړي او په مناسب ډول یې ترتیب کړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د مړو د ماتم او ښخولو اسانتیاوې کلتوري نورمونه منعکس کوي، په یاد ولرئ چې دا اصول په ټولو ځایونو کې یو شان نه وي.
- د ساحې چاپېریالي اغیزې په پام کې ونیسئ او د چاپېریالي زیان د محدودولو لپاره پلانونه جوړ کړئ.
- د مذهبي دودونو او عنعناتو، هنرونو، کلتوري پیښو او جشنونو او داسې نورو په موخه د کلتوري اسانتیاوو لپاره فضا او مناسب ځایونه تضمین کړئ.
- د ټولنې له استازو سره، ډاډ ترلاسه کړئ چې د ټولنې لخوا اداره شوي تاسیسات ساتل کیږي، او له منځه وړل یې په پام کې نیول کیږي.

- د خدمتونو وړاندې کوونکو ته د اډووکيسي يا مستقيم عمل له لارې، د ساحې بنسټيزه زيربنا وساتئ.
    - د پروژې په پروپوزلونو کې د اساسي ساتنې لپاره د بوديجې کرښه شامله کړئ.

## کليدي شاخصونه

- د ټولنې د ښکيلتيا او مناسبو تخنيکي مهارتونو سره د ساحې يو هوکړه شوی پلان موجود دی چې د بېځايه شويو خلکو د ټولو ډلو اړتياوې پوره کوي.
- د ساحې د نفوسو٪ د کورنه ټولنو په ګډون، دا په ګوته کوي چې ساحه د دوی اړتياوې، خونديتوب او لومړيتوبونه منعکس کوي.

## لارښودنوټونه

1. د ساحو **په پلانولو يا د ساحو په لوړاوي** کې د ساحوي مديرانو او د دوی ټيمونو نقش دا دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې ټول سهم لرونکي، د ساحې د نفوس او کوربه ټولنو په شمول، د ساحې د پلان په پراختيا کې برخه اخلي. د ساحې مديران د ساحې د اوسيدونکو او کوربه ټولنو ملاتړ کوي ترڅو د ساحې پلانولو او د ساحې د لوړاوي پريکړې باندې د ګډون کوونکو ميتودونو لکه ارزونې، مشورتي غونډو، متمرکزو ګروپي بحثونو او د ساحوي-کتنو له لارې اغيز وکړي. د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو او ښځک ته شوو ډلو سره بايد مشوره وشي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ساحې پلان د دوی اړتياوې منعکسې کوي او ځوابوي.
2. **د ساحې پراختيا کميټه** کې اړوند ځايي يا ملي چارواکي، د کلستر/سکټور مشران، د ساحې پلانوونکي، د خدمتونو وړاندې کوونکي، هايډرولوژيستان، انجينران، د ساحې د خلکو غړي، د جغرافيوي معلوماتي سيستم متخصصين، د عامې روغتيا متخصصين، وکيلان او د ځمکې اجارې  د برخې متخصصين او نور اړونده کسان شامل دي. څومره چې ممکنه وي تخنيکي معيارونه چې په سفيير کې موندل کيږي بايد د ساحې د پراختيا کميټې لخوا وکارول شي.
3. د ساحې پر بنسټ يا د ګرځنده کمپ مديريت عملياتونو کې، او همدارنګه **هغو ځايونو کې چې خلک په کې وار دمخه پخپل سر ميشت شوي** دي، د ساحې لوړاوی بايد په تدريجي ډول ترسره شي، څکه چې خلک به په پيل کې په طبيعي توګه د مالکيت احساس ولري چې کيدای شي د پراخو مشورو پرته د بياپلانولو چارې له ستونزو سره مخ کړي.
4. د **ښاري بې ځايه توب په حالت** کې، د ځمکې د اجارې خطرناک تړونونه او د ځای نشتوالی دا تقريبا ناشونې کوي چې د پام وړ ستر پرمختګونه او د ساتنې کارونه ترسره شي. په دې مواردو کې، د ساحوي مديريت اداره کولی شي د تيټ تخنيک ساحې غوره کړي، چې کور، ځمکې او ملکيت د احتياطي پروسې او د صلاحيت لرونکو ځايي چارواکو سره د ځمکې له اډووکيسي سره ملې وي. په ورته ډول، په ځينو ښاري شرايطو کې، د ساحې مديريت کولی شي د ټولنيزو اسانتياوو  لپاره اډووکيسي وکړي چې ښوونځي، ټوليز مرکزونه او د لومړنۍ روغتيا پاملرنې پوستې په داسې ځايونو کې جوړې کړل شي چې د بېځايه شويو خلکو او کوربه ټولنو له يو څخه زياتې ساحې ورته لاسرسی ولري.
5. **د ساحې پر بنسټ د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مديريت تګلارې** نوې لاره وړاندې کوي چې د جغرافيې لخوا تعريف شوې مرستې، د ټولنيز تحليل او خدمتونو وړاندې کولو له لارې، د ساحوي مديريت خدمت ترلاسه کوونکو ولسواليو، ګاونډ يا د په نښه شويو اشخاصو يا کورنيو سره، وړاندې کړي. د ناورين څخه سمدستي وروسته، زيانمنو شويو خلکو ته د لنډمهاله سرپناه چمتو کولو د سمدستي اړتياوو پوره کولو ترڅنګ، يو څه ورانولو او د کثافاتو لرې کولو ته اړتيا ده. پر دې بايد هوکړه وشي چې کومې سيمې يا ودانۍ بايد لومړی پاکې شي او کومې يې د لنډمهاله سرپناه لپاره کارول کيدی شي.
6. همدارنګه، د قانوني مقرراتو له مخې، د ناورين څخه وروسته د جنايي تحقيقاتو اړتيا، د تاريخي ودانيو د ساحو د ساتنې اړتيا، او د شخصي ملکيت او دولتي ملکيت لومړيتوبونه بايد په پام کې ونيول شي. دا کيدای شي د بيارغونې او د لنډمهاله سرپناه انتخابونو په موندلو کې ځينې مهم ځنډونه يا خنډونه وي.
7. د سايټ پلان جوړونه بايد **ګڼ يا مسلسل آفتونه** هم په پام کې ونيسي: د بيلګې په توګه، زلزله، وريسې سخت

باران، بيا وروسته لړزې، چې په ساحو کې اوسيدونکي خلک به د ډېرى آفتونو لخوا اغيزمن شي او ساحه به ډېرى تخنيکي پرمختګونو ته اړتيا ولري.

8. د ساحې مديران چې په ښاري چاپيريال کې د تخليې مرکزونه اداره کوي بايد د بيا پرانستل شوو / بيارغول شوو سړکونو شبکې له لارې د ټولو عامه خدمتونو (د بېلګې په توګه، په يوه لوري کې ښوونځي، په بل لوري کې د ښارګوټي تالار) سره د وصل کيدلو لپاره **حق غوښتنه وکړي** ځکه چې وروستی-لړزې يا نورې تعقيبي ناورينې پېښې ښايي د سرپناه د سترو غوراويو لکه د سپورت تالارونو پر دوامداره کارونې باندې د پام وړ منفي اغيز ولري.

9. د خدمتونو وړاندې کوونکي بايد وهڅول شي چې داسې تخنيکي غوراوي چمتو کړي چې د ټولو خلکو حقونو ته درناوی وکړي ، د معلوليت لرونکو اشخاصو او د ټولو عمرونو خلکو په شمول، چې په خونديې ډول اسانتياوو ته لاسرسی ولري. په هر حال، د ماشومانو، زړو کسانو او د خوځښت خنډونو سره مخ خلکو لپاره **ځانګړي يا تائيد شوي ټولشموله** ډيزاين او ساختمان ته اړتيا ليدل کېږي. په هغو سيمو کې چې تکرار په کې موجود وي، د ساحوي مديريت اداري بايد د ملاقاتو لپاره همکاران همغږي کړي. د راجع کولو لارې بايد په منظمه توګه تازه او وازمايل شي.

10. د ساحې د هرې برخې لپاره **د ټولنيزو تاسيساتو د شمير** د سم تناسب ټاکلو لپاره په سفيير کې د فضا د پلانولو او موضوعي شاخصونو څخه کار واخلئ.

11. د ساحې پلانول او تنظيمول د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مهم نقش لوبوي چې يوه ټولنه کولی شي د خطر څخه سمدستي وروسته **ځانګړو دودونو**، عنعناتو او د پوهې او مهارتونو لېږد ته دوام ورکړي. له همدې امله، نه بايد يوازې نارينه، ښځې او زيانمنونکي ډلې د اداري په جوړښت کې استازيتوب ولري، بلکې کلتوري مشران او استازي، او همدارنګه د محروم او بدنامه شوو ډلو استازي هم په کې ونډه ولري.

12. دا چې **خلک څنګه** هره ورځ **په ساحه کې فضا کاروي** د اوسيدونکو د کلتوري اړخونو، د بيړني حالت پړاو او د ورځې يا کال د وخت پر بنسټ سره توپير لري، او ښايي د وخت په تيريدو سره بدلون ومومي. د ساحې د اوسيدونکو پر ورځنيو کړنو پوهيدل کولی شي د دوی د اړتياوو پوره کولو او په ټوله ساحه کې د خونديتوب تضمينولو کې کليدي عامل اوسي.

13. **د ساحې د مديريت ګرځنده** ټيمونه لاهم د ساحو په ښه کولو کې ښکېليدی شي. ګرځنده ټيمونه کولی شي د ساحې د ساتنې اړين فعاليتونه اسانه کړي چې خلک په کې خپل ځانونه مومي او د معيشت د لړترلږه معيارونو او محافظت د ملاتړ لپاره د سرپناه ښه والی همغږي کوي (يا يې مستقيماً تنظيموي). ګرځنده ټيمونه کولی شي:

- د کورنۍ په کچه داخلي پارټېشنونه يا کړکۍ او دروازې ترميم کړي؛
- د ساحې خطرونه راکم کړي لکه د کثافاتو لرې کول، يا د حفظ الصحې د ساده شبکې ترميمول؛ يا
- د بېځايه شويو ټولنو لپاره چې په غير رسمي ساحو کې ژوند کوي، د اجاري امنيت د ډولونو اسانتياوې برابرول (لکه کرايه او د اشغال حق هوکړې).

⊗ د سفيير د سرپناه او مېشتيدلو ۲ معيار: د موقعيت او مېشتځای پلانول، وګورئ.

⊗ د ساحوي مديرانو او د ساحې د پلانولو او همدا ډول د تنظيمولو د چيک لست په اړه د کمپ مديريت د کڅوړې ۷ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د کمپ زېربنا د ساتلو د تضمين چيک لست په اړه د کمپ مديريت کڅوړې په ۲ څپرکي کې ولولئ.

⊗ د ماشومانو د خونديتوب په لږترلږه معيارونو کې د ماشومانو د خونديتوب تضمينولو لپاره د ماشومانو د خونديتوب له فعالانو سره د همکارۍ په اړه، د کمپ مديريت او د ماشومانو د خونديتوب ۲۳ معيار ولولئ.

⊗ په ټوليزو مرکزونو او له کمپ څخه بهر تنظيماتو کې د ساحو د لوړاوي په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره، د ګرځنده/ ساحې پر بنسټ تګلارې کاري رسالې له لارې د ټوليزو تنظيماتو د مديريت او همغږۍ لپاره د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مديريت کلستر وګورئ.

# د ساحې د خدمت همغږي او څارنه

# ۴. د ساحې خدمت او همغږي

د ساحې همغږي د معلوماتو شریکولو او د دوه اړخیزو هوکړه شوو هدفونو ترلاسه کولو لپاره د پلان جوړونې پروسه ده. په دې کې د اړونده بشردوستانه سازمانونو او د ساحې د خلکو سره یوځای کول شامل دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې فعالیتونه بشپړوونکي دي او له خلکو سره د دوی د اساسي حقونو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. د همغږۍ موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي چې مرستې او خوندیتوب د ساحې خلکو ته په اغېزناک او حساب ورکوونکي ډول وړاندې کیږي. په ساحه کې د ژوند معیارونه باید وساتل شي، او همداسې باید د ساحې د خلکو لپاره اساسي بشري حقونو ته بشپړ او مساوي لاسرسی موجود وي.

خدمتونه باید د ساحې د وګړو پر لور له پاملرنې او مسؤلیت سره پلان او ترسره شي ترڅو د منښت، کارولو او کافي ساتنې ډاډ ترلاسه شي. خدمتونه باید د تخنیکي لوړاوي او د ساحې د فزیکي او چاپیریالي ځانګړتیاوو، کلتوري عادتونو او نورمونو، او د زیانمنونکو کاروونکو ډلو د ځانګړو اړتیاو او لومړیتوبونو په اړه د سم پوهاوي په کارولو سره پلان، پلي او وڅارل شي. د ساحوي مدیریت اداره باید د قوي تخنیکي ملاتړ اړتیا ته په کمه سترګه ونه ګوري. د ساحوي مدیریت اداره او د خدمتونو وړاندې کوونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د پروګرام د اغېزناک ډیزاین، تخنیکي نظارت او څارنې لپاره د کافي مهارت لرونکي کارکوونکي موجود دي.

**د ساحې، ټولنې او هیواد په کچه او د دوی ترمنځ همغږي**




د ساحوي مدیریت اداري به له ساحې څخه بهر د همغږۍ په تنظیم کې کار وکړي. همغږي هم د ساحو ترمنځ، په سیمه ییزه او ملي کچه ترسره کیږي. د ساحوي مدیریت ټیم اساسي نقش د ساحو تر مینځ نه، بلکې په ساحه کې دننه همغږي ده، پرته له ساحه-محورو شرایطو څخه، چې هلته ښايي ټیم ګڼې ساحې پوښي. د ساحوي مدیریت اداره باید د ساحې د حالت په اړه د ملي همغږۍ میکانیزمونو ته هم راپور ورکړي.

د ساحې په کچه د خدمتونو وړاندې کوونکي به احتمالاً د پراخې همغږۍ په تنظیماتو کې هم کار کوي، شاید په ملي کچه او ممکن په سیمه ییزه کچه، د بیلګې په توګه، کلسترونه یا د موضوعي همغږۍ پلیټ فارم. دوی اړتیا لري چې د خپلو عملیاتو په اړه دې میکانیزمونو ته راپور ورکړي.

د همغږۍ د پروسې بریالیتوب د ملي چارواکو، د کمپ همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر/سکتور مشرتابه، د خدمتونو وړاندې کوونکو، د ساحې د خلکو او کوربه ټولنې په شمول، له مختلفو سهم لرونکو سره د شفافو او اغېزناکو شراکتونو رامنځته کول او ساتل دي.

⊗ د اصلي بشري معیارونو د ژمنتیا ۱، ۴ او ۶ ټروني.

## ۴.۱ معيار:
## د ساحې همغږي

خدمتونه همغږي شوي چې د ښځايه شويو او کوربه خلکو اړتياوې پوره کړي.

### کليدي کړنې

- په ټوله ساحه کې د ټولو فعاليتونو او مسلو لپاره د مسؤلې ادارې په توګه عمل وکړئ.
- د ټولو سهم لرونکو نقشه جوړه کړئ (څوک، څه، چیرته) او په هوکړه کولو کې مرسته وکړئ او په روښانه توګه وټاکئ چې دندې به د دوی ترمنځ څنګه ويشل کيږي.
- د اړوندو ملي او محلي چارواکو سره د اړيکو او همغږۍ چينلونه پرانيستي وساتئ.
- د کوربه نفوس سره ښې اړيکې ايجاد او وساتئ، د دوی ملاتړ وکړئ چې په ساحه کې په کار او فعاليتونو کې برخه واخلي.
- په منظمه توګه د ساحې په کچه سهم لرونکي راټول کړئ چې معلومات شريک کړي، انديښنې راټولې کړي، ډله ييزې پريکړې وکړي او ادارو ته تازه جزئيات ورکړي.
  - له ناستو پرته د معلوماتو شريکولو مختلفې لارې وکاروئ.
- د ساحې د ژوندانه دوران په اوږدو کې د خونديتوب او مرستې فعاليتونه او پايلې پلان، پلې او وڅارئ.
  - د مصؤنيت، خونديتوب او عزت معيارونه درک کړئ، د دې معيارونو په ټاکلو کې د نورو سکټورونو د نقش په پام کې نيولو سره.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې اساسي خدمتونه په ميشتځايونو کې په داسې طريقه ځای په ځای شوي دي چې ياد معيارونه تعقيبوي.
- د کاري پلانونو ، د لږترلږه معيارونو پوره کولو وړتيا او په ساحه کې بدلونونو ته د غبرګون ښودلو په اړه منظم تازه معلومات وړاندې کړئ.
  - له کلسټرونو يا سکټورونو، د خدمتونو وړاندې کوونکو او د ساحې له نفوس سره په مشوره د سکټوري لږترلږه کيفيت معيارونه تاسيس کړئ.
- اډووکيسي وکړئ چې پايښت لرونکې حل لارې د ساحې د خلکو لپاره په ټولو کړنو کې شاملې کړل شي.
- په عمومي ډول او د سکټوري همغږۍ ميکانيزمونو کې د ساحې د استازو او اداري جوړښتونو د شاملولو لپاره عدالت غوښتنه/اډووکيسي وکړئ.

### کليدي شاخصونه

- د همغږي په ناستو کې ټول سهم لرونکي يا د سهم لرونکو ډلې شاملې دي.
- د همغږۍ په ناستو کې د ب ځايه شويو او/يا کوربه ټولنې استازي شامل دي.
- د اجنډا د هغو ټکو ٪ چې د بېځايه شويو او/يا کوربه ټولنې له استازو سره په ګډه جوړ شوي دي.
- د غوښتې د عمل ټکې % چې په هوکړه شوي مهالوېش پرې عمل کيږي.

### لارښودنوټونه

1. همغږي د ناستو په معنی نه ده، که څه هم ناستې د پريکړې کولو لپاره ګټور ځای کيدلی شي. پرېکړه کوونکي بايد ناستو ته لاړ شي چې ستونزې په چټکۍ سره په ګوته او حل شي. د جلا کچې غونډې وخت نيوونکې وي، او

د همغږۍ موخه د پريکړې کولو ځنډول يا د مرستې بې اغيزې کول نه دي. اړينه نده چې په ټولو کچو کې د همغږۍ جوړښتونه تکرار شي.

2. د حساسو مسلو لپاره، د همغږۍ نور ډولونه ممکن ګټور او مناسب وي، لکه له همکارانو/شريکانو سره دوه اړخيزې ناستې. مهمه ده چې پوه شئ چې کومې مسلې بايد په خودمختاره توګه اداره شي.

3. په **غيرکمپي تنظيماتو کې**، د معلوماتو تبادله به د سيمه ييزو چارواکو په ګډون د پراخ شمېر سهم لرونکو ترمنځ وي. په دې شرايطو کې به د ساحوي مديريت ټيم نقش (د ښځاېه شوې او کوربه ټولنې) د غړو په ګډون د مختلفو سهم لرونکو په يوځای کولو او نښلولو سره د ساحې / سيمې په کچه د همغږۍ ملاتړ، او د اړيکو او همغږۍ ميکانيزم ايجادول/پياوړي کول وي.

⊗ د همغږۍ د وسيلو او ننګونو او همدا ډول د همغږۍ د چيک لست په اړه د کمپ مديريت کڅوړې په ۴ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د همغږۍ او څارنې د مرستې او د خدمتونو وړاندې کولو چيک لست د کمپ مديريت کڅوړې په ۲ څپرکي کې وګورئ.

**⊗ له کمپ څخه بهر ځايونو او د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مديريت د نړيول کلستر د ساحه-محورې تګلارې د کارې ډلې په اړه د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مديريت په ويبپاڼه کې ولولئ:**

***https://cccmcluster.org/global/Area-based-Approach-Working-Group***

**⊗ په همغږۍ کې د ښځو د نقش په اړه د کډوالو لپاره د ناروې پلاوي د کمپ مديريت تګلارو له لارې د ښځايه شوو ښځو او نجونو ښه ګډون او خونديتوب کې ولولئ.**

**⊗ د کمپونو مديران څنګه همغږي کوي، دلته په يوټيوب کې وګورئ:**

***www.youtube.com/watch?v= 7xlp6vmo_L0&feature=emb_logo***

## ۴.۲ معيار:
## د ساحې د خدمتونو ارزول، څارل او راپور ورکول

د ساحې د نفوس اړتياوې د تاسيس شويو سيستمونو له لارې څارل کيږي او راپور يې ورکول کيږي.

### کليدي کړنې

- پوه شئ چې ستاسو نفوس څوک دی او د هغوی اړتياوې او ظرفيتونه څه دي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د خدمتونو وړاندې کوونکي د تشو او اړتياوو په څارنه کې د ساحوي مديريت اداري له نقش څخه خبر دي.
- د ساحې د اداري جوړښت او د خدمتونو وړاندې کوونکو ترمنځ ارتباطي چينلونه ايجاد کړئ او ويې ساتئ.
- د ساحې پروفايلونو لپاره د ارزونې يوه همغږې او هوکړه شوې وسيله ايجاد يا چمتو کړئ.
  - د کلسترونو يا سکتورونو او د خدمتونو وړاندې کوونکو سره په مشوره سکتوري شاخصونه تنظيم کړئ.
- د نفوسو يا د ساحې په شرايطو کې د پام وړ بدلونونو وروسته پر اړتياوو او ظرفيتونو د پوهيدو لپاره ګډه، ګڼ سکتوري ارزونه ترسره کړئ.
  - د ساحې نفوس د څارنې خدمتونو کې شامل کړئ.
- په ټوله ساحه کې د خدمتونو د اړتياوو په اړه ډيټا راټوله او اداره کړئ.
  - د خدمتونو وړاندې کوونکو سره همغږي وکړئ چې ډاډ ترلاسه شي چې د مرستې او خدمتونو په وړاندې کولو کې تشې او تکراونه په ګوته شوې او ځواب شوې دي.

- پر انفرادي او د کورنۍ معلوماتو باندې د محرميت او د ډيټا خونديتوب پاليسۍ پلي کړئ.
- د سکټوري لړترلږه کيفيت معيارونه وګورئ.

- په ساحه کې د خدمتونو وړاندې کوونکو ترمنځ د امکان په صورت کې د ډيټا شريکولو د هوکړو ملاتړ وکړئ چې د کار د تکرار مخه ونيسئ.
- د ملي همغږۍ ميکانيزمونو ته د ساحې پر بنسټ معلوماتو فيډبيک ورکړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ساحې اوسيدونکي دقيقو معلوماتو ته منظم او پر وخت لاسرسی لري چې د بيرته راستنيدو ، ادغام يا بيا ميشته کيدو لپاره د دوی انفرادي او کورنۍ پريکړې رهبري کړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې معلومات په مناسبو ژبو او بڼو کې دي.
    - د ساحې له خلکو سره د بيرته راستنيدو، ادغام يا بيا ميشتيدنې احتمالي برخو کې د هرې ارزونې پايلې شريکې کړئ چې په خپلواکه توګه د غوراويو خونديتوب وټاکي.
    - د خدمتونو وړاندې کوونکو سره، د په ګوته شويو زيان منونکو خلکو لپاره کليدي پيغامونه چمتو کړئ چې د پروسې په اوږدو کې خدمتونو ته د دوامداره لاسرسي په اړه خبر شي.
    - معلوماتو ته، لږ تر لږه، د قانوني (خونديتوب)، روغتيا، ښوونې او روزنې، د اوبو رسولو او انرژۍ خدمتونو، د معيشت فرصتونو، بازارونو او مذهبي او کلتوري موسسو پورې تړاو ورکړئ.
    - د کورنۍ په کچه د ارادي منظمه سروې او د مشورې نور ډولونه ترسره کړئ چې وارزوي چې کورنۍ څنګه پريکړې کوي او دا چې آيا د دوی د غوره انتخابونو په وړاندې کوم خنډونه شته.
    - افواهات په چټکۍ سره درک او په نښه کړئ.
    - د ټولنې د ګډون ميکانيزمونو له لارې، د حل په انتخاب کې د ټولنې په کچه خوځښتونه وڅارئ، چې د هر ډول حرکت وخت او شرايط په کې شامل وي.

## کليدي شاخصونه

- د ساحې پر شاخصونو له همکارانو سره هوکړه شوې ده.
- د ساحې د پروفايلونو ٪ چې په هوکړه شوې مهالويش کې تازه شوي دي.
- د ساحې د نفوسو ٪ چې کولی شي د بيرته راستنيدو، ادغام يا بيا ميشتيدنې لپاره خپله باخبره غوښتنه څرګنده کړي.
- د ساحې د نفوس ٪ چې پر دې پوهيږي چې چيرته د دوامدارو حلونو د غوراويو په اړه معلوماتو ته لاسرسی ومومي

## لارښودنوټونه

1. د ساحوي مديريت اداري بايد په دې برخه کې مخکښ رول ولري چې په ساحه کې کوم معلومات راټوليږي ترڅو خبر شي او **د خلکو تشې، اړتياوې او ظرفيتونه** روښانه کړي. د ساحوي مديريت ادارو څخه د متوقعه پايلو راپور ورکول به په هر ډول شرايطو کې توپير ولري. لړترلږه، د ساحوي مديريت يوه اداره بايد پوه شي چې څوک د دوی په ساحه کې دي، د دوی د خلکو اړتياوې څه دي او کومې اداري ورته خدمت کوي. د ساحوي مديريت اداري هم بايد پوهې شي چې د جنسونو، عمر ګروپونو او نفوس ګروپونو ترمنځ توپير څنګه د دوی په تنظيماتو کې اغيزمن کيږي.
2. د ساحوي مديريت اداري **د فعاليتونو او لومړيتوب لرونکو تشو** په اړه سهم لرونکو ته د راپور چمتو کولو مسؤليت هم لري. دا په ځانګړې توګه پر غير رسمي ساحو يا ګرځنده تګلارو باندې صدق کوي چې ښايي د خدمتونو وړاندې کوونکو لخوا په مکرر ډول نه څارل کيږي.
3. د راجع کولو لارې ښايي د کليدي تخنيکي خدمتونو لپاره اړينې وي لکه روغتيا، امنيت، د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی، خونديتوب، د ماشومانو خونديتوب، د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي قرباني ماشومان او ورک شوي

کسان.

4. که چیرې معلومات د بل سهم لرونکي لخوا راټول او مستند شوي وي، د دې ډیټا حساسیت ته په کتلو سره، د ساحوي مدیریت اداري کارکوونکي باید د ډیټا راټولولو له ټیم سره یوځای شي. په دې اړه مخکینۍ هوکړې چې کوم معلومات به د چا لخوا راټولیږي مهمې دي ځکه چې دا د ساحې ټولنه د معلوماتو راټولولو له ستړیا څخه ساتي او د ورته معلوماتو د تکرار مخه نیسي. د نورو معلوماتو لپاره ۱.۴ معیار وګورئ.

5. **د تمرکز ډلې** کولی شي د مفصلو معلوماتو او ژور بصیرت زیرمه څرګنده کړي. که په ښه توګه اجرا شي، د تمرکز ډله د منښت وړ چاپیریال ایجادوي چې ګډونوال په اسانۍ سره دوی ته اجازه ورکوي چې ښه په ارام فکر سره پوښتنې په خپلو الفاظو کې ځواب کړي او د دوی ځوابونو ته معنی ورکړي. د تمرکزه یوه ښه ډله پلان جوړونې ته اړتیا لري.

6. د ساحې د خلکو سره د بیرته راستنیدو، ادغام یا بیا میشتیدنې په اړه د معلوماتو په شریکولو کې باید احتیاط وشي چې غیر واقعیتي توقعات راپورته نشي. په دغو ځایونو کې د هر ډول پراختیایي پروګرامونو په اړه د معلوماتو راټولول به ګټور وي. د حل لپاره پر غوښتنو پوهیدل او د افواهاتو په نښه کول به یو حساس کار وي.

7. که چیرې د خدمتونو منظمه څارنه ترسره شي، **ګڼ سکتوري ارزونو** ته به یوازې د نفوس یا د ساحې په شرایطو کې د پام وړ بدلون څخه وروسته اړتیا وي. د ساحوي مدیریت کارکوونکي باید د هرې پراخې ارزونې په پلان جوړونې کې دخیل وي چې د ادارو لخوا پرمخ وړل کیږي.

8. په **غیر کمپي تنظیماتو** کې هم، پورتني شرایط پلي کیږي. په هر حال، ډیر وخت ته اړتیا لري چې له سهم لرونکو سره هوکړه وشي چې کوم معلومات راټول کړي، ولې او څنګه.

ⓧ د ساحې د خدمتونو د څارنې په اړه نور د کمپ مدیریت کڅوړې په ۴ څپرکي کې ولولئ. همدا ډول د همغږۍ او څارنې مرستې او د خدمتونو وړاندې کولو چیک لست د کمپ مدیریت کڅوړې په ۲ څپرکي کې وګورئ.

**ⓧ د ساحې جوړښتونو، خدمتونو او فضا ته د ماشومانو د مساوي لاسرسي د ملاتړ لپاره د کلیدي کړنو په اړه د ماشومانو د خوندیتوب لپرلپه معیارونو، د کمپ مدیریت او ماشومانو خوندیتوب ۲۳ معیار کې ولولئ.**

**ⓧ همدا ډول ۲.۲ معیار: د ټولنې ګډون وګورئ.**

## ۴.۳ معیار:
## د راجع کولو لارې

اړتیا لرونکي خلک تخصصي خدمتونو وړاندې کوونکو ته راجع کیږي.

### کلیدي کړنې

- د ساحې نفوسو او ټولو سازمانونو لپاره پوهاوی وړاندې کړئ چې د روغتیا خدمتونو، جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي، د ماشومانو خوندیتوب او د خوندیتوب نورو خدمتونو لپاره د راجع کولو د مهمو لارو په برخه کې کار کوي.
- د خدمتونو وړاندې کوونکو تر مینځ تکرا کم کړئ او د راجع کولو د لارو په منظمولو کې مرسته وکړئ.
- د ساحوي مدیریت اداري کارکوونکو ته د راجع کولو د مهمو لارو په اړه روزنه ورکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې کارکوونکي پوهیږي چې څنګه په مناسبه او اخلاقي توګه خلکو ته د لاسرسي په اړه مشوره ورکړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د راجع کولو په اړه د تعقیب طرزالعملونه موجود دي، د بیلګې په توګه د راجع کولو ډیټابیس له لارې.
- د قضیې مدیریت هر ډول تازه شوي پروتوکولونه (لکه د ماشومانو خوندیتوب او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی) له ټولو اړوندو همکارانو سره شریک کړئ.
- د تخصصي خدمتونو یا د شرایطو د بدلون په حالت کې د ځانګړو خدمتونو د زیاتوالي لپاره عدالت غوښتنه وکړئ.

- د کیفیت لرونکو تخصصي خدمتونو لپاره عدالت غوښتنه وکړئ.

- د ټولنې د اداره کولو جوړښتونو یا استازو سره مرسته وکړئ چې څنګه مناسبه وي په راجع کولو کې کلیدي نقش ولوبوي (د اړونده روزنې تابع).
- د ځانې-راجع کولو لپاره سیستمونه ترویج کړئ.

کلیدي شاخصونه

- د راجع کولو لارې فعالې دي چې تضمین کړي چې هغه خلک چې تخصصي یا ځانګړي اړتیاوې لري مرستې او خوندیتوب ترلاسه کوي.

لارښودنوټونه

1. سره له دې چې د راجع کولو لارې د تخصصي ادارو لخوا وړاندې کیږي، **د ساحوي مدیریت یوه اداره** په ساحه کې د خپل دوامداره (یا منظم) شتون له لارې **مهم نقش** لري چې ټولنو ته په وخت سره د تخصصي خدمتونو په اړه معلومات خپاره کړي. د راجع کولو لارې ممکن د کلیدي تخنیکي خدمتونو لپاره اړینې وي لکه روغتیا، امنیت، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی، خوندیتوب، د ماشومانو خوندیتوب، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قرباني ماشومان او ورک شوي کسان.
2. د خطر عواملو په اړه چې زیانمنونکي ډلې، په ځانګړې توګه ښځې او نجونې ورسره مخ دي، او د دې خطرونو د لاملونو په اړه جامع پوهاوی د مخنیوي د اغېزناکو ګامونو لپاره اړین دي. د ساحوي مدیریت اداري د ساحې په کچه د کار کولو لپاره مسؤلې او حساب ورکوونکې دي، چې د اړوندو چارواکو او د خوندیتوب له فعالانو سره یوځای، په ساحې کې د ټولو خلکو ساتنه وکړي.
3. د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قربانیانو ته باید د دوی د انتخابونو، د شته خدمتونو او دې خدمتونو ته د لاسرسي د احتمالي مثبتو او منفي پایلو څخه په بشپړه توګه خبر ورکړل شي. د راجع کولو د موجوده لارو په اړه د خدمتونو وړاندې کوونکو پوهاوی کله کله ډیر ننګوونکی وي چې په ساحه کې محدود ظرفیت موجود وي. سازمان او مهم خدمتونه باید وهڅول شي چې په ساحه کې خدمتونه ولري نه دا چې یوازې د اداري بیرغ یا نښه د ساحې په دروازه کې ځای په ځای کړي او هیڅ فعالیت نه کوي. د سرچینو شریکول یا د دې ویل چې ستاسو اداره د ځواب ویلو وړتیا نلري، له دې غوره ده چې خدمتونه وړاندې نه کړئ.

**⊗ د سفیر د خوندیتوب ۳ اصل هم وګورئ.**

# خروج او انتقال

## ۵. خروج او انتقال

کله چې بشري وضعیت بدلیږي، د ډیری ساحو مدیریت به لږترلږه یو ځل د ساحې د ژوندانه په دوران کې له یوې اداري څخه بلې ته لیږدول کیږي. دا انتقال ښايي نړیوالو یا ملي نادولتي موسسو ته وي یا په ډیر احتمال ملي یا محلي چارواکو ته وي، چې ممکن د خپلو نورو دندو سربیره د ساحې د مدیریت دنده هم په غاړه واخلي. دا انتقال ښايي ډیر پراخ وي، چې د خدمتونو وړاندې کوونکي او نور سهم لرونکي اغیزمنوي. د ساحې نوي مدیر ته انتقال کې معمولا د ساحې بندول شامل نه وي، بلکې پرځای یې خدمتونو ته اړتیا وي چې خلکو ته د خوندیتوب او مرستې وړاندې کولو ته دوام ورکړي.

د ساحې تړل یا بندول، لکه د ساحې تنظیم او پلانول، په شرایطو پورې اړه لري. دا د مختلفو دلیلونو له مخې او په مختلفو لارو یا پړاوونو کې ترسره کیدی شي. په دې کې د منظم، داوطلبانه راستنیدو حرکتونو یا د بسپنه ورکوونکو د ملاتړ کمیدو  څخه اغیزمن پلان شویو او منظمو تړلو څخه نیولې،د طبیعي خطرونو، امنیتي ګواښونو یا حکومتي جبر له امله رامنځته شویو ناورینونو له امله تر ناڅاپي او غیرمنظمو تړلو پورې وي. په ځینو مواردو کې، سره له دې چې د مرستې او خدمتونو وړاندې کول پای ته رسیږي، خو پخپله ساحه، د زیربنا له منځه وړلو یا د ټولنې موقعیت په توګه د هغې د فعالیت له مخې، نه تړل کیږي. دا ښايي پخپله یو دایمي استوګنځای، ښارګوټی یا د اقتصادي یا ټولنیز فعالیت ځای شي. دا ممکن په ساده ډول خپل پخواني فعالیت ته هم راستون شي. جزیي یا بشپړه غیر پلان شوې تړنه چې اجباري راستنیدل هم په کې شامل وي د اغیزمنو خلکو د خوندیتوب تضمینولو لپاره د مدیریت فعالو او ستراتیژیکو میکانیزمونو ته اړتیا لري.

په هر ډول شرایطو کې، محتاطه پلان جوړونه او پراخه همغږي خورا مهمه ده او باید د ساحې د مدیریت ټیم لخوا د ملي چارواکو او نورو کلیدي سهم لرونکو، د ځمکې د قانوني مالکینو په شمول، په همکارۍ ترسره شي. په ګډه باید دوی ډاډ ترلاسه کړي چې ساحه او کوربه نفوس په بشپړ ډول په پروسه کې برخه اخلي. هغه ودانۍ چې د ټولیزو مرکزونو په توګه د لنډمهاله کارونې له امله تخریب شوي دي کولی شي پر محلي ټولنه منفي اغیز وکړي. د ساحې د تړلو په وخت کې د داسې شتمنیو نهایي تخریب، یا بیا رغونه او سپارل باید د پیل څخه، یا د امکان تر حده پورې له ښکیلو سهم لرونکو سره تعریف او هوکړه پرې وشي. د ساحې د تنظیم /لوړاوي او بندولو پلان له پیل څخه یو له بل سره تړاو لري.

د ساحوي مدیریت اداري او د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر همغږي کوونکي په ځانګړي مؤقف کې دي چې د دویمي بېځایه توب د پېښیدلو څارنه وکړي. دا ممکن هغه وخت پیښ شي چې کله د بیرته راستنیدو یا بیا میشتیدنې په سیمو کې شرایط د خوندي او باعزته راستنیدو لپاره مناسب نه وي. لاملونه یې کیدای شي په امنیت، د کور او د ژوند فرصتونو، بنسټیزو خدمتونو او ټولنیزې غچ اخیستنې پورې اړه ولري. په هغو ځایونو کې چې دا پیښیږي او د ساحوي مدیریت یوې اداري په بریالیتوب سره وضعیت څارلی وي، د هغو ننګونو په اړه چې بېځایه شوي خلک ورسره مخ دي، باید د ځایی یا مناسبو چارواکو سره مشوره وشي.

## ۵.۱ معیار:
## د ساحوي مدیریت نوي اداري او د ساحوي مدیریت نوي ټیم ته انتقال

د ساحې نفوس د ساحې مدیریت د انتقال په دوران کې مناسب او پر وخت ملاتړ او د خدمتونو ترلاسه کولو ته دوام ورکوي.

### کلیدي کړنې

- د ساحوي مدیریت د نوي اداري سره، د انتقال یا سپارلو پلان جوړ کړئ.
  - لړترلږه، دا پلان باید تضمین کړي چې په ساحه کې خدمت ته دوام ورکول کیږي. په دې پروسه کې د خدمتونو موجوده وړاندې کوونکي شامل کړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د زیربنا او تجهیزاتو سپارلو کې د کلیدي سرچینو، دندو او تخنیکي اړتیاوو توضیحات شامل دي.
  - د بیارغونې او تخریب اړتیاوې په کې شاملې کړئ.
- د سپارلو په پروسه کې د ساحې د استازیتوب موجوده جوړښتونه شامل کړئ.
- د ساحوي مدیریت له راتلونکو ادارو سره کار وکړئ چې د زیانمنونکو خلکو اړتیاوو ته د رسیدو لپاره د اندراج کاري پلان جوړ کړي، چې دوی د ساحې د سپارلو له امله د زیات خطر سره مخ نه کوي او خدمتونو ته د دوی بې خنډه لاسرسي تضمینوي.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې زیانمنونکي خلک او د دوی مراقبین په مناسب ډول د ساحوي مدیریت د نوي اداري او خدمتونو ته د دوی د دوامداره لاسرسي په اړه معلومات ترلاسه کوي.
- د ساحوي مدیریت له نوي اداري سره کار وکړئ چې ډاډ ترلاسه شي چې ظرفیت او تخصص یې کافي دي.
  - د ظرفیت په لوړولو کې باید ټولې سیمې شاملې وي مګر په ځانګړې توګه د ځمکې اجارې مسایل، د زیربناوو ساتنه او خوندیتوب او بشردوستانه اصول.
  - د ساحوي مدیریت له نوي اداري سره کار وکړئ، د بیلګې په توګه، د همکارو یا شریکو نقشونو، لارښوونې یا مشاهده کولو له لارې.
- د انتقال یا سپارلو پلان لنډیز د کوربه ټولنې او د ځایي چارواکو استازو سره شریک کړئ.

### کلیدي شاخصونه

- د ساحې د نفوس٪ چې د انتقال په دوره کې وړاندې شویو خدمتونو څخه راضي دي
- د ټولنې او همکارانو مشورې د انتقال یا سپارلو پلان جوړولو او شریکولو لپاره کارول کیږي.

### لارښودنوټونه

1. د ساحوي مدیریت راتلونکې اداري کیدای شي بشردوستانه سازمانونه، حکومتي چارواکي (سیمه ییزې یا ملي) یا ټولنیزې ډلې وي. مهمه ده چې د لوړ پوړو کارکوونکو او **نوي اداري د کارکوونکو** ظرفیت لوړ شي او د تخنیکي ملاتړ لپاره وخت ورکړل شي چې فعالیتونه او مشورې بشپړې کړي. په هغو سیمو کې چې ممکنه وي، د ساحوي مدیریت نوي اداره باید وهڅول شي چې اصلي کارکوونکي وساتي، چې د دې لپاره ګومارل کېږي چې په تجربې او اداري حافظې سره د خلکو لپاره د خدمتونو دوام تضمین کړي. د پلان شویو سپارلو لپاره، د ساحوي مدیریت د راتلونکې اداري ظرفیت او تخصص ډاډمن کیدی شي، او د اړتیا په صورت کې د ظرفیت پلانونه او فعالیتونه ځای پر ځای کیږي. د لا ګړندي سپارلو لپاره، د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر همغږي کوونکي او د

کلستر مشرتابه اداره ښايي د دې په تضمينولو کې نقش ولري چې د ظرفيت پلانونه د ساحوي مديريت راتلونکو ادارو ته روښانه شوي دي.

⊗ **۱.۳ معيار: د ساحوي مديريت اداره او د ساحوي مديريت د ټيم ظرفيت وګورئ**

## ۵.۲ معیار:
## پلان شوي ترل/بندول

د ساحې ترل په پلان شوي او مشورتي ډول ترسره کيږي، او د ساحې په هر ډول پاتې نفوس باندې يې اغيز کم شوی دی.

### کليدي کړنې

- د ساحې د ترلو پلانونو ته بيا کتنه وکړئ او د اوسنيو شرايطو سره سمون ورکړئ.
  - د مشورتي غونډو، د متمرکزو ډلو بحثونو يا د ادارې سروې ګانو پايلې وکاروئ چې د هر عمل لپاره معلومات برابر کړئ.
- که مناسبه او ممکنه وي، د بيرته راستنيدو، ادغام يا بيا ميشتيدنې ځايونو ته عملي ليدنې تنظيم کړئ.
- د ساحې د اوسيدونکو يو ليست ترتيب کړئ چې د انتقال لپاره چمتو وي، په ځانګړې توګه لويو کورنيو، د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو او د کورنيو ښځينه مشرانو ته پام وکړئ. د مناسب ټرانسپورټ لپاره عدالت غوښتنه وکړئ.
- د ساحې د ادارې جوړښتونه او مشرتابه د ترلو په پلان جوړولو او پلي کولو کې شامل کړئ.
- د زيانمنونکو خلکو لپاره د حل لارې ولټوئ چې د ټولنيز خونديتوب شبکې کې جذب شي چې کله د ساحې خدمتونه ناڅاپه کم شي يا بيرته واخيستل شي.
- د پلان په وړاندې د ساحې ترل وڅارئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د نظر او شکايتونو ميکانيزمونه د اغېزمنو شويو خلکو لپاره د لاسرسي وړ دي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د پاتې خلکو لپاره اقدامات شتون لري، چې ښايي د استوګنې يا په ساحه کې پاتې کيدو په وخت کې ځانګړو خدمتونو ته د لاسرسي اړتيا ولري، چې په کې د مناسبو کچو مرستې ته لاسرسی هم شامل دی.
- د ساحې د ترلو او انتقال په اړه د ټولنې د انګيرنو موندلو او مستند کولو لپاره موجوده اشتراکي تګلارې او وسيلې وکاروئ يا يې راخپلې کړئ.

### کليدي شاخصونه

- د خدمتونو وړاندې کوونکو سازمانونو ٪ چې د ترلو پلانونو لپاره نظرونه تائيدوي او وړاندې کوي. (هدف ٪۱۰۰)
- د فيډبيک او شکاياتو ميکانيزمونه د ترلو پروسې په اوږدو کې ساتل کيږي.
- د ترلو اړوند د خونديتوب او امنيت موضوعاتو ٪ چې راپور شوي او راجع شوي وي.

### لارښودنوټونه

1. د ساحې د تنظيم په خبر، د هرې ساحې ترل هم په شرايطو پورې اړه لري، او د ټولنې ښکيلتيا د ترلو د اسانه پروسې لپاره کليدي عنصر دی.
2. سره له دې چې د رسمي کمپونو ترل د حکومت مسؤليت دی، خو د خروج ملي تګلارې د يوې ادارې يا نهاد مسؤليت نه دی او د حکومت، ټولنې يا ادارې په مختلفو کچو کې د ګڼو سهم لرونکو ښکېلتيا ته اړتيا لري.

3. د بېځایه شویو خلکو کوربه ساحو ترل باید د بېځایه شوو خلکو د حرکت، د ځمکې د بیرته راګرځولو او نورو اداري موضوعاتو لپاره د حکومت له هر ډول پلانونو سره سمون ولري.

4. د کډوالو د کوربه ساحو ترلو کې به ملي حکومتونه دخیل وي چې له هیوادونو سره د بیرته راستنیدو یا بیا میشتیدنې قانوني تفاهم لیکونه لاسلیک کړي. دا تفاهم لیکونه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ چارو اداري، د پناه غوښتنې هیواد او د بېرته ګرځیدو یا بیامېشتیدو د منزل هیواد لخوا تنظیمېږي.

⊗ **۲.۲ معیارونه: د ټولنې ګډون، ۲.۳: له ټولنو سره د معلوماتو شریکول او ۲.۴: فیډبک او شکایتونه وګورئ**

⊗ **د ساحې د ترلو او همدا ډول د ترلو د چیک لست په اړه نور د کمپ مدیریت کڅوړې ۷ څپرکي کې ولولئ**

⊗ **د ساحې د ترلو په اړه نور د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر د کمپ ترلو لارښود کې ولولئ.**

## ۵.۳ معیار:
## ناپلان شوي ترل (جزیي یا کلي)

ناپلان شوي (جبري بیرته راستنیدل) او په ناخاپي ډول ترل اټکل کیږي او د ساحې پر نفوسو باندې یې اغیز اداره او کم شوی دی.

### کلیدي کړنې

- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ساحې اوسیدونکي اساسي خدمتونو ته لاسرسی لري.
  - د خدمتونو د انتقالولو یا بیا تنظیمولو لپاره د خدمتونو وړاندې کوونکو سره همغږي وکړئ.
  - د ساحې د خلکو په استازیتوب د خدمتونو ساتلو لپاره عدالت غوښتنه وکړئ.
- له ځایي او ملي چارواکو او نورو سهم لرونکو سره کار وکړئ چې د ساحې د ترل کیدلو له امله د اغیزمن شویو اوسیدونکو لپاره د استوګنې بدیل حلونه ومومي.
  - د تجهیزاتو او زیربناوو د انتقال ملاتړ وکړئ.
  - د ساحې د اوسیدونکو یو لیست ترتیب کړئ چې انتقالولو ته اړتیا لري ، په ځانګړي توګه د لویو کورنیو او د کورنیو شځینه مشراني په پام کې ونیسئ. د مناسب ټرانسپورټ لپاره عدالت غوښتنه وکړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د ځانګړو اړتیاو لرونکو خلکو لپاره د استوګنې ځای د دوی د اړتیاوو پوره کولو سره سم برابر شوی.
- د معلوماتو شریکولو له موجوده میکانیزمونو څخه کار واخلئ یا یې راخپل کړئ چې د ساحې نفوس او د خدمتونو وړاندې کوونکو ته خبرورکړي چې څه پیښیږي او ولې.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د اغیزمنو شویو خلکو لپاره د فیډبک او شکایتونو میکانیزمونه شتون لري.
- د ساحې د ترلو او انتقالولو په اړه د ټولنې د انګیرنو موندلو او مستند کولو لپاره له موجوده اشتراکي تګلارو او وسیلو څخه کار واخلئ یا یې راخپلې کړئ.

### کلیدي شاخصونه

- د ساحې د نفوسو ٪ چې د ساحې د ترلو یا انتقالولو پرمهال اساسي خدمتونو ته لاسرسی لري.
- د فیډبیک او شکایاتو میکانیزمونه د ترلو پروسې په اوږدو کې ساتل کیږي.
- د ترلو اړوند د خوندیتوب او امنیت موضوعاتو ٪ چې راپور شوي او راجع شوي دي.

لاربښودنوټونه

1. د طبیعي خطرونو له امله راپورته شوو ناورینونو او جګړو څخه رامنځته کېدونکی وضعیت اکثرا د اټکل وړ نه وي. خلک په ساحو کې له پیل شوي پلان څخه تر ډېرې اوږدې مودې پاتې کېږي. راتلونکې پېښې او مختلفې سناریوګانې باید د عملیاتو له پیل څخه اټکل شي. د ساحې، زیربنا او شتمنیو اغېزناک مدیریت باید د ارزونو پر بنسټ وي، چې د خروج وخت هم په کې شامل دی. احتیاطي پلان جوړونه باید د ساحې نفوس خوندي کړي.

2. په داسې حال کې چې د ساحې تړل او اصلي استوګنځای ته د بېځایه شویو خلکو جبري راستنیدل د منلو وړ ندي، د ساحوي مدیریت اداره باید ځواب ویلو ته چمتو وي. د ساحې تړل باید د ټولو بېځایه شویو خلکو لپاره د دوامدار حل له چوکاټ سره وصل شي.

**⊗ ۲.۱: د اداري جوړښتونه، ۲.۲: د ټولنې ګډون، ۲.۳: له ټولنو سره د معلوماتو شریکول او ۲.۴: فیډبک او شکایتونه وګورئ.**

**⊗ د ساحې د تړلو او همدا ډول د تړلو چیک لست د کمپ مدیریت کڅوړې په ۷ څپرکي کې ولولئ.**

**⊗ د ساحې تړلو په اړه نور د کمپ د همغږۍ او د کمپ د مدیریت کلستر د کمپ تړلو لارښود کې ولولئ.**

## ۵.۴ معیار:
## بیا احیاء او ورانول

د ساحې بیا احیاء د ځایي مقرراتو او چاپېريال اړتیاوو په پام کې نیولو سره د استوګن نفوس او کوربه ټولنو اړتیاوې پوره کوي.

کلیدي کړنې

- د ټولو خدمتونو وړاندې کوونکو، د ټولنې استازو او نورو سهم لرونکو سره مشوره وکړئ چې د بیااحیاء او ورانولو پلان چمتو کړي چې د تجهیزاتو، زیربناوو او د ځمکې او زیربناوو د بیااحیاء په اړه جزئیات په کې وي.
  - د ساحې د تنظیمولو په جریان کې، د زیربناوو او د ځمکې مدیریت غوراویو د راپورته کیدلو پر مهال، او د سایټ د تړلو مودې په جریان کې مشوره وکړئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د ساحې د خلکو لخوا کارول شوي د شخولو ځایونه په روښانه توګه په نښه شوي او د بیااحیاء او ورانولو په پلانونو کې شامل دي.
  - د هر ډول خطرناکو فاضله ځایونو د ورانولو لپاره د ځانګړو پروتوکولونو غوښتنه وکړئ لکه روغتیایی تاسیسات، کیمیاوي زېرمتونونه او مسلخونه.
  - د خدمتونو وړاندې کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د ټولو تشنابونو او د څځلو د مدیریت تاسیساتو لپاره د ورانولو پلانونه وړاندې کړي.
- د چاپېريال منفي اغیزې وارزوئ، کمې یې کړئ او ویې څارئ.
- د بیااحیاء او ورانولو پلان د کوربه او استوګنې ټولنې او ځایي حکومت سره شریک کړئ.
- د ساحې لومړني او نوې شوي پلانونه او د کوربه ټولنې هر ډول لومړني تړونونه وګورئ او د اشتراکي میکانیزمونو له لارې له ټولنې سره بیا لیدنې منظمې کړئ.
- د کوربه ټولنو او سیمه ییزو چارواکو سره هوکړه لیکونو ته بیاکتنه وکړئ چې د ځمکې او زیربناوو بیرته سپارلو لپاره اړین شرایط توضیح کوي.

## کلیدي شاخصونه

- د چاپیریال اندیښنې ارزول شوې، کمې شوې او څارل شوې دي.

## لارښودنوټونه

1. د ساحې تړل به د مختلفو ډولونو لوی مقدار ضایعات تولید کړي لکه د سرپناه توکي، تر شا پاتې شیان او د مختلفو ډولونو تخریب شوي توکي. کثافات لکه کیمیاوي توکي، بیټرۍ، وخت تېر شوي توکي او روغتیایي کثافات باید په سمه توګه له منځه یوړل شي. د سایټ د تړلو لپاره چمتووالی کې پاکول هم شامل دي، هغه که لرې کول یا په ساحه کې ښخول یا سوځول وي. د خاورې او اوبو د سرچینو د ککړتیا خطر باید جدي ونیول شي.
2. د چاپیریال بیا احیاء په دې معنی نه ده چې ساحه بیرته خپل پخواني حالت ته ستنه شي. حتی که امکان ولري، دا به ډېره ګرانه او وخت نیوونکې چاره وي. ممکن مناسبه وي چې معلومه کړئ چې کوربه ټولنه د ساحې د تړل کیدو وروسته د څه پېښیدلو تمه لري.

⊗ د چاپیریال اندېښنو په اړه د کمپ مدیریت کڅوړې ۶ څپرکی ولولئ. همدا ډول د تړلو چیک لسټ لپاره ۷ څپرکی وګورئ.

**⊗ د ساحې د ژوندانه دوران پلانول باید د ۳.۲ معیار مناسب چاپېریال، ۴.۱ د ساحې همغږي او ۵.۲ پلان شوي تړل، سره سم ترسره شي.**

⊗ لهمدا ډول د اوبو، حفظ الصحې او پاکوالي، سرپناه او مېشتځایونو او روغتیا د زېربناوو د ورانولو او بیااحیاء په اړه د لا ډېرو جزئیاتو لپاره د سفییر کتاب تخنیکي څپرکي وګورئ.

# ۱ ضمیمه – د معلولیت د شمولیت د څارنې چیک لست

# ۱ضمیمه - د معلولیت د شمولیت څارنې چیک لست

د ساحې ټولشمولیت څنګه څارل کیدی شي؟ دا چک لیست بشپړ نه دی او نه هم د اشتراکي تګلارو دځای نیولو لپاره دی مګر د ساحوي مدیرانو لخوا د بشپړوونکي وسیلې په توګه کارول کیدی شي چې د ساحې ټولشمولیت وارزوي، یا یې د یوې وسیلې په توګه د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د هر اړخیزې ستراتیژۍ د پراختیا ملاتړ لپاره وکاروي.

د شمولیت د څارنې لپاره، د جنس، عمر او معلولیت پر بنسټ د ډیټا تجزیه کول ډېر مهم دي. هرکله چې اړونده او د شته ارزونو، شننو او غبرګون ظرفیتونو دننه وي، د ساحوي مدیریت اداري هڅول کیږي چې په بشردوستانه شرایطو کې ازمایل شوي وسایل وکاروي، لکه د واشنګټن ګروپ د معلولیت پوښتنو لنډه ټولګه.

لاندې پوښتنې د کمپ مدیریت لپاره د لرتلرې معیارونو جوړښت تعقیبوي[1]. پوښتنې باید د شرایطو سره سمې وي او د مختلفو تنظیماتو پروګراماتیکو هدفونو سره سمون ورکول کیدی شي.

## د ساحې مدیریت ظرفیتونه او په ګوته کول

### د ساحې د ژوندانه دوران پلانول

- آیا د مختلفو ډولونو معلولیت لرونکي کسان د کاري پلان په جوړولو کې ښکیل ول؟
- آیا د ساحوي مدیریت کاري پلان د معلولیت لرونکو اشخاصو مختلفې اړتیاوې په پام کې نیسي؟ ایا په دې کې د هغو کسانو لپاره هدفي کړنې شاملې دي چې مناسب استوګنځي ته اړتیا لري؟
- آیا په کاري پلان کې ټولشموله بودیجه او مادي سرچینې په پام کې نیول شوي دي؟ د بېلګې په توګه، د لاسرسي او مناسبې استوګنې لپاره د بودیجې کرښه، چې د ډیزاین له پړاو څخه پیل شوې وي؛ او د اجناسو تدارکات چې د ډیزاین له نړیوالو اصولو سره سم وي.
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو اړتیاوې په بیړني حالت او د تخلیې په پلانونو کې شاملې شوې دي؟

### د ساحوي مدیریت د ټیم ظرفیت

- ایا د ساحوي مدیریت ټیم کې یو څوک د معلولیت د شمولیت د مسؤل په توګه ګمارل شوی؟
- آیا د ساحوي مدیریت په اداري کې معلولیت لرونکي نارینه یا ښځینه د کارکوونکو، رضاکارانو، د ټولنې د پوهاوي وړاندې کوونکو او داسې نورو په توګه کار کوي؟
- ایا معلولیت لرونکي کسان هڅول کیږي چې د ساحوي مدیریت د بستونو لپاره غوښتنلیکونه ورکړي؟ آیا د هغو معلولینو لپاره چې د ساحوي مدیریت ټیم کې کار کوي مناسب استوګنځي چمتو شوي؟

[1] د شمولیت-څانګړو معیارونو لپاره د عمر او معلولیت کنسورتیوم وګورئ. د زړو او معلولیت لرونکو کسانو لپاره د بشري شمولیت معیارونه، ۲۰۱۸ www.helpage.org/download/5a7ad49b81cf8

- ایا د ساحوي مدیریت ټیم د معلولیت د شمولیت په اړه روزنه ترلاسه کړې او آیا ټیم کولی شي د هر اړخیزې مرستې رسولو لپاره زده کړې پلي کړي؟ ایا د شمولیت په اړه تخنیکي مشورې د ساحوي مدیریت اداره کې یا د همکارانو له لارې د لاسرسي وړ دي؟
- آیا د اداري احاطه او پروسې مختلف ډوله معلولیت لرونکو اشخاصو ته د لاسرسي وړ دي؟

**په ګوته کول او د ډیټا خوندیتوب**

- آیا معلولیت لرونکي کسان د نوم لیکنې یا د ډیټا راټولولو د نورو میکانیزمونو له لارې په ګوته شوي دي؟
- ډیټا د جنس، عمر او معلولیت پر بنسټ تجزیه شوې ډیټا د مدیریت اداري ته د لاسرسي وړ ده؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو اړونده ډیټا د معلوماتو د مدیریت په دوره کې په مناسب ډول خوندي ده؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو څخه د اړتیا پر مهال د خبرتیا رضایت ترلاسه کیږي (یا شفاهي رضایت چې لیکلی رضایت نشي ورکول کیدی، لکه د ماشومانو او یا د فکري کمزورو کسانو لپاره)؛ او د منښت وړ طریقه باندې (د بیلګې په توګه د اسانه لوستل کیدونکو فورمو له لارې)؟

## د ټولنې ګډون او استازیتوب

**د ټولنې ګډون**

- آیا معلولیت لرونکي کسان د ساحوي مدیریت اداري لخوا ترتیب شویو اشتراکي میتودولوژیو کې شامل دي؟ ایا د دوی د ښکیلتیا ملاتړ لپاره بودیجه ځانګړې شوې ده؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان د پروژې د دوران په هر پړاو - ارزونه، پلان جوړونه، پلي کولو، ځارنه او ارزونه کې ښکیل دي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د لاسرسي متفاوت چینلونه شته چې د ساحوي مدیریت ټیم ته ورشي او خپل نظرونه او اندیښنې ورته وړاندې کړي؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان له هغه فرصتونو څخه راضي دي چې له لارې یې دوی د ساحې پریکړې اغیزمنولی شي؟
- آیا معلولیت لرونکي میرمنې احساس کوي چې د پریکړې کولو په بهیر کې د دوی نظرونه په پام کې نیول شوي دي؟

**د معلوماتو شریکول او اړیکې**

- آیا د مختلفو ډولونو معلولیت لرونکو اشخاصو سره د دوی د ارتباطي اړتیاوو او غوره توبونو په اړه مشوره شوې ده؟
- آیا کلیدي معلومات، تعلیمي او ارتباطي مواد په ساحه کې په مختلفو بڼو او وسیلو کې وړاندې شوي دي (لکه ستر چاپ، اسانه لوستل کیدونکي او له لفاظۍ خالي، انځورونه، د اشارو ژبه، شفاهي، راډیو، ویډیو، متنې پیغامونه)؟
- آیا معلومات د لاسرسي وړ ګڼو ځایونو کې خپاره شوي دي (لکه د معلوماتو په میزونو، د توزیع ځایونو، خوندي فضاګانو او روغتیايي تاسیساتو کې؛ د ساحې د کمیټې د غونډو او د متمرکزو ډلو په دوران کې؛ د کور په کور لیدنو او د ټولنې د پوهاوي ماموریتونو له لارې)؟

- آیا څارنه د دې لپاره تنظیم شوې ده چې تضمین کړي چې مختلف ډوله معلولیت لرونکي کسان په کې شامل دي او د ساحې د ژوندانه دوران په اړه کلیدي معلوماتو، ټولو موجودو خدمتونو او مرستې، او همدا ډول د دوی اړوندو ټولو ځانګړو خدمتونو ته لاسرسی لري؟

## فیډبک او شکایتونه

- آیا فیډبیک او شکایتونه د مختلفو چینلونو (لکه شفاهي، لیکلي، الکترونیکي، کاغذي، بکسونو، د مرستې میزونو، هاټ لاینونو) له لارې د لاسرسي وړ لارو او ځایونو څخه راټولیدی شي؟
- ایا د فیډبیک او شکایتونو میکانیزمونه د هغو خلکو لپاره د لاسرسي وړ دي چې په خپلو سرپناوو کې پاتې کیږي؟
- کله چې کړنې ترسره کېږي او بیرته یې راپور ورکول کېږي، ایا د لاسرسي وړتیا هم په پام کې نیول کیږي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لخوا د فیډبیک او شکایتونو میکانیزمونو کارولو د څارنې لپاره کومه لاره شته (د بیلګې په توګه، ایا د واشنګټن ګروپ د لنډو پوښتنو د ټولګې په کارولو سره د جنسیت، عمر او معلولیت له مخې ډیټا تجزیه شوې ده)؟
- آیا د معلولیت ځانګړي شکایتونه هم د دې میکانیزمونو له لارې راټولیدی شي – د بیلګې په توګه د لاسرسي، نامناسب استوګنځي یا د مناسب مناسب استوګنځي (د انکار) په اړه ؟ ایا ځوابونه په وخت، د لاسرسي وړ او د پوهې وړ طریقو سره وړاندې شوي دي؟
- ایا د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي میکانیزمونه د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي؟

## اداري جوړښتونه

- آیا په ساحه یا شاوخوا ټولنو کې د معلولیت لرونکو اشخاصو فعال سازمانونه، د ځاني-ملاتړ ګروپونه یا د ټولنې د معلولینو کمیټې شته؟ که هو، ایا دوی په خپله تنوع (جنس، عمر، توکم، معلولیت) کې د ساحې د نفوسو استازیتوب کوي؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان او/یا د دوی استازې اداري د ساحې په اداري جوړښتونو یا ډلو کې دخیل دي؟ آیا دوی معنی لرونکی نقش لوبوي؟ آیا شکیل اشخاص/ اداري د جنس، عمر، توکم او معلولیت له اړخه د وګړو استازې دي؟ ایا معلولیت لرونکي کسان احساس کوي چې د ساحې په اداري جوړښت کې د دوی استازیتوب شوی دی؟
- آیا د معلولیت لرونکو کسانو د ګډون پر وړاندې خنډونه په ګوته شوي؟ ایا معلولیت لرونکي کسان د دوی په ګوته کولو کې شامل شوي دي؟ ایا د خنډونو او توانمندۍ ارزونه په منظم ډول ترسره کیږي؟
- آیا د "زیان نه رسولو" اصل په پام کې نیولو سره، د معلولیت لرونکو اشخاصو د ګډون او د هغوی پر ژوند باندې د احتمالي اغیزو او د دوی د لیدلورو په اړه د خطر ارزونه ترسره شوې ده؟ ایا د خطر ارزونې په منظم ډول ترسره کیږي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو، د دوی د کورنیو او د معلولیت لرونکو اشخاصو ادارو لپاره د ساحوي مدیریت ادارو یا همکارانو لخوا روزنیز پروګرامونه تنظیم شوي چې د دوی معنی لرونکی ګډون او انعطاف زیات کړي؟

## د ساحې چاپېریال

### خوندي او امن چاپېریال

- آیا په ساحه کې مشاهده یي او د خوندیتوب پلټنې په منظمه توګه ترسره کیږي، چې د هغو خطرونو په پام کې نیولو سره فزیکي زیربناوې او د تولنې چلند وارزوي، چې معلولیت لرونکي نارینه، ښځې، هلکان او نجونې ورسره مخ کیدلی شي؟ ایا د په ګوته شویو خطرونو د کمولو لپاره کومه تګلاره شتون لري؟
- آیا د خوندیتوب په کمیټو کې د معلولیت لرونکو کسانو استازیتوب شوی دی؟
- آیا د ساحې نفوس ته د خطرونو د رسولو لپاره د معلوماتو چینلونه د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي (په مختلفو بڼو کې، په ګڼو ځایونو کې)؟
- د ساحې د تنظیمولو او لوړاوي په جریان کې، ایا د ډیزاین نړیوالو اصولو د پلي کولو او د ډیرو خلکو لپاره ساحې او زیربناوو ته د لاسرسي تضمینولو لپاره کوم تدابیر نیول شوي دي؟ ایا دوی دا شیان په پام کې نیولي لکه لارې، سرپناه ته لاسرسی، د څښاک اوبه، د ویش ځایونه، ټولنیزې سیمې، ښوونځی او د روغتیا پاملرنې اسانتیاوې؟ ایا دوی د موجوده معلولیتونو(لکه فزیکي، رواني ټولنیزو او فکري، او حسي نیمګړتیاوو) لړی په پام کې نیولې ده؟
- آیا د معلولیت لرونکو کسانو، د دوی له کورنۍ او مراقبینو سره د ساحې د ژوندانه په دوران د دوی د اړتیاوو، خنډونو او له ساحې څخه د دوی د توقعاتو په اړه مشوره شوې ده؟ د بېلګې په توګه، عمومي تنظیم، زیربنا، سرپناه، د څښاک اوبو اسانتیاوو ته لاسرسی، د ویش ځایونه، د روغتیا پاملرنې اسانتیاوې، ښوونځی او ټولنیزې سیمې.
- د لاسرسي او شمولیت په اړه ملي قوانین، نورمونه او معیارونه په پام کې نیول شوي او رعایت شوي دي؟
- آیا معلولینو او د هغوی کورنیو ته د اسانتیاوو، خدمتونو او مرستو ته د لاسرسي له اړخه د استوګنې مناسب ځای برابر شوی دی؟
- آیا د مناسبې استوګنې او د ساحې د ښه والي لپاره بودیجه په پام کې نیول شوې ده چې د هغو خنډونو په اړه لاس په کار شي چې معلولیت لرونکي کسان ورسره مخ دي؟
- آیا د لاسرسي پلټنې په منظمه توګه ترسره کیږي چې د ناستو د ځایونو په شمول، د ساحې د یوې برخې یا ټول چاپیریال ارزونه وکړي؟
- آیا اړینو خدمتونو او اسانتیاوو ته د منلو وړ فاصله او ټرانسپورټ د معلولیت لرونکو کسانو لپاره په پام کې نیول شوي دي؟
- آیا معلولیت لرونکي ماشومان زده کړو ته لاس رسی لري؟ آیا نور معلولیت لرونکي کسان او د هغوی کورنۍ د زده کړې او معیشت فرصتونو ته لاس رسی لري؟

## د ساحې د خدمت همغږي او څارنه

### د ساحې همغږي

- آیا په ساحه یا ټولنو کې پر معلولیت متمرکزې اداري شتون لري (د بیلګې په توګه تخصصي نادولتي موسسې یا خدمتونه چې د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره ځانګړې شوي وي، د معلولیت لرونکو اشخاصو اداري)؟
- ایا نور مسلکي کسان شته چې د ساحې په کچه د شمولیت د هڅو ملاتړ وکړي، د بیلګې په توګه، د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ، خوندیتوب، د ماشومانو خوندیتوب، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي د مخنیوي کارکوونکي؟
- آیا اړونده خدمتونه او سهم لرونکي په ګوته شوي، نقشه شوي او ښکیل شوي دي؟

- آیا شمولیت د ساحې د همغږۍ د ناستې په اجنډا کې یوه منظمه موضوع ده؟
- کله چې د معلولیت کاري ډله (یا د عمر او معلولیت ډله) په هیواد کې فعاله شي، ایا د ساحوي مدیریت ټیم د کاري ډلې په ناستو کې ګډون کوي؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان او د معلولینو کمیټې په جمعي پریکړو کې دخیل دي، چې په کې د ساحې په کچه د سهم لرونکو د ناستو له لارې ښکېلیدل هم شامل دي؟ آیا د همغږۍ ناستې د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان د سکتوري لړ تر لړه کیفیت معیارونو په اړه پریکړه کولو کې ښکیل دي؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان د ساحې د ژوندانه دوران کې د خوندیتوب او مرستې فعالیتونو او پایلو په پلې کولو او څارنه کې شامل دي؟
- آیا د پایښت لرونکو حلونو په لټه کې د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره عدالت غوښتنه ترسره شوې ده؟

### د ساحې د خدمتونو ارزول، څارل او راپور ورکول

- آیا د ساحې پروفایلونه او د ارزونې وسایل ټولشموله دي (د بیلګې په توګه، د معلولیت لرونکو اشخاصو په ګوته کول، د جنس، عمر او معلولیت له مخې تجزیه شوې ډیټا سره؛ د خطرونو، خنډونو او اړتیاوو په ګوته کول)؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان د خدمتونو په څارنه او ګڼ سکتوري ارزونو کې دخیل دي او ورسره مشوره کیږي؟ ایا د ساحوي مدیریت اداري لخوا کاریدونکو د سروې او څارنې وسیلو کې د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره ځانګړې پوښتنې شته؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان معلوماتو ته د پام وړ لاس رسی لري چې د بیرته راستنیدو، ادغام یا بیا میشتیدنې په اړه د دوی پریکړې رهنمایي کړي؟ ایا د خدمت دوام د پروسې په اوږدو کې د لاسرسي وړ دی؟ ایا د تصمیم نیولو په وړاندې خنډونه په ګوته شوي دي؟

### د راجع کولو لارې

- آیا معلولیت لرونکي کسان د روغتیایی خدمتونو، جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي، د ماشومانو خوندیتوب او نورو د خوندیتوب او تخصصي خدمتونو لپاره د راجع کولو له مهمو لارو څخه خبر دي؟ ایا معلومات په مختلفو بڼو او د لاسرسي وړ ګڼو چینلونو له لارې رسول شوي دي؟
- ایا د ساحوي مدیریت کارکوونکي د راجع کولو له مهمو (او د لاسرسي وړ) لارو څخه خبر دي او ایا دوی پوهیږي چې څنګه په مناسبه او اخلاقي توګه د معلولیت لرونکو اشخاصو او د هغوی د کورنیو په شمول، خلکو ته مشوره ورکړي چې څنګه ورته لاسرسی ولرلی شي؟
- آیا د راجع کولو په اړه تعقیبي طرزالعملونه شته؟
- آیا د قضیې مدیریت پروتوکولونه د اړتیا سره سم له همکارانو سره شریک شوي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د باکیفیته تخصصي خدمتونو عدالت غوښتنه ترسره شوې ده؟
- آیا د معلولیت کمیټې په راجع کولو کې نقش لوبوي؟

## خروج او انتقال

### د ساحوي مدیریت نوې ادارې/نهاد ته انتقال

- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د خدمتونو دوام د انتقال یا سپارلو په پلان کې شامل شوی دی؟
- آیا معلولیت لرونکي کسان او د هغوی مراقبین په پروسه کې شامل شوي او د انتقال د پلانونو په اړه ورته معنی لرونکي معلوماتو ورکړل شوي دي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو او د هغوی د کورنیو اړتیاوې او غوښتنې په ګوته شوې دي چې دوی د ساحې د سپارلو له امله له زیات خطر سره مخ نشي؟ ایا خدمتونو ته د دوی لاسرسی خوندي شوی دی؟
- آیا د ساحوي مدیریت نوې اداري ته د معلولیت د شمولیت کړنو په اړه روزنه ورکړل شوې ده؟ ایا د دوی وړتیا او تخصص کافي دي؟

### تړل

- آیا د معلولیت لرونکو کسانو سره د ناستو، د متمرکزو ډلو یا نورو وسیلو له لارې د ساحې د تړلو پلانونو په اړه مشوره شوې ده؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره مناسبې لیدنې تنظیم شوې دي؟
- آیا د کورنیو او مراقبینو څخه د جلا کیدو د خطر مخنیوي په شمول، د مناسب ټرانسپورټ او ملاتړ ترتیبات نیول شوي دي؟
- آیا د ټولنیز خوندیتوب له اړخه د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره احتیاطي پلانونه په پام کې نیول شوي دي که چېرته خدمتونه ناڅاپه کم یا بیرته واخیستل شي؟
- آیا د فیډبیک او شکایتونو میکانیزمونه اوس هم شته او د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د لاسرسي وړ دي؟
- آیا د معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره چې د استوګن نفوس یوه برخه ده، مرستندویه تدابیر موجود دي، د بیلګې په توګه په ساحه کې د پاتې کیدو په وخت کې ځانګړو خدمتونو لاسرسی، چې د ځاني-مرستې له ډلو سره مرسته وکړي؟
- کله چې د ساحې تړل ناپلان شوي وي، ایا معلولیت لرونکي کسان په دې اړه خبر شوي چې څه پیښیږي او ولې، آیا د دوی لړترلړه اړتیاوې په پام کې نیول شوي دي (د بیلګې په توګه، اساسي خدمتونو، ټرانسپورټ او استوګنې ته لاسرسی)؟

# مأخذونه


- په بشردوستانه کړنو کې د ماشومانو د خوندیتوب ائتلاف، په بشردوستانه کړنو کې د ماشومانو د خوندیتوب لږترلږه معیارونه: ۲۰۱۹ نسخه، ۲۰۲۰.
https://alliancecpha.org/en/CPMS_home
- ALNAP. د بشردوستانه ساحوي کارکونکو لپاره د ګډون لاسي کتاب،۲۰۰۹.
www.alnap.org/help-library/participation-handbook-for-humanitarian-field-workers
- برتانوي سره صلیب. د ټولنې د ښکیلتیا مرکز.
https://communityengagementhub.org
- د نغدي زده کړې مشارکت (CaLP)، په بیړني حالت کې د بازار تحلیل لږترلږه اړتیاوې، ۲۰۱۳.
www.calpnetwork.org/wp-content/uploads/2013/07/minimum-requirements-for-market-analysis-in-emergencies.pdf
- د کمپ همغږۍ او د کمپ مدیریت (CCCM) نړیوال کلستر. د کمپ د تړلو لارښوونې، ۲۰۱۴.
https://cccmcluster.org/resources/camp-closure-guidelines
- د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت نړیوال کلستر. د CCCM د قضیې څېړنو ۱ جلد، ۲۰۱۴.
https://cccmcluster.org/resources/cccm-case-studies-vol-1
- د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت نړیوال کلستر. ښاري بې ځایه توب او د کمپ څخه بهر: د میز بیاکتنه، ۲۰۱۴.
https://cccmcluster.org/resources/urban-displacement-out-camps-review-udoc
- د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت نړیوال کلستر. د CCCM د قضیې څېړنو ۲ جلد، ۲۰۱۶.
https://cccmcluster.org/resources/cccm-case-studies-vol-2
- د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت نړیوال کلستر. د CCCM د قضیې څېړنو ۳ جلد، ۲۰۱۹.
https://cccmcluster.org/resources/cccm-case-studies-2016-2019-chapter-3
- د کمپ د همغږۍ او د کمپ مدیریت نړیوال کلستر. د ګرځنده / ساحې پر بنسټ تګلارې له طریقه د ټولیزو تنظیماتو مدیریت او همغږي: کاري رساله، ۲۰۱۹.
https://cccmcluster.org/resources/management-and-coordination-collective-settings-through-mobile-approach-working-paper
- د خوندیتوب د نړیوال کلستر کاري ډله. د داخلي بېځایه شویو کسانو د خوندیتوب کتاب، ۲۰۱۰.
www.globalprotectioncluster.org/_assets/files/news_and_publications/IDP_Handbook_EN.pdf
- د بشردوستانه معیارونو مشارکت. د زړو خلکو او معلولیت لرونکو خلکو لپاره د بشردوستانه شمولیت معیارونه. د کلیدي شمولیت معیارونه ۴، ۵ او ۶، ۲۰۱۸.
https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/Humanitarian_ inclusion_standards_for_older_people_and_people_with_disabi.pdf

- OCHA. د داخلي بېځایه کیدو لارښود اصول، ۲۰۰۴.
https://reliefweb.int/report/world/guiding-principles-internal-displacement-2004

- بین الاداري دائمي کمېټه (IASC). د IASC شپږ اساسي اصول،
https://psea.interagencystandingcommittee.org/update/iasc-six-core-principles

- بین الاداري دائمي کمېټه. ستراتیژي: د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې او جنسي ځورونې څخه خوندیتوب او ځواب، ۲۰۱۸
https://interagencystandingcommittee.org/iasc-champion-protection-sexual-exploitation-and-abuse-and-sexual-harassment/strategy-protection

- بین الاداري دائمي کمېټه او د نړیوال خوندیتوب کلستر. په بشردوستانه کړنو کې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د اقداماتو د ادغام لپاره لارښوونې: د خطر کمول، مقاومت لوړول او په بیا رغیدنه کې مرسته کول، ۲۰۱۵.
https://interagencystandingcommittee.org/working-group/iasc-guidelines-integrating-gender-based-violence-interventions-humanitarian-action

- آی سي آر سي، په بشردوستانه معیارونو کې د ډیټا د خوندیتوب کتاب، ۲۰۲۰.
www.icrc.org/en/data-protection-humanitarian-action-handbook

- د کډوالی نړیواله اداره، کډوالو لپاره د ناروی پلاوی (NRC) او د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره (UNHCR). د کمپ مدیریت کڅوړه.
https://cccmcluster.org/resources/camp-management-toolkit

- کډوالو لپاره د ناروی پلاوی. پایښت لرونکي میشتځایونه: د بشري بېځایه توب په تنظیماتو کې د ټولنیزو، چاپیریالي او اقتصادي لاسته راوړنو اعظمي کول، ۲۰۱۷.
https://reliefweb.int/report/world/sustainable-settlements-maximising-social-environmental-and-economic-gains-humanitarian

- کډوالو لپاره د ناروی پلاوی. د ټولنې د همغږۍ ټولبکس، ۲۰۲۰.
https://cct.nrc.no

- کډوالو لپاره د ناروی پلاوی. د کمپ د مدیریت تګلارو له طریقه د بېځایه شویو ښځو او نجونو د ګډون او خوندیتوب لوړاوی، ۲۰۲۰.
www.nrc.no/resources/reports/improving-participation-and-protection-of-displaced-women-and-girls-through-camp-management-approaches

- د بهرنۍ پراختیا انستیتیوټ. اوږدمهاله بېځایه توب: په جلاوطنۍ کې د ځان بسیاینې لپاره ناڅرګندې لارې، ۲۰۱۵.
www.odi.org/publications/9906-protracted-displacement-uncertain-paths-self-reliance-exile

- اکسفام جي بي. په بیړنیو حالتونو کې د اغیزې اندازه کول او حساب ورکول: ښه کافي لارښود، ۲۰۰۷.
https://policy-practice.oxfam.org.uk/publications/impact-measurement-and-accountability-in-emergencies-the-good-enough-guide-115510

- د SEEP شبکه. د لرترلږه اقتصادي بیا رغونې معیارونه (دریمه نسخه)، ۲۰۱۷.
https://seepnetwork.org/Blog-Post/Minimum-Economic-Recovery-Standards-Third-Edition-exist-190

- د سفییر ټولنه. د سفییر کتاب (څلورمه نسخه)، ۲۰۱۸.
https://spherestandards.org/wp-content/uploads/Sphere-Handbook-2018-EN.pdf

- د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره. د داخلي بېځايه شويو کسانو د خونديتوب کتاب، ۲۰۱۰.
www.unhcr.org/uk/protection/idps/4c2355229/handbook-protection-internally-displaced-persons.html

- د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره، د کډوالۍ نړيواله اداره. د ټوليز مرکز لارښووني، ۲۰۱۰.
https://reliefweb.int/report/world/collective-centre-guidelines

- ملګري ملتونه. د معلوليت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسيون، ۲۰۰۶.
www.un.org/development/desa/disabilities/convention-on-the-rights-of-persons-with-disabilities.html

- د ملګرو ملتونو د امنيت شورا. د شخړو اړوند جنسي تاوتريخوالی: د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور.
www.un.org/sexualviolenceinconflict/wp-content/uploads/2019/04/report/s-2019-280/Annual-report-2018.pdf

- ښځې په بېځايه توب کې.
https://womenindisplacement.org

# لنډیزونه

| | | |
|---|---|---|
| CHS | Core Humanitarian Standards | اصلي بشري معیارونه |
| GBV | Gender-based violence | د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی |
| IASC | Inter-Agency Standing Committee | بین الاداري دائمي کمیټه |
| IOM | International Organization for Migration | د کډوالۍ نړیواله اداره |
| NGO | Non-government organisation | نادولتي مؤسسه |
| POLR | Provider of last resort (cluster) | د وروستي حل وړاندې کوونکی (کلستر) |
| PSEA | Preventing sexual exploitation and abuse | د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی |
| SEA | Sexual exploitation and abuse | جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنه |
| SMA | Site management agency | د ساحوي مدیریت اداره |
| UNHCR | UN Refugee Agency | د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره |
| WASH | Water, sanitation and hygiene (sector) | د اوبو، پاکوالي او حفظ الصحې (سکتور) |

# نوملړ

| اصطلاح | د کمپ مدیریت کڅوړه | د کمپ مدیریت کې لړترلړه معیارونه |
|---|---|---|
| لنډیزونه | | 68 |
| حساب ورکول | 10, 14, 15, 20–22, 24–27, 30, 32, 34, 39, 46, 47, 60–63, 65, 66, 73, 75, 77, 96, 109, 118, 121, 127, 132, 138, 141, 186, 187, 189, 190, 192, 195, 196, 203, 213, 226 | vii, 4, 13, 15, 19, 24, 31, 31, 43 |
| د ساحې پر بنسټ تګلاره | 18 | 5, 7, 8, 26, 39, 40, 43 |
| ارزونه | 18, 38, 42, 47, 52, 54, 56, 63, 64, 66, 73, 236, 242, 247 | 25, 27, 35, 39, 46, 48, 55 |
| – د کمپ تړل | 109, 114, 115 | |
| – د کمپ تنظیمول | 101, 102, 104, 107 | |
| – شوونه او روزنه | 121, 258, 259, 263, 268, 270 | |
| – چاپېریال | 84, 86, 87, 89, 91, 92 | |
| – د خوړو مصؤنیت | 186, 189, 193, 196, 197 | |
| – د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی | 146–148, 150, 153 | |
| – د ډلې کچه | 140 | |
| – روغتیا | 237, 238, 239, 251, 254, 255 | |
| – معیشیت | 275–277, 279–281 | |

| | | |
|---|---|---|
| - اړتیاوې | 22, 23, 68, 74–76, 79 | |
| - ګډون | 27, 49, 50, 51, 57 | |
| - **د پروګرام دوره** | 38 | |
| - خوندیتوب | 42, 123, 125, 126, | 16 |
| PWSN - | 156, 157, 161–164, 166 | |
| - نوملیکنه | 131–133, 139 | |
| - **خطر** | | 16 |
| - د CMA نقش | 23, 24 | |
| - خوندیتوب او امنیت | 57, 171–173, 176, 180, 183 | 35 |
| - د سرپناه ګڼ خطرونه | 223, 229, 230 | |
| - **د ساحې پلان** | 104 | |
| - روڼتیا | 57 | |
| - اوبه، پاکوالی او حفظ الصحه | 202–204, 215 | |
| **د کمپ د مدیریت کڅوړه** | | iii, 17, 19, 19, 22, 33, 27, 31, 37, 41, 45, 48, 54, 55, 57 |
| **چیک لست** | | |
| - د ټولنې ګډون | 42, 57 | |
| - همغږي | 68 | |
| - د مرستې او خدمتونو همغږي او څارنه | 42 | |

| | | |
|---|---|---|
| - **د معلوماتو خپرول** | 43 | |
| - د کمپ د زېربناوو د ساتنې تضمينول | 42 | |
| - چاپېريال | 91 | |
| - شموليت | | |
| - **د معلوماتو مديريت** | 80 | |
| - د معلوماتو اداره کول | 43 | |
| - د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې مخنيوی | 33 | |
| - د کارکوونکو ګومارل، روزل او څارل | 42 | |
| - **خونديتوب او امنيت** | 183 | |
| - د اداره کولو او د ټولنې د ګډون کولو د ميکانيزمونو تنظيمول | 42 | |
| - د ساحې ترل | 115 | |
| - د ساحې تنظيمول | 115 | |
| **ټوليز مرکزونه** | 9, 16–18, 31, 36, 61, 65, 84, 85, 97, 99, 100, 102, 103, 108, 119, 120, 147–149, 221–227, 230, 231, 258, 265, 270 | 4, 5, 6, 10, 17, 32, 27, 38, 41, 51, 65 |
| **د ټولنې ګډون** | 10, 11, 22, 36, 42, 45–58, 64, 131, 149, 172, 176, 211, 213, 224, 258, 260, 270 | 4, 13, 19, 24, 31, 32, 25, 27, 35, 37, 38, 47 |

| | | |
|---|---|---|
| 16, 36, 64 | 20, 22, 31, 34, 41, 43, 134, 171, 172, 175–178, 180, 183, 192, 222, 232, 248, 255, 260, 261, 270 | **احتیاطي پلانونه** |
| | 9, 15, 16, 20–22, 26, 27, 38, 41–43, 97, 241 | **همغږي** |
| | 50, 51, 55, 56 | - **د کمپ کمېټې** |
| | 14, 15, 30, 31, 33, 60–68, 72–77, 80, 85 | - د کمپ مدیریت اداره |
| | 107, 109, 111, 115 | - د کمپ تړل |
| | 23, 24 | - د کلستر همغږي |
| | 249 | - **د نس ناستي ناروغي** |
| | 258, 260–262, 267, 270 | - ښوونه او روزنه |
| | 132 | - د استحقاق کارتونه |
| | 189 | - د خوړو مصؤنیت |
| | 187, 188, 196 | - **خوراکي/غیرخوراکي توکي** |
| | 236–239, 246, 248, 250, 252, 254, 255 | - روغتیا |
| | 23 | - د بېځایه شوو خلکو د کمپ اداره |
| | 24 | - د کمپ دننه |
| | 164 | - **همجنسبازان** |
| | 274, 275, 279, 280 | - معیشیت |
| | 33, 38, 42 | - ناستې |

| | | |
|---|---|---|
| | | – ملي |
| | 78, 172 | ***OCHA*** – |
| | 121–123, 126, 127, 156–159, 164, 165 | – خونديتوب |
| | | – د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخيستنې مخنيوی |
| | 88 | – د باران اوبه |
| | 22 | – **د کېږوالو ماډل** |
| | 130, 132, 133, 138 | – نوملیکنه |
| | 170–172, 174, 180 | – خونديتوب |
| | | – سکتوري |
| | 34 | – **امنيت وړاندې کوونکي** |
| | 220–222, 224, 227, 229, 232 | – سرپناه |
| | | – ساحه |
| | 146, 148, 149, 151, 152 | – د ساحې پلانولو او د جنسيت پر بنسټ تاوتریخوالی |
| | 32, 52, | – **روزنه** |
| | 35 | UN-CIMIC – |
| | 87, 88, 202–204, 207, 214, 215 | – اوبه، پاکوالی او حفظ الصحه |
| 8 | | **اصلي بشري معيارونه** |
| 35, 44 | | – مناسب والی او تړاو |

| | | |
|---|---|---|
| - اړیکې، ګډون او فیډبک | | 25 |
| - د شکایتونو میکانیزم | | 25 |
| - **همغږي او بشپړول** | | 44 |
| - اغېزناکتیا او مهالویش څارل | | 14 |
| - ځایي ظرفیتونه او منفي اغېزې | | 25 |
| - د کارکوونکو ملاتړ او چلند | | 25 |
| **پایښت لرونکې حل لارې** | 14, 19–23, 31, 43, 47, 51, 64, 77, 96, 107, 108, 110, 111, 115, 126, 131, 224, 237 | 4, 10, 44, 47 |
| **د تخلیې بېړني مرکزونه** | 9, 17, 18, 20, 64, 147, 222 | 7, 15, 32 |
| **فیډبک او شکایتونه** | 14, 26, 27, 46, 47 | |
| د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی | | 14 |
| **اداري جوړښتونه** | 37, 47, 49, 64, 76 | iv, 24, 31, 32, 33, 26, 35, 36, 49, 53, 61 |
| **حکومت** | 9, 17, 22, 24, 26, 37–39, 61, 97, 105, 107, 109, 111, 118, 120, 122, 131, 132, 137, 171, 180, 238, 244, 263, 265, 268, 269, 277 | iii, 4, 13, 14, 15, 19, 21, 31, 51, 54 |
| - محلي | 36, 51, 62, 97, 109, 246 | 13, 18, 26, 52, 56 |
| - ملي | | 4, 35, 52, 54 |
| **د داخلي بېځایه شویو د خوندیتوب کتاب** | | iii |

| | | |
|---|---|---|
| **کوربه ټولنه** | 10, 14, 18, 23–25, 31, 32, 34, 38, 47, 48, 50, 53, 55–58, 60–62, 65, 72, 75, 76, 84–87, 89–92, 96, 97, 99, 101, 102, 105–107, 111, 114–115, 119, 126, 137, 141, 146, 151, 158, 160, 163, 164, 170, 172–174, 177, 181, 183, 188, 197, 203, 204, 206, 211, 215, 220, 221, 223, 224, 226, 232, 246, 253, 254, 260, 262–267, 274–281 | vi, 5, 8, 13, 15, 16, 17, 31, 31, 26, 27, 28, 30, 35, 38, 39, 40, 44, 45, 51, 52, 56, 57 |
| **د بشردوستۍ منشور** | 164, 203 | vii, 8, 9 |
| **بشردوستانه اصول** | 14–15, 24, 32, 35, 50, 63, 181 | 8, 19 |
| **د بشردوستانه معیارونو مشارکت** | | iii |
| **غیرسمي ساحې، خپلسري کمپونه وګورئ** | | |
| **ځايي چارواکي** | | 4, 8, 15, 16, 19, 35, 38, 39, 44, 45, 51, 52, 62 |
| **لرترلره معیارونه** | 15, 84, 101, 121, 141, 237 | iii, iv, vi, vii, vii, 11 |
| - د ماشومانو خوندیتوب | 121 | |
| - ښوونه او روزنه | 258–260, 266, 269, 270 | |
| - د معلوماتو شریکول او د ډیټا خوندیتوب | | 27 |
| - همجنسبازان | 164 | |
| - سکتوري | | 44, 46 |
| - سرپناه | 221, 224 | |

| | | |
|---|---|---|
| **ګرځنده ټیمونه**، د ساحې پر بنسټ تګلاره وګورئ | 17, 30, 36, 77, 85, 136, 175, 223 | 7, 15, 27, 39, 41, 47, 65 |
| **څارنه** | 22, 25, 32–34, 39, 42, 46–50, 52, 54, 56, 57, 61–64, 66, 72, 107, 111, 115, 118, 121–123, 130–132, 134, 139–141, 144, 145, 147, 148, 151, 153, 159, 178, 180, 183, 186–189, 194, 197, 202–204, 209, 213–215, 220, 221, 227, 229, 232, 237, 247, 258–261, 263, 264, 269, 270, 278, 279, 281 | 16, 25, 44, 46, 47 |
| - د مرستې او خدمتونو وړاندې کول | 24, 30, 118, 156, 157, 162 | 45, 48 |
| - د ټولنې ګډون | 27, 48, 134 | 38 |
| - شکایتونه او فیډبک | | 29 |
| - ډیټا | 22, 74, 77, 80, 161, 166, 221 | 20 |
| - د چاپېریال اغېزې | 84–87, 90, 91, 277 | 56 |
| - اداره کول | 26, 30 | 31, 25 |
| - د نفوسو ګڼوالی | 140 | 36 |
| - خوندیتوب او امنیت | 125–127 | 36 |
| - دویمي بېځایه توب | | 51 |
| - د ساحې کاري پلان | | 17, 25 |
| - د ساحې تړل | | 53 |
| **د وروستي حل انتخاب** | 9, 14, 41, 77, 96, 119 | 4 |

| | | |
|---|---|---|
| د ځانګړو اړتیاوو لرونکي خلک | 23, 32, 34, 36, 38, 39, 42, 43, 46, 47, 49, 57, 61, 64, 68, 75, 80, 104, 107, 111, 112, 115, 123, 130, 134, 136, 138, 155–167, 172, 173, 186, 188, 191, 193, 195–198, 205, 214, 215, 224, 226, 232, 236, 239, 243, 244, 253–255, 270, 275–277, 280, 281 | 26, 29, 36, 38, 39, 55 |
| پلان شوي کمپونه | | 5 |
| پلان جوړونه، د ساحې پلانول | 88, 96–98, 103–106, 115, 149, 196, 203, 210, 215, 221, 223, 230, 231 | 38 |
| د خوندیتوب اصول | | 8, 9, 13, 19 |
| د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی | 33, 42, 152, 193 | 14, 18, 19, 19, 29 |
| د استقبال او انتقال مرکزونه | 9, 17, 18, 139, 240 | 6 |
| انتقال | 23, 91, 97, 98, 102, 109, 119, 159, 177, 178, 180, 230, 275 | 36, 37, 53, 55 |
| د خوندیتوب پلټنې | 144, 148 | 36 |
| د خوندیتوب پلان | | 35 |
| خپلسري کمپونه | 18, 96–98, 115, 221, 243 | 4, 6, 26, 39, 41, 47 |
| د خدمتونو وړاندې کوونکي | 14, 22, 24–27, 31, 33, 34, 37, 38, 42, 43, 47,49, 50–53, 55–58, 60–62, 64–66, 72, 74, 77–80, 85, 90, 109, 111, 114, 115, 119, 122, 127, 132, 133, 147, 149, 152, 157, 159, 180, 186, 187–189, 192, 194, 195, 197, 198, 204, 207, 208, 221, 249, 277 | 4, 13, 16, 18, 31, 25, 26, 27, 28, 35, 36, 37, 38, 39, 43, 44, 46, 48, 49, 51, 52, 54, 56 |

| | | |
|---|---|---|
| - ښوونه او روزنه | 258–261, 263, 264, 267, 269, 270 | |
| - مالي چارې | 186, 187, 189 | |
| - روغتيا | 163, 209, 236–238, 244, 248, 253, 255, 256, 262 | |
| - اوبه، پاکوالی او حفظ الصحه | 87, 202–211, 214, 215 | |
| **د ساحې ټړل** | 10, 14, 19–22, 27, 31, 41, 43, 46, 84, 96, 97, 107, 111, 113–115, 119, 156, 157, 203, 222, 224, 237, 260 | 51, 53, 55, 56 |
| - ښوونه او روزنه | 263 | |
| - روغتيا | 254 | |
| **د ساحې د پراختيا کمېټه** | 101, 103, 107, 115 | 37, 39 |
| **د ساحې د مديريت کاري پلان** | | 15, 16, 17 |
| **د ساحوي مديريت ټيم** | 21, 21, 24, 38, 43, 45, 51, 52, 53 | 13, 14, 15, 16, 17, 17, |
| **د سفيير لارښود** | 195 | iii, vii, 9, 19, 31, 40, 41, 49, 57 |
| **د بېړني حالت لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري لارښود** | 9, 85, 203, 224 | |